بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** تجارتي محاسبه

**څانګه:** بانکداري، محاسبه او د تجارت اقتصاد

**مولف:** ماري يوسفزۍ حميدي

ژباړن: قاري محمد حليم

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنيکي او مسلکي زده کړو معين
- ديپلوم انجنير عبدالله کوزابې د تعليمي نصاب رييس
- محمد اشرف وحدت په تعليمي نصاب کې د معينيت د مقام سلاکار

**د تصحيح کمېټه:**

- روح الله عزتمل
- عبدالجميل ممتاز

**د ګرافيک او ډيزاين څانګې مسئول:** محمد جان عليرضايي

**ګرافيک او ډيزاين:** عبدالله شاهي

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمريز کال

**تيراژ:** ۶۰۰۰

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښناليک:** info@dmtvet.gov.af

**د ISBN کډ:** ۹۷۸-۹۹۳۶-۳۰-۰۸۹-۷



Ketabton.com

د چاپ حق د تخنيکي او مسلکي زده کړو له معينيت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کیږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک



| څپرکي | سرلیکونه | مخ |
|---|---|---|
| لومړی | د محاسبې معلوماتي سیستم | ۱ |
| دویم | د امتعې یا مالونو حساب | ۹ |
| دریم | د فرسایش ډولونه Deprecidation | ۴۷ |
| څلورم | تعدیلي یا تصفیوي معاملې Adjusting Entries | ۶۵ |
| پنځم | د ګټې او زیان حساب | ۹۶ |
| شپږم | بیلانس شیټ | ۱۱۰ |
| | سرچینې او اخځلیکونه | ۱۲۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

له پخوا وختونو څخه د معاملو د ثبت او ریکارډ په موخه د حساب ورکونې یو پرمختللي سیستم ته اړتیا ده، ترڅو خلک وکولای شي خپلې معاملې په پرمختللي سیستم سره ثبت او ریکارډ کړي.

د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره بیلابیلې لارې چارې په کار واچول شوې، خو د مالي موسسو او لویو تصدیو په پرمختګ سره د محاسبې سیستم (Double Entry system) له همغه لومړي وخت څخه د اهمیت وړ وه.

دغه نوي او پرمختللي سیستم د ځانګړو ګټو او د تجارتي فعالیتونو او پروګرامونو او په دې اړه د هراړخیزو معلوماتو په لرلو سره وکولای شول، لازمې لارښوونې رامنځته کړي.

په پایله کې ویلای شو د نوي او پرمختللي تجارت بریالیتوب، د منظمې محاسبې او د محاسبوي دفترونو Book keeping پورې اړه تړاو لري.

له Book keeping یا حسابي دفترونو څخه موخه داده چې د محاسبې په سیستم کې تجارتي معاملې په سیستماتیک او منطقي ډول راوړل شي، څو هر سوداګر په خپله دوره کې ښې پایلې لاسته راوړلی شي.

تجارتي محاسبه چې د محاسبې د اصلي او اساسي څانګو څخه ده، د تجارت د ژبې په توګه د خاصو میتودونو او وسایلو لکه د ګټې اوزیان او بیلانس شیټ په وړاندې کولو سره توانیدلې چې د تصدۍ سیالیت او مالي توازن وساتي.

د دې ځانګړې ماهیت په دې کې دی چې د فعالیتونو جریان چې د عوایدو او لګښتونو د رامنځته کیدو لامل ګرځي د عددونو او ارقامو شکل دا ښیي، چې په پایله کې د تصدۍ د ټولو تجارتي فعالیتونو د کنټرول لامل ګرځي.

د تجارتي محاسبې دغه درسي کتاب چې د تجارتي تصدیو د معاملاتو د ثبت میتودونه او پایلې تر تحلیل او ارزیابۍ لاندې نیولې دی په لومړۍ برخه کې د معلوماتي محاسبې د سیستم د اهمیت او په تجارتي محاسبه کې اساسي مفاهیم توضیح او په اړه یې لازم مطالب وړاندې شوي دي. دوهم د هغو حسابونو په اړه پکې لازم معلومات وړاندې شوي دي، چې د امتعې یا توکو په حسابونو کې فوق العاده ونډه لري، دریم د ثابتې او متحرکې شتمنۍ د فرسایشاتو او په محاسبه کې د هغو د ثبت د میتودونو په اړه لازم معلومات وړاندې شوي دي، څلورم د هغو تعدیلي او تصفیوي معاملاتو په اړه د مثالونو په وړاندې کولو سره لازم توضیحات ورکړل شوي چې د بیلانس شیټ د جوړولو پر مهال تعدیلات پکې ضروري او لازمي دي او پنځم د مفاد او ضرر حساب پکې د نتیجوي حساب په توګه تحلیل او ارزول شوی او دغه راز د بیلانس شیټ وروستۍ برخه چې د تجارتي تصدیو د مالي موقف د اوضاع په تحلیل کې اساسي نقش لری، لازم توضیحات ورکړل شوي دي.

سره له دې چې د دغې رسالې د مطالبو په را ټولولو کې لازمې هڅې او تحقیقات ترسره شوي، څو ګران محصلین له هغو ګټه واخلي، مګر بیا به هم له نواقصو او اشتباهاتو نه خالي نه وي، زه هیله منه یم چې درانه لوستونکي او پوهان به په خپلو نېکو نظریاتو او رغنده نیوکو سره د دغه درسي کتاب په تصحیح او غنامندۍ کې له ما سره همکاري او مرسته وکړي.

په درناوي

**ماري یوسفزۍ حمیدي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب ټولیزه موخه:**

د محاسبې معلوماتي سیستم، د امتعې او همدارنګه د ګټې او زیان، د فرسایش ډولونو، د تعدیلي معاملو او بیلانس شیټ په اړه معلومات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د محاسبې معلوماتي سیستم

**ټولیزه موخه:**

د تجارتي محاسبې اساسي مفاهیم او په معلوماتي سیستم پوهېدل.

**د زدکړې موخې:** محصلین به د دې څپرکي ترپایه وتوانیږي چې:

- د محاسبې د معلوماتي سیستم په توضیح او تعریف وپوهیږي.
- د محاسبې د معلوماتي سیستم په دندو وپوهیږي.
- د محاسبې په  اساسي مفاهیمو او اصطلاحاتو وپوهیږي.

### د محاسبې معلوماتي سیستم

د را ټولونې سیستم او د معاملاتي ارقامو پروسس او د اړونده ډلو لپاره د مالي معلوماتو خپرول، د محاسبې د معلوماتي سیستم په نوم یادیږي. دا سیستم په تصدیو کې یو له بل سره فرق لري.

هغه لاملونه چې پردې سیستم باندې اغېزه کوي او شکل یې ټاکي، البته د تصدي د ځانګړتیاوو او هغــو معاملاتــو پورې چې تصــدي یې ترسره کوي، اړه لري. لکه د تصــدي غټ والی او د هغو معاملو اندازه چې تصدي ورڅخه ګټه اخلي او هغه معلوماتي منابع چې د تصدۍ یوه اداره او نور کسان ورته په خپل سیستم کې ځای ورکوي.

یو ښه معلوماتي محاسبوي سیستم د یوې تصدي له ادارې سره مرسته کوي، څو لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱.له تصدۍ څخه دباندنیو وګړو څومره ملکیت او شتمني ده؟

۲.څو ډوله پورونه وجود لري او ولې نه دي تصفیه شوي؟

۳.آیا د پلورنې کچه د پخوانۍ دورې په پرتله زیاته شوې؟

٤.تصدي کوم ډول شتنمي په واک کې لري؟

٥.د نقلیه وسایلو وتل او ننوتل څه ډول دي؟

٦.آیا په تیره دوره کې کومه داسې د قناعت وړ ګټه په لاس راغلې اوکه نه؟

۷.آیا کومه تولیدي څانګه په ضرر کار کوي یاپه راتلونکي کې د ضرر سره مخ کیدای شي؟

۸.آیا کولای شو چې د مفاد (ګټې) په هغې کچه کې چې ونډه والو ته ویشل کیږي زیاتوالي راولو؟

۹.آیا له سوچه (خالصې) شتمنۍ (شخصي پانګه ) څخه ګټه مخ په زیاتوالي ده اوکه نه؟

۱۰. آیا په راتلونکي کې تصدي دسیالیت له ګواښ سره مخ ده اوکه نه؟

۱۱. آیا دتصدي شتمني په مناسب ډول ویشل شوې او که نه؟

په همدي ترتیب ډیرو پوښتنو ته ځواب ورکول کیږي، خو پدې شرط چې د معلوماتي محاسبې یو ښــه او اغیزمن سیستم شــتون ولري. ترڅو له مختلفو سرچینو څخه اعداد او ارقام را ټول کړي او بیایــي ارزونــه تحلیل او نتیجه ګیري کړي. ځکه د ســوداګریزو نهادونو او تصدیو لپاره د عامه پوهاوي معلوماتو ترلاسه کول او ښه سلوک ګټور دی.

په همدې ترتیب یوه تصدي هغه وخت دیوه منظم اوســټندرډ معلوماتي سیستم درلودونکې ګڼل کیږي، چې کله دا سیســتم د محاســبوي پرنســیپونو ( اصول ، قواعد ، او محاسبوی مقرراتو ) پر اســاس باندې ولاړ اوبرابر وي او هم داســې تهیه اوترتیب شي، تر څو وکولای شي د ډول ډول پوښتنو له دایرې څخه په بریالۍ بڼه راووځي.

نو بناً د محاسبې هغه سټنډرډ او منل شوي پرنسیپونه د هر محاسب لپاره دتصدۍ اهدافو ته د رسیدو په موخه په خاص ډول د معلوماتي محاسبوي سیستم د تصحیح او ترتیب لپاره یو اړین او لازمي کار دی.

## د تجارتي محاسبې اساسي اصطلاحات اومفاهیم

## IMPORTANT TERMS FAINANCICAL ACCOOUNTING

راتلونکي مفاهیم اواصطلاحات لاندې عمده اواساسي موضوعات په محاسبه کې بیانوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱.د حســاب تعریف (ACCOUNT):** حســاب عبارت دی له لنډ ریــکارډ او د وګړو، تصدیو موسســاتو او ســوداګریزو معاملاتو له تثبیت څخه، کوم چې د بېلابېلــو ډولونو لرونکی دی. لکه د شــتمنۍ حســابونه، د شــتمنۍ پورونه اوهغه لګښــتونه  چې هریو یې له یادو شــوو مختلفو ســوداګریزو معاملو چې د یوې اړوندې څانګې، فعالیت په یوې تصدي او یا په یوه موسســه کې روښانه کوي، بیانوي.

**یا په بل عبارت:** حساب یو منظم او سیستماتیک ترتیب دی چې د معاملاتو او واقعاتو تایید له شتمنیو څخه په یوه شتمنۍ یادوي.  شتمني په یوه ډول سره ښیي چې د هر یوه لپاره بېلابېل حسابونه شتون لري.

**۲.د حسابونو ډولونه  kinds of account:** حساب بېلابېلو څانګړتیاوو او موخو ته په کتو سره په مختلفو بڼو ویشل کیږي؛ خو په عام شکل بیا په لاندې دوو ډولونو ویشل کیږي:

**الف:  دایمي حسابونو (بیلانسي):** له هغو حسابونو څخه عبارت دي، چې یوازې د یوې ټاکلې دورې لپــاره نه ، بلکې د هغــې پاتې برخې له مالي دورې څخه بلې مالي دورې ته انتقال مومي او همداسې د حقیقي حسابونو په نامه هم یادیږي. لکه د کسې شتمني او داسې نور.

**ب:  اســمي (موقتي) حســابونه:** له هغو حســابونو څخه عبارت دي چې د مالي کال په پای کې یې پاتې حسابونه، دایمي حسابونو ته ولیږدول شي او همداراز پاتې برخه یې په مستقل ډول مالي دورې ته نه لیږدول کیږي. لکه د تهیه کولو د مخارجو حساب، شخصي حساب او داسې نور.

**۳.د پیرودلو مســتردي (Sales return):** د پیرودلو مســترد کول  له هغو اخیستل شویو مالونو څخه دي، چې دځینو مختلفو لاملونو لکه  دجنسیت اوکیفیت دخرابۍ یا د اخیستونکي د قناعت د نه قناعت له امله بیرته پلورونکي ته ورکول کیږي او مســتردیږي، چې د پیرودلو د مســتردۍ په نوم یادیږي.

دا معامله د نغدي یا قرضي معاملې په صورت کې رامنځته کیدای شي.

**۴.د پلورل شــوي څیز مســتردول ( بیرته ورکول (fales return):** د تصدۍ دځنیو پلورل شوو مالونو او اجناســو څخه عبارت ده. چې دمختلفو لاملونو لکه دجنســیت خرابۍ او یا نورو لاملونو له امله بیرته ګرځي. چې دپلورل شوي څیز د بیرته ورکولو په نامه یادیږي. نوموړې معامله هم د پیرودلو د مستردۍ په څېر د نغدې یاد پور معاملې په صورت کې رامنځته کیدای شي.

۱. **تخفیــف (discount):** تخفیف د پلورونکي لخوا نه اخیســتونکي ته د مالونو د قیمت له کمښت څخه عبارت دی، چې د لاندې شرایطو په اساس تجارتي تخفیف په پام کې نیول کیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کله چې اخیستونکی پخوانۍ سابقه ولري.
- کله چې د پلورلو حجم لوړ وي.
- د تاریخي ورځو رانږدې کېدل او د کال په موسم کې بدلون.
- له ټاکلې مودې مخکې پر وخت او پیسو ته د پلورونکي اړتیا.

**۲.د تخفیف ډولونه:**

**الف: نقدی تخفیف:** هرډول تخفیف د پور ورکونکي په ذریعه پور اخیستونکی ته، خو په دې شرط چې پور اخیســتونکی خپل پور ترټاکلي وخت وړاندې ادا کړي، چې په دې وخت کې نغدي تخفیف رامنځته کیږي.

**ب: تجارتي تخفیف ( Trade discount):** د پخواني اخیستونکي یا د معاملې لرونکي لپاره په قیمت شوي لېست کې هر ډول کموالی، سوداګریز تخفیف نومول کیږي.

**۳. اخیستنه (drowing):** د تصدۍ د څښتن په واسطه له تصدۍ څخه د نغدو پیسو یا اجناسو لاســته راوړل ، چې په نتیجه کې د تصدۍ په شــتمنۍ کې د کمښــت لامل ګرځي. د تصدۍ دغه برداشت دتصدۍ دڅښتن دشخصي اړتیاوو د پرمخ وړلو لپاره وي، چې باید په یوه بېل حساب کې دشخصي برداشت حساب په نامه ثبت شي.

**۴. نقــل او اندراج ( pasting ):** د معاملاتو انتقــال او اندراج د ژورنال له کتاب څخه د لیجر کتاب ته د posting په نامه یادیږي.

**۵. کمیشن: (commission):** یوه اندازه پیسې یا اجوره چې په سوداګریزو چارو کې د ترسره شوو خدماتو په مقابل کې یوشخص یا موسسې ته ورکول کیږي ، د کمیشن په نوم یادیږي.

**۶.فرسایشــات (Delneciation):** فرسایشات د ثابتو شــتمنیو د لګښتونو د توزیع پروسه ده چې په یو منظم او منطقي ډول د دغو شتنمیو په اقتصادي عمر ویشل کیږي.

**۷.د ګدام موجودي (Gnunetony skor):** عبارت له هغې امتعې (سامان) څخه ده چې په لاس کې وي او پلورل شــوې نه وي، همدا راز د تصدي په ګدام کې شــتون ولري. چې هغه د (Gnunetony skor) په نوم یادیږي.

**۸.انفرادي تصــدي (SOLE PROPRIWTORSHIP):** عبارت له هغې تصدي څخه ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څښتن او پانګه وال يې يو کس وي. چې اداره، رهبري، ګټه او ضرر يې هم په ده پورې اړه ولري.

**۹. تضامنـــي شرکـت (CORPORATION):** هر کله چې مالکيت په دوه يا زياتو وګړو پورې اړه ولري، تضامني شرکت دی. معمولاً د بانک ګډونوال تر زياتې اندازې پورې لس کسان او په نورو ټولو ځانګو کې شل کسان وي.

**۱۰. ســهامي شرکت (CORPORATION COMPANY):** دتصدي هغه لوی ډول دی، چې پانګه په برخو ويشل کيږي او ډير سهم لرونکي په کي ګډون کوي.

**۱۱. ســند (VOUCHER):** هغه تحريري پاڼې دي چې يوه معامله پکې روښــانه کيږي. مثلاً هرکله چې تصدي يوه اندازه قرطاسيه واخلي نو له پلورونکي څخه يو بيل تر لاسه کوي.

**۱۲. پانګــه اچونه (INVESTMENT):** هغــه معامله ده چې د مالکانو په واســطه رامنځته کيږي، چې په مستقيم ډول د مالک پانګه زياتوي. يعنی يوه نوې پانګه پکار اچوي.

**۱۳. د انــډول (تعديــل) درج (ADJUST):** دکال د پــای درجول دي، ترڅو حســابونو د نويو بدلونونو سره سم عيار شي او يا تازه شي.

**۱۴. معامله:** معامله عبارت له هغه عمل څخه دی چې د دوو کســانو په منځ ې د شــيانو او اجناســو د پيرودلو او د خدمتونو په مقصد ترسره کيږي. ســوداګريزی معاملې په عام ډول په دوه برخو ويشل کيږي.

١. نغدي معاملې:

٢. کريديتي معاملې:

کلــه چې نغدې پيســې د راکړې ورکړې له امله ادا يا محصــول شي، نودا نغدي معامله نومول کيږي او کله چې دنغدو پيســو ورکړه وځنډيــږي، نودې معاملې ته کريديتي معامله ويل کيږي، چې په لويو سوداګريزو تصديو کې دا ډول دود زيات دی.

**۱۵. اصلاح شــوې معاملي (Adjusting entries):** داهغه معاملې دي چې دحســابي دورې په پای کې د محاسبوي ترلاسه شوو بنسټونو پر بنا رامنځته کيږي او ټولو حسابونوته دحاضرې زمانې په نســبت ورکولو سره تړلې کيږي اوله هغه وروســته کولای شو چې يو سم او دقيق مالي بيلانس شيټ چمتو کړو.

مثلا په اوســنۍ دوره کې د دوو راتلونکو مياشــتو کرايه د پيشکي (اډوانس) په توګه ورکول د شــتمني حســاب په توګه ثبت او بدل کيږي او د دې دوو مياشتو له تيريدو څخه وروسته اړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

حساب یعنې دکرایي خارج ته لیږدول کیږي.

**۱۶.مالي حسابونه یا مالي بیان (financial statement ):** هغه حساب دی چې د محاسبوي اعــدادو او ارقامــو د را ټولونې جدول بندي او وروســتی لنډیز پکې ترسره کیږي. مالي حســاب په څلور ډوله دی.

۱- بیلانس شیټ.

۲- د ګټې او ضرر حساب.

۳- نغدي حساب.

٤- د ناویشلې ګټې حساب.

**۱.بیلانس شــیټ:** هغه ډول صورت حســاب دي چې د یوې تصدۍ مــالي حالت د دورې په پای کې ښیي.

**۲.د ګټې او ضرر حساب:** د یوې تصدي پایله اخیستنه (نتیجه ګیري) د هغې په اړونده دوره کې ښیي.

**۳.نغدي حساب:** هغه نغدي جریان څرګندوي چې د عملیاتو پانګې اچونې او مالي فعالیتونو په واسطه تیاریږی او یا په مصرف رسیږي.

**۴.د ناویشــل شوې ګټې حســاب:** د ناویشل شوې ګټې د حساب انډول د دورې له پیل څخه د دورې ترپایه پورې بیانیږي.

**اختتامیه معاملې ( closing entries):** هغه پروســه ده چی د هغې په واسطه ټول حسابونه لیجر کیږي. یا لیجر شــوي حســابونه د تصدي پایله نومول شوې ده او د شخصي پانګې حساب ته لیږدول کیږي. دا پروسه د کتاب تړلو یا تصفیه کولو په نامه هم یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي لنډيز

په دې څپرکي کې دې مطالبو ته پام شوی دی:

**د معلوماتي محاسبې سيستم:**

د اعــدادو او ارقامــو د راټولونې او تحليل څخه عبارت دی. چې د يــوې تصدي د فعاليت په پروســې پورې تړلی دی او د معلوماتو روښــانول او څرګندول د علاقه لرونکو ډلو لپاره د معلوماتي سيستم په نامه يادېږي.

يــوه تصدي هغه مهال د يــوه معلوماتي سيســتماتيک او هر اړخيز سيســتم درلودونکی وي چې کله دا سيســتم د محاســبوي پرنسيپونو پر بنســټ ټينګ ولاړ وي. لکه (قواعد، اصول). يعنې محاسبوي مفکورې بايد په همدغو نوموړو شيانو کلکې ولاړې وي، ترڅو وکولای شي د يوې تصدي د تېر مهال په کړو وړو او په راتلونکي کې د يوې تصدي د فعاليت د وړاندوينې په اړه پوښتنوته قناعت لرونکي ځوابونه ورکړي.

د حسابي پېراوونو د طرزالعمل د غوره تحليل لپاره د لاندې اصطلاحاتو او مفاهيمو يادول اړين دي:

۱. د حساب تعريف او د هغه ډولونه.

۲. د پيرودل او پلورل شويو مالونو مستردي (بېرته ګرځول).

۳. تخفيف او د هغه ډولونه.

۴. د حقوقي بنې له مخې د تصديو ډولونه.

۵. معاملې.

۶. انډول شوې او تصفيه شوې معاملې.

۷. مالي حسابونه او د هغوی ډولونه.

۸. اختتاميه معاملې.

ياد شوي اصطلاحات او مفاهيم د نورو اصطلاحاتو په څنګ کې د محاسبې په اړه مهم مطالب او موضوعات بيانوي. بناءً د هر علم په لومړي ځل يادونه کې دا اصطلاحات يادوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي پوښتنې

۱- یوه تصدي څرنګه کولای شي یو ښه معلوماتي سیستم تیار (ترتیب) کړي؟
۲- د معلوماتي سیستم په مرسته د تصدي منجمنټ (اداره ) باید کومو کره پوښتونو ته ځواب ورکړي؟
۳- حساب تعریف کړئ؟
۴- دایمي اوموقتي حسابونه په خپل منځ کې څه توپیر لري؟
۵- د پیرودل او پلورل شــویو مالونو مســتردي ولې منځته راځي، کره دلایل یې په روښانه ډول بیان کړئ؟
۶- تخفیف څه ته وایي؟
۷- سوداګریز او نغدي تخفیف په خپل منځ کي څه توپیر لري؟
۸- د نقل اندراج مفهوم څه دی په اړه یې معلومات ورکړئ؟
۹- فرسایشات تعریف کړئ ؟
۱۰- موجودي کله منځ ته راځي او په کومو نومونو یادیږي؟
۱۱- په انفرادي تصدۍ کې د تصدي اداره او رهبري څرنګه رامنځته کیږي؟
۱۲- د سهامي او تضامني شرکتونو په اړه معلومات ورکړي؟
۱۳- پانګه اچونه څرنګه معامله ده په دې اړه خپل معلومات وړاندې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د امتعې یا مالونو حساب

**تولیزه موخه:**

د پایلې په تثبیت کې د امتعې د حسابي نقش توضیح او د نغدۍ د بیلانس شیت ترتیب.

**د زده کړې موخې:** محصلین د دې څپرکي په پای کې باید وکولای شي چې:

- د امتعې خالص حسابونه (حساب، خالص پیرودل او د امتعې خرڅول) وپیژني.
- د امتعې په خالصو حسابونو کې د معاملاتو د درج شویو قاعدو فرق وکړای شي.
- د امتعې خالص تحتاني حسابونه درک کړي.
- د امتعې په تحتاني حسابونو کې د معاملو درج توضیح کړي.
- د حسابونو تړل، د تصدۍ د پایلې تثبیت او د بیلانس شیټ درک کړي.

### د امتعې یا مالونو حساب

**د ګډو یا مخلوطو مالونو د حساب پېژندنه:** د امتعې یا مالونو حساب د شتمنیو له حسابونو څخه یو حساب دی او په سوداګریزه محاسبه کې کره او مرکزي رول ترسره کوي؛ نو څکه کوښښ شوی چې په دې کې د مالونو د مخلوطو سرچینو او نورو حسابونو په اړه چې د مالونو اړوند دي، مفصلې څرګندونې وړاندې کړي. تراوسه پورې مو له دوه ډوله حسابونو سره سروکار درلود، چې عبارت دي له: بیلانسي حسابونه (شتمنۍ پانګې اوبدهي) او نتیجه یي حسابونه. سربېره پردې په عمل کې نورحسابونه هم شتون لري چې هم دبیلانسي او هم دنتیجه یي حسابونو اړوند دي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول حسابونه د مخلوطو حسابونو په نامه يادېږي.

د امتعې مختلط يا ګډ حساب د همدي ډول حسابونو له جملي څخه دی، ځکه دا حساب له يوه لوري له بيلانس اوله بل لوري د خرڅونو دپايلې په توګه د ګټې او ضرر په حساب پورې اړه لري. تراوسه پورې مو د آسانتيا پخاطر موضوع په دې ډول په نظرکې نيولې وه چې اخيستل شوی مال بيرته په همغه قيمت خرڅ شي؛ خو عملاً يو داسې حالت شتون نه لري او د خرڅ شوي او اخيستل شوي قيمت په منځ کې فرق شتون لرې او تصدي د ګټې لاسته را وړلو پخاطر کوښښ کوي ، ترڅو مال په لوړ قيمت په مارکيټ کې وپلوري.

د موضو د لا روښانتيا په خاطر لاندې بېلګې په نظر کې نيسو:

**لومړۍ بېلګه:** د افغان بيسيم مخابراتی شرکت ۸۰ واحده کرېډيټ کارت لري، د فې واحد قيمت يې ۱۰۰۰ افغانۍ دي، چې د کارتونو مجموعي قيمت مساوی دی له ۸۰۰۰۰ زره افغانی او يا کرېډيټ کارتونو تمام شوی قيمت ۱۰۰۰×۸۰ = ۸۰۰۰۰

| C | D |
|---|---|
| 60 ×1200 =72000<br>د کيسې لپاره بيلانس 8000<br>وروستۍ موجودي 8000 | A.B 80×1000=80000 |

نوموړی شرکت ۶۰ واحده کرېډيت کارتونه چې يو واحد په ۱۲۰۰ افغانيو پلوري او د مجموعي کرېډيټ کارتونو ارزښت د خرڅولو له مدرکه له ۶۰ × ۱۲۰۰ =۷۲۰۰۰ سره مساوي دی.

څرنګه چې ليدل کيږي د امتعې په حساب کې د ۸۰۰۰ زره افغانيو اندازه په تفاوت سره منځ ته راغلې او دا تفاوت بايد تحليل او روښانه شي چې، آيا د پاتې شويو مالونو يوه اندازه په ګدام کې شته او که د خرڅونو پايله ده؟ نو د دې موضوع د تحليل په خاطر بايد لاندې درې موضوع ګانې په ګوته او روښانه شي.

کسه

| C | D |
|---|---|
| د امتعې اخيستنه او تصفيه 80000ه<br>د پای بيلانس 92000 | AB = 100000<br>72000= د امتعې له خرڅونې څخه |
| 172000 | 172000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. د پلورل شوې امتعې (کریډیټ کارتونو) ټمام شوی قیمت.
۲. د امتعې وروستۍ موجودي.
۳. د خرڅونو پایله.

په پورتني مثال کې یاد شوي درې موضوعات په لاندې ډول محاسبه کیږي. ۱۰۰۰ × ۶۰ =
۶۰۰۰۰ = د مال ټمام شوی (پلورل شوی) قیمت

۲۰۰۰۰ = ۱۰۰۰× ۲۰ = وروستۍ موجودي

۱۲۰۰۰ = ۶۰۰۰۰ – ۷۲۰۰۰ = د خرڅلاو پایله

څرنګه چې لیدل کیږي د خرڅونو پایله له ۱۲۰۰۰ سره مساوي ده چې د ټمام شوي او خرڅونو د قیمتونــو لــه تفاوت څخه منځ ته راځي او کولای شــو نوموړي معامــلات د مالونو په مخلوط حساب کې په لاندې ډول ذکر کړو:

| C | د مال مختلط یا ګډ حساب | D |
|---|---|---|
| د مال خرڅونه 72000<br>وروستۍ موجودي 20000<br>12000 د خرڅلاو ګټه | | AB - 80000 |
| 92000 | | 92000 |

په محاسبه کې د معلوماتي محاسبوي سیستم د ترتیب لپاره باید یو سلسله پرنسیپونه او اصول مراعات شي، ځکه چې دحسابونو د ټرلو پرمهال دحسابونو په هکله نه یوازې دا چې معلومات باید ولري، بلکې دهرې حسابي دورې په جریان کې همدا شان یو بشپړ معلومات ورکړلای شي.
نوبناً په دې فصل کی ددې موضوع لپاره له مخلوطو حسابونو څخه نه، بلکې د مالونو له خالصو حسابونو څخه استفاده کیږي.

## د مال سوچه حسابونه

د مال سوچه حسابونه په دوه ډوله دي:
۱- د مال پیرودنې حساب
۲- د مال پلورنې حساب

**۱.د مال پیرودنې حساب:** د مال اخیستنې په دې صورت کې یو سوچه حساب را ښیي.
په دې حســاب کې د debit په پایله کې د AB account اخیســتنې او د مال پیرودنې اړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصارف او هم مســترد کېدل درجیږي، همدارنګه د کرډیټ په ســتنو کي نوموړی حساب د مال پېرودنې په قیمت خرڅیږي، او د S وروســتۍ موجودي درجیږي. دکال په پای کې چې څه ډول حساب تړل کیږي همدغسی وروستۍ موجودي هم د هرې دورې په پای کې د شمېرلو وزن کولو یــا داندازه کولو په طریقه تثبیتیــږي. په همدې ترتیب کوم بدلونونه چې په موجودي کې منځ ته راځي او یا د موجودي عملیه د انونټر ( Enventor ) په نامه یادیږي.

د پلورل شوي مال د پېرودنې قیمت د کریډیت په ستونونو کې درجیږي، چې د حسابي دورې په پای کې وروســتۍ موجودي د ختم بیلانس او د مال پېرودنې قیمت د مال پلورنې حســاب ته لیږدول کیږي، لکه په لاندې ترتیب سره:

| C | د مال پېرودنې حساب | D |
|---|---|---|
| (C.G.S) د پلورل شوی مال پېرودنې قیمت<br>(P.Returen) د پېرودنې د مستردۍ<br>(SOULDO) وروستۍ موجودي | | AB لومړي موجودي (increase) پېرودنه<br>(EXPENSIVE)د مال چمتوکولو لګښتونه |
| | ΣD=ΣC | |

**د مال پلورنې حساب:** د مال پلورنې حساب له نتیجه یي حسابونو څخه یو حساب دی. د دې حساب د کریډیت په ستنو کې د تصدۍ د خرڅونو مجموعي قیمت او د ثبت په ستنو کې یې د پلورل شوي مال پېرودنې قیمت او د پلورل شوي بیرته واپسي درجیږي. د حسابې دورې په پای کې د حســاب له تړلو څخه وروســته د دې حساب تفاوت، ګټه او ضرر روښانه کیږي. لکه څرنګه چې مخکــې یادونه وشــوه، چې حاصلات د پانګې د زیاتوالي باعــث ګرځي، نو بناً د پلورلو حاصلات د ګټې اوتاوان د کریډټ د حساب په سیستم کی درج کیږي او برعکس تاوان دپانګې دکمښت لامل ګرځي، نوځکه په پلورلو کې ضرر کول د یاد شوي حساب د ثبت په سیستم پورې نښلول کیږي. د مال پلورنې حساب له لاندي شکل سره سم ترتیبیږي.

| C | د مال پلورنې حساب | D |
|---|---|---|
| د خرڅ شوي مال قیمت<br>یا د خرڅ تاوان (S) | | د خرڅ شوي مال د پېرودنې قیمت(C.G.S)<br>د پلورنې بېرته ګرځېدل (S.RETURN)<br>د پلورنې لاس ته راوړنې (S) |
| ΣC | | ΣD |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موضوع د روښانتيا لپاره مخکنۍ بېلګه د مال سوچه حسابونو (مال پېرودنې) ته لېږدوو.

| D | مال پېرودنه | C |
|---|---|---|
| AB = 80000 | | 60000 د پلورل شوي مال د پيرودنې قيمت<br>20000وروستۍ موجودي |
| 80000 | | 80000 |

| D | د مال پلورنې حساب | C |
|---|---|---|
| 60000 د پلورل شوي مال د پېردونې قيمت<br>12000 د پلورنې عوايد | | د خرڅلاو قيمت 72000 |
| 72000 | | 72000 |

| D | د زيان او ګټې حساب | C |
|---|---|---|
| | | د پلور حاصل 12000 |
| D | | CΣΣ |

د ثبت بيلانس

| A اکتيف | د ثبت بيلانس | P پسيف |
|---|---|---|
| 20000 - | | د پلور حاصل 12000 |

**دويم مثال:** مخابراتي شرکت په مارکيټ کې د پېرودنکو د غوښتنو د کمښت له امله خپل مال تر خپل تمام شوي قيمت څخه په ټيټه بيه يعنې في واحد په ۸۰۰ افغانيو پلورى، چې د دې معاملې درج، خپلو اړوندو حسابونو ته په لاندې ترتيب دى.

| D | مال اخيستنه | C |
|---|---|---|
| AB=80× 1000=80000 | | د پلورل شوي مال اخيستني قيمت<br>20000وروستۍ موجودي |
| 80000 | | 80000 |

| D | مال پلورنه | C |
|---|---|---|
| 60000 = 1000 × 60 | | 48000 = 80000 ×60<br>12000 د خرڅلاو تاوان |
| 60000 | | 60000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| دبت D | ګټه او تاوان | کردیت C |
|---|---|---|
| د پلورنې تاوان - 12000 | | |

| D | د ختم بیلانس | C |
|---|---|---|
| امتعه 20000 | | |

## د مالونو زېرمه او د پلورلو لپاره د چمتو مالونو د قیمت لګښتونه

## Inventory and cost googds sold

د حســابونو د ترلو په پروســه کې د مالونو د زیرمو د مکررې ارزونې سیستم په نظر کې نیول کیږي. په دې سیستم کې، پیرودنه یا هغه مخارج چې د مال پېرودونکي په حساب کې ثبت شوي، د پېرودنې او مســتردۍ په حســاب کــې کریدیټ کیږي. نو بناً د مالونــو د زېرمو د ثبت او د ډاډ ترلاســه کولو په منظور ټول قلمونه په کلني ډول موجودیږي یعنی شــمیرل یا وزن کیږي او دټیټ قیمت یا د مارکیټ د قیمت په واسطه ورته ارزښت ورکول کیږي.

په دې سیستم کې پلورلو ته د چمتو امتعې قیمت داسې ټاکل کیږي، چې لومړۍ موجودي او خریداري جمع کیږي او وورستۍ موجودي ورڅخه منفی کیږي.

د لا روښــانتیا لپاره د پلورل شــویو اجناسو د لګښــتونو موضوع د زیرمو ارزونې یا د مالونو د سوچه حسابونو د سیستم لاندنۍ بیلګې په نظرکې نیسو:

فــرض کــړئ د یوې تصــدي لومړۍ موجــودي ۳۰۰۰۰ افغانۍ لري، د دورې پــه جریان کې د ۲۰۰۰ افغانیو په ارزښت مالیه اخلي. دترانسپورت لګښتونه ۶۰۰۰ افغانی د پیرودنې مستردول او د پلورونکي تنزیل ۱۰۰۰ او ۳۰۰۰ افغانۍ او وروستۍ موجودي ۲۶۰۰۰ افغانۍ ده. په همدې ترتیب د پلورل شویو اجناسو د لګښتونو ارزول په لاندې بڼه صورت مومي:

| | |
|---|---|
| لومړۍ موجودي | ۳۰۰۰ |
| پیرودنې | ۲۰۰۰۰۰ |
| د ترانسپورت لګښتونه | ۶۰۰۰ |
| د ذکر شویو چمتو جنسونو ټول قیمت | ۲۳۶۰۰۰ |
| د پېرودنې مستردول | ۱۰۰۰ |
| تنزیل | ۲۶۰۰۰ |
| د مال وروستۍ موجودي | ۲۶۰۰۰ |
| د ذکر شویو جنسونو تمام شوي لګښتونه | ۲۰۶۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| C | د مال پیرودنه | D |
|---|---|---|
| د پیرودنې بیرته ورکړه 1000<br>دپلورنې تنزیل 3000<br>وروستۍ موجودي 26000<br>د اجناسو لګښتونه پلورونکي ته 206000 | | AB – 30000<br>اخیستل 20000<br>د ترانسپورت لګښت 6000 |
| 236000 | | 236000 |

**تمرین:** د احمد تصدي د ۱۹۰۰۰ افغانیو پانګې په کارولو پیل وکړ او له دې پانګې څخه په تصدي کې د ۷۰۰۰ افغانیو په ارزښت مال او پاتې ۱۲۰۰۰ افغانۍ نغدې پیسې لري، د تصدي پرانستونکی بیلانس داسې ترتیبیږي:

| P د احمد د تصدي پرانیستونکی بیلانس، د پرانیستنې نېټه. ۷/۷/ ۸۷ A | |
|---|---|
| شخصي پانګه 19000 | مالونه – 7000<br>کسه 12000 |
| 19000 | 19000 |

هغه معاملې چې د دورې په جریان کې ترسره شوې په لاندې ډول دي:

۱. په ۱۷،۷ نېټه د ۳۰۰۰ افغانیو په بیه په نغده توګه ښه مال پیرودل شوی.

۲. په ۱۷، ۷ نېټه د ۵۰۰۰ افغانیو په بیه په نغدو مال پلورل شوی.

۳. په ۲۸،۷ نېټه د یوه کارګر مزد ۲۰۰ افغانۍ نغدې ورکړل شوې.

۴. وروستۍ موجودي د اتونټور په واسطه ۶۰۰۰ افغانۍ.

لاندیني حسابي پړاوونه ترسره کړئ!

۱.معاملې د ژورنال په دفتر کې درج کړئ!

۲.معاملې د لیجر په دفترونو کې تجزیه او تحلیل کړئ!

۳.د ګټې او تاوان حساب او هم شخصي پانګې ترتیب کړئ!

۴.د ختم بیلانس ترتیب کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژورنال د دفتر ترتیب.

| شمیره | نېټه | تفصیلات | J/F | کریډیت | دبت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | 17/17 | له کسې څخه مال ته | | 3000 | 3000 |
| ۲ | 7/15 | له امتعې نه کسې ته<br>(د امتعې پلور په نغدو) | | 5000 | 5000 |
| ۳ | 7/28 | د مزد مخارجو ته<br>له کسې څخه نغدې یوه کس ته | | 5000 | 500 |

| C | | | | | مال اخیستنه | | D |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نېټه | تفصیلات | JF | مبالغ | نېټه | تفصیلات | J/F | مبالغ |
| | د مال دپلورلو لپاره | | 4000 | | لومړی موجودي | | AB/7000 |
| | وروستۍ موجودي | | 6000 | 7/7 | له کسې څخه | | 3000 |
| | | | 10000 | | | | 10000 |

| C | | | | | کسه | | D |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نېټه | تفصیلات | JF | مبالغ | نېټه | تفصیلات | J/F | مبالغ |
| | کسر | | 5000 | 7/29 | د مال له پېرودنې څخه | | 4000 |
| | | | | | د پلورلو لاس ته راوړنه<br>ګټه او پلورنه | | 1000 |
| | | | ۵000 | | | | ۵000 |
| نېټه | تفصیلات | JF | مبالغونه | نېټه | تفصیلات | JF | مبالغونه |
| نېټه | د مال په<br>پېرودنه | | ۳۰۰۰<br>۵۰۰ | | لومړی<br>موجودي | | ۱۲۰۰<br>۰ |

| C | | | | | مال پلورنه | | D |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نېټه | تفصیلات | JF | مبالغ | نېټه | تفصیلات | J/F | مبالغ |
| | د مال پېرودنه<br>د مزد د مخارجو لپاره<br>وروستۍ موجودي | | 3000<br>500 | 7/15 | لومړی موجودي<br>د مال له پور څخه | | 4000 |
| | | | 17500 | | | | 17000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| D | | کټه او تاوان | C |
|---|---|---|---|
| د مزد مخارج | - 500 | 1000 | دپلورلو لاسته راوړنې |
| د پانګې ګټه | 500 | | |
| 1000 | | 1000 | |

| D | | شخصي پانګه | C |
|---|---|---|---|
| وروستنۍ موجودي | 19500 | 19000 | د لومړۍ موجودي |
| | | 500 | ګټه |
| 1000 | | 1000 | |

| D | شخصي پانګه | C |
|---|---|---|
| | | |
| 19500 | | 19500 |

## د امتعې اړوند د معاملاتو ثبت

**الــف: د تهیــې مخارج او د مالونو د تهیه کولو قیمتونه:** د امتعې د پېرودلو په حســاب کې ، اخیســتل شوې امتعه د اخیســتلو په قیمت نه ، بلکې د تهیې په قیمت باید په اړوند حساب کې درج شي. له دې امله د تهیې قیمت مساوي دی د مجموعي لګښتونو د پلورلو له قیمت سره اویا:

مثال: په یوه تصدۍ کې د مال پېرودنې بیه ۱۰۰۰۰۰ افغانی ده او دتهیې د لګښتونو مجموعه مساوي ده له ۱۰۰۰۰ افغانیو سره او همدارنګه د تهیې بیه مساوي کېږي له ۱۱۰۰۰۰ افغانیو سره:
۱۰۰۰۰۰+۱۰۰۰۰= ۱۱۰۰۰۰

د تهیې بیه = د تهیې لګښتونه + د مالونو د پېرودنې بیه

| D | | د مالونو پېرودنه | C |
|---|---|---|---|
| اخیستل شوي مالونه | 100000 | | S-110000 |
| د تهیې لګښتونه | 10000 | | |
| 110000 | | 110000 | |

د ســوداګریزو مالونو د تهیې لګښــتونه په تصدیو کې مختلف ډولونه لري. لکه ترانســپورټي لګښــتونه ، ګمرکي محصول، د باربندي لګښــتونه د حمالي لګښــتونه ( هغه لګښتونه چې له بندر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثخه ښـارته دننــه د مالونو د لېږد له املــه رامنځته کيږي ) او ټول هغه لګښــتونه چې دمالونو د پيرودنــې لپــاره رامنځته کيږي.  نوله همدې امله د يادو شـويو معاملـو د ثبت لپاره د تهيې د لګښـتونو مختلف حسـابونه بايد په نظرکې ونيول شي او په پای کې د هريوه د حســاب تفاوت د تهيې دلګښــتونو حســاب ته ليږدول کيږي او همداراز د لګښــتونو تفاوت د مال پيرودنې د ثبت حساب په ستون کې ثبتيږي.

مثــال:  په يــوه تصدي کې د ۱۰۰۰۰ افغانيو په بيه د مال لومړنۍ موجودي شــتون لري، ياده شــوې تصدي د ۳۰۰۰ افغانيو په بيه مال اخلی، د اخيســتل شوي مال د ليږدراليږد  لګښتونه ۳۰۰ افغانــۍ اوګمرکي محصول ۱۰۰ افغانۍ دی. نوموړي معاملې په لاندې ډول په اړوندو حســابونو کې درجيږي.

د ژورنال د دفتر ترتيب:

| شمېره | نېټه | تفصيلات | دبت | کريديت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | | له کسې نه مالونو ته | 3000 | 3000 |
| ۲ | | له کسې ثخه د حمل او نقل لګښتونوته | 3000 | 3000 |
| ۳ | | ګمرکي محصول ته له کسې ثخه | 1000 | 1000 |

| C | | د حمل و نقل لګښتونه D |
|---|---|---|
| د مالونو پېرودنه | S - 300 | -2 300 له کسې ثخه |
| | 300 | 300 |

| C | | D |
|---|---|---|
| د ختم بيلانس | 13400 | AB 100000<br>3000 له کسرثخه<br>4000 د تهيه لګښتونه |
| | ۱۳۴۰۰ | ۱۳۴۰۰ |

| C | د ګمرګ محصول D |
|---|---|
| S – 100<br>د مال پيېرودنه | 3-100 له کسرثخه |
| 100 | 100 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| C | د تهيې لګښتونه | D |
|---|---|---|
| د مال د پېرودنې لپاره S – ۴۰۰ | | ۳۰۰ د ليږد راليږد لګښتونه<br>۱۰۰ ګمرکي محصول |
| 400 | | 400 |

په دې مثال کې ښــکاري چې تحتاني حســابونه ، اصلي يا دايمي حسابونوته لېږدول کيږي او وروسته بيا د اصلي حساب بيلانس شيټ ته انتقال مومي. د تحتاني حساب حمل و نقل د لګښتونو په څېر د ګمرک محصول او نور يوازې د توليدي مالونو اړوند کيږي.

له تصدۍ څخه د پېرودونکي د حمل و نقل د مالونولګښتونه، په لومړي سر کې د لګښتونو په اړوندو حسابونو کې درجېږي او ورسته بيا د ګټې اوتاوان حساب ته ليږدول کيږي.

**ب: د مالونو مستردول:**

### د پلورنې مستردول

کله چې يوه تصدي د خراب جنسيت لرونکې امتعه خپل پېرودونکي ته واستوي، نو نه توازې دا چې د هغه د خوښې او غوښتنې وړ نه وي، بلکې سمدلاسه يې مستردوي او بېرته يې تصدۍ ته ورليږي. د پلورل شويو مالونو بيرته واپسی (مستردي ) د پلورنې کچه کموي، دغه ډول معاملې په لومړي سرکې په جلا جلا حسابونوکې د امتعې د پلورنې د مستردۍ په نوم ډبټ کيږي.

پــه هغــه صورت کې چې پلورنې په پور رامنځته شــوې وي او يوه انــدازه مال د پيرودونکي له لوري تصدي ته مســترد شي، په دې حالت کې معاملې د هغو په دواړو اړوندو حســابونو کې داسې درج کيږي:

**لومــړۍ بېلګــه:** يوې تصدي امتعه په ۵۰۰۰ افغانيو په پور پلورلې بيا وينو چې پلورل شــوې امتعه، د پيرودونکي د عدم قناعت د دلايلو په نسبت د ۳۰۰۰ افغانيو په ارزښت دوباره مستردېږي.

د لاندې ژورنال دفتر دا ډول جوړيږي.

| شمېره | نېټه | تفصيلات | J/F | دبت | کريديت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | 5/5 | د طلباتو لپاره<br>د مالونو له پلور څخه | | 5000 | 5000 |
| ۲ | 6/5 | د پلورنو مستردۍ ته | | 3000 | 3000<br>3000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلور مستردي

| D | د پلور مستردي | | C |
|---|---|---|---|
| دپلور مستردي | 3000 | 5000 | د طلباتو لپاره |
| ګټه اوتاوان | 2000 | | |
| | 500 | 500 | |

| D | طلبات | | C |
|---|---|---|---|
| د مالونوله پلورڅخه | 5000 | 3000 | د پلور مستردي |
| | | 2000 | دختم بيلانس |
| | 5000 | 5000 | |

**نوټ:** ځينې وختونه تصدي له پيرودونکو سره داسې جوړ جاړي ته رسيږي، څو پلورل شوي مالونه هغوی مسترد نکړي. د پيرودونکي د غوښتنو د حساب په بدل کې يو مبلغ کرډيټ غواړي، چې دا کړنه دشتنمۍ د کمښت لامل ګرځي او د پلور په مالونو کې د مستردي بڼه غوره کوي. د دغو معاملو مبلغونه د پلور د مستردۍ په حساب کې ثبت کيږي.

| D | کسه | | C |
|---|---|---|---|
| د مال له پلورنې څخه | 5000 | 3000 | د پلور د مستردۍ لپاره |
| | | 2000 | د ختم بيلانس |
| | 5000 | 5000 | |

| D | د مال پلورل | | C |
|---|---|---|---|
| د پلورنې مستردي | 3000 | 5000 | له کسې څخه |
| په ګټه او تاوان | 2000 | | |
| | 5000 | 5000 | |

| D | د پلور مستردي | | C |
|---|---|---|---|
| له کسي څخه | 3000 | 3000 | د مال د پلور لپاره |
| | 3000 | 3000 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویمه معامله:** د پورتنۍ یادې شوې معاملې په نظرکې نیولو سره د مالونو مستردي د پلورنو د نغدي معاملو په صورت کې په لاندې توگه اړوندو حسابونو کې درجیږي.

د مالونو اخیســتنې مستردی: هرکله چې تصدي اخیستل شوي مالونه د جنسیت د خرابوالي یا د نورو عواملو له امله د دویم ځل لپاره د مالونو لیږدونکي ته مســترد کړي، په دې صورت کې د داسې معاملو درجول اړوندو دفاترو کې په دې ډول دي:

**د لومړۍ معاملې بېلگه:** تصدي د ۵۰۰۰ افغانیو په بیه مال پیرودلي، وروسته لیدل کیږي چې د مال یوه برخه له غوښتنې سره سمه نده اوله هغه څخه د ۴۰۰۰ افغانیو په ارزښت بیرته مستردیږي چې په دی حساب کي دا شتنمي ډبټ کیږي او دپیریدنې د حساب مستردي کریډټ کیږي.

| شمېره | نېټه | تفصیلات | دبت | کریدیت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | 7/7 | د مال پېرودنې لپاره<br>له پورونو څخه | 5000 | 50000 |
| ۲ | 8/7 | له پورونوڅخه<br>د مال له پیرودنې څخه | 4000 | 4000 |

| C | د مال پېرودنه | D |
|---|---|---|
| د پیرودنې د مستردۍ لپاره 4000<br>د ختم بیلانس 46000 | | 50000 له پورونو څخه |
| 50000 | | 50000 |

| C | د پلور مستردي | D |
|---|---|---|
| له دریون څخه 4000 | | 4000 د مال له اخیسنې څخه وروسته |
| 4000 | | 4000 |

**دویمــه معاملــه:** د ذکر شــوې نمونې په نظر کې نیولو سره د نقــدي ورکړې په صورت کې د پیرودلو مستردي په لاندې ډول په اړوندو حسابونو کې درج کېږي :

| C | د مال پېرودنه | D |
|---|---|---|
| نوی مستردي 4000<br>د ختم بیلانس 46000 | | 50000 کیسې څخه |
| 50000 | | 50000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| D | | کسیه | C |
|---|---|---|---|
| AB-100000 | | 50000 | د مال پېرودنه |
| له مستردی څخه اخیستل 4000 | | 54000 | د ختم بیلانس |
| 104000 | | 104000 | |

## تمرین

د احمد شرکت د لاندې موجوداتو په نظرکې نیولوسره په ۱۳۸۶ کال کې پیل شوی دی، د حسابي دورې په لړ کي چې په تصدي کې کومې معاملې منځته راغلي، د ژورنال لیجر په دفترکې د درجولو سره د ګټې اوتاوان په حساب، د آزمایښتي بیلانس او د تصدي د ثبت بیلانس د حسابي دورې په پای کې ترتیب کړئ.

## د موجودي لیست

**الف: ګرځنده شتمني ( current assets )**

۱- مال ۶۲۰۰

۲- طلبات ۱۸۰۰

۳- بانکي شتمني ۴۷۰۰

۴- کسه ۳۰۰

**ب: د بدل غیرپانګه (Liability)**

۱- پورونه ۲۴۰۰

۲- بانکي پور ۱۵۰۰

**ج: شخصي پانګه ۹۱۰۰**

| پرانیستونکی بیلانس \ د احمد سوداګریز شرکت \ نېټه 86 / 1 / 5 | | | |
|---|---|---|---|
| A | | P | |
| ګرځنده شتمني: | | | |
| مال | 6200 | 9100 | شخصي پانګه |
| طلبات | 1800 | 2400 | داینین |
| بانکي شتمني | 4700 | 1500 | بانکي پور |
| کسه | 300 | | |
| 13000 | | 13000 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه معاملې چې د حسابي دورې په لړ کې رامنځته شوې:

۱. تصدي د ۱۳۸۶ ـ۱ـ ۲ په نېټه کې د ۲۸۰۰ افغانیو په بیه مال پلورلی خو د پیســو ورکړه یې ځنډېدلې ده.

۲. مالونه له پخواه پیرودل شــوي دي، خو د خراب جنســیت له امله بیرته هغه پلورونکي ته مستردیږي، چې د مستردۍ مبلغ یې ۳۰۰ افغانۍ دی.

۳. یوه پیرودونکي خپل پور د ۱۳۸۶ ـ ۱ – ۱۵ په نېټه د ۱۰۰۰افغانیو په ارزښت د بانکي چک په واسطه ادا کړی.

۴. د ۱۳۸۶ ـ ۱ ـ ۱۱ په نېټه تصدي د ۲۳۰۰ زرو افغانیو په بیه په نغدو مال پلورلی.

۵. په ۱۳۸۶ ـ ۱ ـ ۱۹ نېټه تصدی د تورید شوې ( اخیستل شوې )امتعې د لیږرالیږد لګښت په دیرش افغانۍ نقدی لګښت پرداخت کړي.

۶. په ۱۳۸۶ـ۱ ـ۲۰ نېټه باندې تصدي د ۶۰۰ افغانیو په مبلغ پور، د بانکي حوالې په واسطه رسولی.

۷. تصدي په همدې نېټه د پلورل شویو مالونو د مستردۍ په بدل کې د ۷۰ افغانیو په ارزښت کریدیټ کړی.

۸. پر ۱۳۸۶ ـ ۱ ـ ۲۵ نېټه باندې تصدي د بانکي چک په واســطه د ۱۲۰۰ افغانیو په ارزښــت مالونه پیري.

۹. په ۱۳۸۶ ـ ۱ ـ۲۶ نېټه باندې تصدي د پیرودل شــویو مالونو ګمرکي محصول د ۱۳۰ افغانیو په ارزښت په نغدي ډول رسولی.

۱۰. پــر ۱۳۸۶ـ ۱ـ ۳۰ نېټــه باندې تصدي یوه پیریدونکی ته د ۳۴۰۰ افغانیو په ارزښــت په پور مالونه پلورلې.

۱۱. په ۱۳۸۶ ۳۰\۱\۱ نېټه باندې د تصدي له لوري اداري لګښــتونه د ۲۰۰ افغانیو په ارزښــت په نغدي ډول رسول شوي.

۱۲. تصدي د پیرودونکي په ګټه د ۶۰ افغانیو په ارزښت کریدټ کوي په ۵\۲\۱۳۸۶ نېټه باندي وروستۍ موجودي د موجودي کړنې په واسطه ۵۵۰۰ افغانۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شمیره | نېټه | (Discireption) تفصیلات | L/F | Debit | Credit |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | 2/1 | د مال له پلور څخه د طلباتو لپاره | | 2800 | 2800 |
| ۲ | 2/1 | د پېرودنې له مستردۍ څخه | | 300 | 300 |
| ۳ | 15/1 | طلبات د بانکي شتنمۍ لپاره | | 1000 | 1000 |
| ۴ | 18/1 | د مال له پلور څخه د کسې لپاره | | 2300 | 2300 |
| ۵ | 19/1 | له کسې څخه د مال لېږد رالېږد د مخارجو لپاره | | 30 | 30 |
| ۶ | 20/1 | له بانکي شتنمۍ څخه د بانکي پور لپاره | | 600 | 600 |
| ۷ | 20/1 | له طلباتو څخه د پلور مستردۍ ته | | 70 | 70 |
| ۸ | 25/1 | له بانکي شتمنۍ څخه د مال پېرودنې لپاره | | 1200 | 1200 |
| ۹ | 26/1 | له کسې څخه د گمرکي محصول د مخارجو لپاره | | 310 | 310 |
| ۱۰ | 28/1 | د طلباتو لپاره د مال له پلور څخه | | 3400 | 3400 |
| ۱۱ | 30/1 | له کسې څخه د اداري مخارجو لپاره | | 200 | 200 |
| ۱۲ | 31/1 | له پېرودنې څخه طلبات | | 60 | 60 |
| مجموع | | | | 12270 | 12270 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.د معاملاتو تجزیه او لیږد د حسابونو لیجر دفترونو ته:

| C | کسه | D |
|---|---|---|
| 19/1 د لیږد رالیږد مخارج 30<br>26/1 د محصول مخارج 310<br>1/30 اداري مخارج 200<br>د ختم بیلانس 2060 | | AB 300<br>230 د مال له پلورخخه 1/18- |
| 2600 | | 2600 |

| C | د مال پېرودنه | D |
|---|---|---|
| د پېرودنې مستردي 300<br>د پلورل شوي مال تمام شوی قیمت ۱۹۴۰<br>د ختم بیلانس 5500 | | AB 6200<br>1.25 1200 د بانک شتمني<br>340 د تهیې مخارج |
| 7740 | | 7740 |

| C | د مال پلورل | D |
|---|---|---|
| 130 دپلورنې مستردي<br>1940 د پلورل شوي مال پېرودنې قیمت<br>6430 دپلورنې د عوایدو گټه او زیان | | 130 دپلورنې مستردي<br>1940 د پلورل شوي مال پېرودنې قیمت<br>6430 دپلورنې د عوایدو گټه او زیان |
| 8500 | | 8500 |

| C | طلبات | D |
|---|---|---|
| 15/1 د بانکي شتمنۍ لپاره 1000<br>20/1 د پلورنې مستردي 70<br>31/1 د پلورنې مستردي 60<br>د ختم بیلانس 6870 | | AB -1800<br>2800 د مال له پلورنې خخه ½<br>3400 د مال له پلورنې خخه 28/1 |
| ۸۰۰۰ | | ۸۰۰۰ |

| C | بانکي پور | D |
|---|---|---|
| AB- 1500 | | 600 له بانکي شتمنۍ خخه 20/1<br>900 د ختم بیلانس |
| 1500 | | 1500 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| D | د پېرودنې مستردي | C |
|---|---|---|
| 300 له مال پېرودنې ثخه | | 2/1 پورونوته 300 |
| 300 | | 300 |

| D | بانكي شمتني | C |
|---|---|---|
| AB 4700<br>15/1 له طلبات ثخه 1000 | | 20/1 د بانكي پور لپاره 600<br>25/1 د مال پېرودنې لپاره 1200<br>د ختم بيلانس 3900 |
| 5700 | | |

| D | د لېږد راليږد مخارج | C |
|---|---|---|
| 19/1 له كيسي ثخه 30 | | د مال پېرودنې لپاره 30 |
| 30 | | 30 |

| D | د پلورنې مستردي | C |
|---|---|---|
| 20/1 له طلباتو ثخه 70<br>31/1 له طلباتو ثخه 60 | | د پلورنې لپاره 130 |
| 130 | | 130 |

| D | د ګمرک د محصول مخارج | C |
|---|---|---|
| 26/1 له كسې ثخه 310 | | د مال پېرودنې لپاره 130 |
| 310 | | 310 |

| D | اداري مخارج | C |
|---|---|---|
| 1/30 له كسې ثخه 20 | | د ګټې او زيان لپاره |
| 200 | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آزمایښتي بیلانس د حسابونو پیوستون (Trail Balance)

| شمېره | د حساب نوم | J/f | کریډټي مبالغ | دبټي مبالغ |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | له کسې خخه | | | 2060 |
| ۲ | د مال پېرودنه | | | 5500 |
| ۳ | بانکي شتمني | | | 3900 |
| ۴ | طلبات | | | 6870 |
| ۵ | د پورونو پانګه | | 9100<br>2100 | |
| ۶ | بانکي پور | | 900 | |
| ۷ | د مال پلورنه | | 6430 | |
| ۸ | اداري لګښتونه | | | 200 |
| مجموع | | | 18530 | 18530 |

| C | د ګټې او تاوان حساب | D |
|---|---|---|
| د پلورنې حاصلات 6430 | | 200 د اداري مخارج<br>6230 S, د پانګې لپاره ګټه |
| 6430 | | 6430 |

| C | شخصي پانګه | D |
|---|---|---|
| AB-9100<br>6230= ګټه | | 15330S. د ختم بیلانس |
| 15330 | | 15330 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| بیلانس شیټ | | | |
|---|---|---|---|
| د احمد شرکت | | | |
| P | | په ۸۶/۲/۵ نېټه | A |
| | | شتمني | |
| شخصي پانګونه | 10330 | 00 مال | |
| دیون | 2100 | 6870 | طلبات |
| بانکي پور | 900 | 3900 | بانک |
| | | 2060 | کسي |
| 18330=18330 | | | |

## C: د مالونو د تخفیف قیمتونه

تخفیف یا Discount د جنس په بیه کې د کموالي له رامنځته کولو څخه عبارت دی.

پلورونکی په ټاکلي وخت کې د مشخصو دلایلو په اساس پیرودونکي ته تخفیف ورکوي.

مثــلاً: پــه هغه صورت کې چې یو مال په لوړه پیمانه خرڅ او یا واخیســتل شي او یا د کال د موسم د بدلون په وخت کې چې د معاملې تر ترون وړاندې اویا وروسته ټاکل کیږي.

قاعدتآ هغه تخفیف چې د معاملې د ترون پرمهال په پام کې نیول کیږي، د تجارتي محاسبې د تخنیک له مخې په جلا حساب کې نه درجیږي، بلکې له اصلې پیسو څخه بیلیږي او وروسته د مالونو د قیمت (د مال پېرودنې یا پلورنې) په اړوندو حسابونو کې درجیږي.

**لومړۍ بېلګه:** د پېرودنې په وخت کې تخفیف:

تصدي په ۱۳۸۶\۲۱\۶ نېټه باندې د ۱۰۰۰۰۰ افغانیو په بیه مال اخلي، چې ٪۵۰ سلنه پیسې یې په نغدي ډول ورکوي او ۵۰ ٪ یې ځنډوي. تصدي ۱۰ ٪ تخفیف تر لاسه کوي او د مال د اندازې ارزونه چې په نغدو او پور اخیستل شوې او د تخفیف فیصدي یې په لاندې ډول ده:

ټوله پېرودنه = 10000 AF (100%)

په نقدو پیرودل $50\% = \frac{100000 \times 50}{100} = 50000 AF$

په پور پېرودل $50\% = \frac{100000 \times 50}{100} = 50000 AF$

د تخفیف اندازه $10\% = \frac{50000 * 10}{100} = 5000 AF$

(c) ketabton.com: The Digital Library

AF $50000 - 5000 = 45000$ د تخفیف له ورکولو وروسته په نغدو د پیرودلو اندازه

50000-5000=45000 = د تخفیف له وضع کیدوڅخه وروسته په نغدو د پیرودلو اندازه

100000-10000=90000 = ټوله اخیستل شوې امتعه

حسابي دفترونو ته د معاملو درج په لاندې ډول دی:

په ساده ژورنال سره د حساب رامنځته کول.

د مال پېرودنې ته ۹۰۰۰۰ افغانۍ

له کسې څخه ۴۵۰۰۰ افغانۍ

له پورڅخه ۴۵۰۰۰ افغانۍ

د لیجر دفترونو ته د معاملو درج

| D | له کسې څخه | C |
|---|---|---|
| | | 45000 |

| D | پورونه | C |
|---|---|---|
| | | مال پېرودنې ته 45000 |

| D | د مال پېرودنه | C |
|---|---|---|
| 90000 له پور او کسې څخه | | |

**دویمه بېلګه:** د پلورنی په وخت کې تخفیف: د پاسنیو معاملو په پام کې نیولو سره په اړوندو حسابونو کې معاملې په لاندې توګه درج کوو:

| D | د مال پلورل | C |
|---|---|---|
| | | له کسې او طلباتو څخه 9000 |

| D | طلبات | C |
|---|---|---|
| 45000 د مال له پلورلوڅخه | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| C | له کسې څخه | D |
|---|---|---|
| | 45000 د مال له پلورنې څخه | |

## D: د مال پېرودنې او پلورنې په صورت کې تنزيل

تنزيل د جنس په قيمت کې له يوډول تقليل څخه عبارت دی يا د جنس په قيمت کې له داسې تقليل څخه عبارت دی، چې د پيرودونکي لپاره د فوري نغدي ورکړې په هکله په پام کې نيول کيږي.
د پيرودل شوي مال په حساب کې تنزيل په لاندې ډول په اړوندو حسابونوکې درجيږي:

همداراز بايد ووايو چې په جلا حساب کې د تنزيل پيسې درجېږي او تفاوت يې د ګټې اوتاوان حساب ته ليږدول کيږي.

**لومړۍ بېلګه:** تصدي د يولکو افغانيو په ارزښت مال پيري. چې ۵۰٪ يې په نغدو اوپاتې ۵۰٪ يې په پورمعامله کيږي، تصدي د نغدې ورکړې په صورت کې ۱۰٪ تنزيل تر لاسه کوي.

پېرودل = 100000 (100 %)

نغدي پيرودل $50\% = \frac{100000.5}{100} = 50000$

په پور پېرودل $= 50\% = \frac{100000.50}{100} = 50000$

د تنزيل اندازه $= 10\% = \frac{5000.10}{100} = 5000$

په نغدو پېرودل $= 50000 - 5000 = 45000$

## حسابې جملات يا ژورنال

مال پېرودنې ته ۱۰۰۰۰۰

له کسې څخه ۴۵۰۰۰

له پوروړو څخه ۵۰۰۰۰

د تنزيل له حاصل څخه ۵۰۰۰

| C | له کسې څخه | D |
|---|---|---|
| مال اخيستنې ته 45000 | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| C | د مال اخیستنه | D |
|---|---|---|
| | | 100000 از کسه –داینبین د تنزیل حاصل |

| C | داینین | D |
|---|---|---|
| د مال اخیستني ته 50000 | | |

| C | د تنزیل حاصل | D |
|---|---|---|
| مال اخیستنی ته 5000 | | 5000 له کټمي اوتاوان څخه |

**دویمه بېلګه:** د پلورلوپه صورت کې معاملې د مخکنۍ بیلګې پربنسټ په لاندې ډول اړوندو حسابونو کې درجیږي:

| C | د تنزیل حاصل | D |
|---|---|---|
| 5000 | | S – 5000 به مفاد و ضرر |
| | 5000 = 5000 | |

| C | له کیسې څخه | D |
|---|---|---|
| | | 45000 د مال پلورني څخه |

| C | د مال پلورل | D |
|---|---|---|
| 10000<br>د کیسي طلبات او د تنزیل د مخارجو لپاره | | |

| C | د تنزیل مخارج | D |
|---|---|---|
| په ګټه اوتاوان 5000 | | 5000 د مال له پلورنې څخه |
| | 5000 = 5000 | |

| C | طلبات | D |
|---|---|---|
| | | 5000 |
| | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مالونو جایزې:** یو بل ډول امتیاز چې د مالونو په را کړه ورکړه کې شــتون لري هغه عبارت له جایزې څخه دی ، ډېرى جایزې د معاملو له ترسره کېدو وروسته د خرڅوونکې تصدۍ له لوري پــه پــام کې نیول کیږي او تثبیتیږي. د وخت جایزه هغو پېرودونکو ته ورکول کیږي چې مالونه له ټاکلې اندازې نه ډېر واخلي، یعنې ډېر مال وپیري.

د دې موضوع د روښــانه کیدلو لپاره لاندې بیلګې په پام کې نیســو او د د پېرودلو او پلورلو په صورت کې جایزې ارزوو.

**لومړۍ بېلګه:** تصدي د پیرودونکي لپاره د ۱۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت نغدې جایزې ټاکلې دي، چې اړوندو دفترونو کې د معاملو درجول په لاندې ډول دي:

**۱ ـ د حساب صورت یا ژورنال:**

د جایزې لګښت ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ

د جایزې له کسې څخه ۱۰۰۰۰ افغانۍ

**۲ ـ د لیجر په دفتر کې د معاملو درجول:**

| C | له کسې څخه | D |
|---|---|---|
| د جایزې لګښت ته 10000 | | |
| | | |

| C | د جایزې لګښت | D |
|---|---|---|
| په ګټه او ضرر 10000 | 10000 له کسې څخه | |
| 10000 | 10000 | |

**دویمه بېلګه:** هر کله چې نوموړي پیرودونکي له تصدۍ څخه پوروړي وي؛ نو په دې صورت کې د ۱۰۰۰۰ افغانۍ دتصدۍ د طلباتود تقلیل د قلم په توګه د محاسبې وړ دي.

**۱ ـ د حسابي جملو یا د ژورنال په دفتر کې د معاملو درجول:**

د جایزې لګښت ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له طلباتو څخه ۱۰۰۰۰ افغانۍ.

**۲ ـ د لیجر په دفتر کې دمعاملو درجول په لاندې ډول دي:**

| C | د جایزې لګښتونه | D |
|---|---|---|
| په ګټه او زیان 10000 | | 10000 له کسر څخه |
| | | |

**دریمـــه بېلګـــه:** هر کله چې پېرودونکې تصدۍ جایزه لاســته راوړه، په دې صورت کې یاده معامله، په لاندې ډول د حسابي جملو او د لیجر په دفتر کې درجیږي.

پورته مثال په پام کې نیسو.

**۱ـ له ژورنال سره حسابي جملې.**

داینین ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ

د جایزې له حاصل څخه ۱۰۰۰۰ افغانۍ

**۲ـ د لیجر په د فترونو کې د معاملاتو درج:**

| C | د جایزې حاصل | D |
|---|---|---|
| له کسي څخه 10000 | | 10000-s په ګټه اوزیان |
| 10000 | | 10000 |

| C | پوروړی | D |
|---|---|---|
| | | 10000 د جایزې له حاصل سره |

**تمریــن:** د لومړنیو توکو د (پرانیســتونکي بیلانس) په پام کې نیولو سره د شــاکر تصدي هغه ســوداګریزې معاملې چې د تصدي د فعالیت په لړ کې منځته راغلي، د ژورنال او لیجرپه دفترونو کې درج شوي ، د ګټې او زیان حساب او د تصدۍ مثبت بیلانس برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د ثبت بیلانس | |
|---|---|
| D | د شاکر لمیټډ تصدي C |
| ثابتې شتمنۍ<br>40000 – ځمکه<br>40000 - تعمیر<br>30000 – ماشین آلات<br>20000 – تجهیزات<br>نورې شتنمۍ -<br>10000 – مال<br>20000 – طلبات<br>8000 – بانکي شتمني<br>15000 - کسر | شخصي پانګه 133500<br>له سرمایې پرته پورونه 30000<br>بانکي پورونه 20000 |
| 183500 | 183500 |

بایــد وویل شي، چې د جایزې د حســاب تفاوت د حســابي دورې په پــای کې ګټې او تاوان ته لیږدول کیږي.

هغه معاملې چې د تجارتي فعالیتونو په لړ کې منځته راځي په لاندې ډول دي:

۱ـ په ۴\۳\۱۳۸۶ نېټه باندې تصدي د ۱۲۰۰۰ افغانیو په ارزښت مال اخلي، چې د مال ارزښت د تخفیــف له وضع کیدو مخکې ۷۰۰۰ افغانۍ په نغدو او ۵۰۰۰ افغانۍ په پوردي، چې په دواړو صورتونوکې په جلا توګه ۱۰٪ د پلورونکي تخفیف په پام کې نیول شوی دی.

۲ـ په ۶\۳\۱۳۸۷ نېټه باندې تصدي مال پلوري، په نغدي ډول ۶۰۰۰ په پور ۴۰۰۰ او د بانک له لارې په ۳۰۰۰ زره، چې تصدۍ د هریو لپاره ټول ۸٪ تخفیف په پام کې نیولی دی.

۳ـ پــه ۳\۸\۱۳۷۸ نېټــه باندې یوه پلورونکي پلور شــوي مال د جنســیت د خرابوالي له امله تصدۍ ته مسترد کړ او د مستردۍ پیسې یې ۲۰۰۰ افغانۍ دي.

۴-په ۸۷/۳/۹ تصدۍ یو ه برخه اخیســتل شوی مالد جنسیتد خرابوالي له امله مسترد کړیدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د مستردۍ پیسې ۱۵۰۰ افغانۍ دي.

۵ـ پر ۱۱\۳\۱۳۸۷نېټه باندې تصدي مالونه په لاندې توګه پیري: په نغدي ډول ۶۰۰۰ افغانۍ د بانک له لارې ۴۰۰۰ افغانۍ چې تصدي پلورونکي ته ۲٪ تنزیل په نظر کي نیولي دی.

۶ـ پـر ۱۸\۳\۱۳۷۸ نېټه باندې تصدي د پلورل شـوي مال د حمل و نقل لګښـتونه نغداً ۶۰۰ افغانۍ ادا کړي دي.

۷ـ پـه ۲۰\۳\۱۳۷۶ نېټه بانـدې تصدي مالونه په دې توګه پلوري: پـه نغدو ۵۰۰۰ افغانۍ د بانک له لارې ۷۰۰۰ افغانۍ چې د پېرودنې لپاره د نغدي او فوري ورکړې په صورت کې ۳٪ تنزیل په نظر کې نیول شوی دی.

۸ـ په ۲۱\۳\۱۳۷۸ نېټه باندې تصدي د خپل پیرودونکي ساده حساب ته ۱۰۰ افغانۍ کریدت کوي.

۹ـ تصدي په ۲۲\۳\۱۳۸۷ نېټه باندې د ۴۰۰ افغانیوپه ارزښت جایزه لاسته راوړي.

۱۰ـ په ۲۳\۳\۱۳۸۷ نېټه باندې تصدي خپل پیرودونکي ته د ۲۵۰ افغانیو په اندازه جایزه ورکوي.

۱۱ـ په ۲۵\۳\۱۳۸۷ نېټه باندې د تصدي یو له پیرودونکو څخه د ۲۰۰ افغانیو په ارزښت مال مستردوي.

۱۲ـ پـه ۳۷۲۵\۱۳۸۷ باندې تصدي د خپل بانکي پور یوه برخه د ۸۰۰۰ افغانیو په ارزښـت د بانکي لیږد له لارې ادا کوي.

او د مال وروستۍ موجودي د موجودي کړنې له امله پوره په ۲۰۰۰۰ افغانیو تثبیت شوې ده.

حسابې جملې یا ساده ژورنال یا د تخفیف او تنزیل د فیصدي سنجش په لاندې ډول ترتیبیږي.

**د لومړۍ معاملې سنجش:**

د مال اصلي قیمت = 12000 AF 10% discount

$$\text{نغداً} = 7000 - 10\%(\frac{7000.10}{100} = 700) = 6300$$

$$\text{په پور} = 5000 - 10\%(\frac{5000.10}{100} = 500) = 4500$$

د تخفیف فیصدی = 10%

---

12000-10%(1200)=10800

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستل شوی سوچه مال = د تخفیف اندازه ـ د مال اصلي قیمت

حسابي جملې:

د مال پېرودنې لپاره - ۱۰۸۰۰

له کسې څخه ۶۳۰۰

له پورونو څخه ۴۵۰۰

**د دویمې معاملې ارزول:** تخفیف ۸٪ له ۱۳۰۰۰ افغانۍ = ټول پلورل شوي

$$نغداً = 6000 - 8\%(\frac{6000*8}{100} = 480) = 5520$$

$$د بانک له لارې = 3000 - 8\%(\frac{3000*8}{100} = 240) = 2760$$

$$په پور = 4000 - 8\%(\frac{4000*8}{100}) = 3680$$

---

ټولې پلورنې 13000 - 1040 = 11960

حسابي جملې:

له کیسې څخه ۵۵۲۰

بانک ته ۲۷۶۰

طلباتو ته ۳۶۸۰

د مال له پلورلو څخه ۱۱۹۶۰

**درېیمه معامله:**

له طلباتو څخه د پلورنې مستردۍ ته۲۰۰۰ افغانۍ

**څلورمه معامله:**

له مال پېرودنې څخه پوروړو ته ۱۵۰۰ افغانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځمې معاملې ارزول:**

۱۰۰۰۰ افغانۍ = ټولې پېرودنې

۲٪ = د تنزیل د فیصدۍ پیسې

$= 6000 - 2\%(\frac{6000 * 2}{100} = 120) = 5880$ نغداً

$= 4000 - 2\%(\frac{4000 * 2}{100} = 80) = 3920$ د بانک له لارې

---

9800 = 200 = 10000

د مال سوچه پېرودنه = د تنزیل سرچینه ـ ټولې پېرودنې

**د پنځمې معاملې حسابي جملې:**

- د مال پېرودنې لپاره ۱۰۰۰۰ افغانۍ
- له کسې څخه ۵۸۸۰ افغانۍ
- له بانک څخه ۳۹۲۰ افغانۍ
- د تنزیل له حاصل څخه ۲۰۰ افغانۍ

**شپږمه معامله:**

حسابي جملې:

- له کسې څخه ۶۰۰ افغانۍ د لېږدرالېږد د لګښتونو لپاره

**اوومه معامله:**

حسابي جملې:

- له کسې څخه ۴۸۵۰
- بانګ ته ۶۷۹۰
- د تنزیل د لګښتونو لپاره ۳۶۰
- د مال له پلورنې څخه ۱۲۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوومې معاملې د ارزولو طریقه په لاندې ډول ده:

۱۲۰۰۰ افغانۍ = پلورنې

۳٪ = د تنزیل فیصدي

$$= 5000 - 3\%(\frac{5000*3}{100} = 150) = 4850$$ نغداً

$$= 7000 - 3\%(\frac{7000*3}{100} = 210) = 6790$$ د بانک له لارې

---

ټولې پلورنې = 12000 − 360 = 11640

**اتمه معامله:**

حسابي جملې:

له طلباتو څخه ۱۰۰ افغانۍ دپلورنې مستردۍ ته

**نهمه معامله:**

د جایزې له حاصل څخه ۴۰۰

**لسمه معامله:**

**حسابي جملې:**

له طلباتو څخه ۲۵۰ افغانۍ د جایزې د مخارجو لپاره

**یوولسمه معامله:**

حسابي جملې:

له طلباتو څخه ۲۰۰ افغانۍ د پلورنې مستردۍ ته

**دولسمه معامله:**

حسابي جملې:

له بانک څخه بانکي قرضې ته ۸۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شمیره | نېټه | تفصیلات | LIFE | کرېډیټي پیسې | ډبټي پیسې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | 3/1 | د مال پېرودنې ته، له کسې ښخه<br>له پوروړو ښخه | | 6300<br>4500 | 10800 |
| ۲ | 6/3 | کسي ته، بانک ته او طلباتوته د مال<br>له پلورنې ښخه | | 11960 | 5520<br>2760<br>368 |
| ۳ | 3/8 | له طلباتو ښخه د پلورنې مستردۍ ته | | 2000 | 2000 |
| ۴ | 3 / 9 | د مال له کسۍ ښخه پوروړو ته | | 1500 | 1500 |
| ۵ | 3/11 | مال اخیستني ته له کسې ښخه<br>له بانک او<br>د تنزیل له حاصل ښخه | | 5880<br>3980<br>200 | 1000 |
| ۶ | | د مال د لېږد رالېږد لګښتونه | | 600 | 600 |
| ۷ | 12 / 3 | د مال د لېږد رالېږد لګښتونه | | 600 | 600 |
| ۸ | 20 / 3 | د متاع له پلورنې ښخه کسې، بانک<br>او د تنزیل لګښتونوته | | 12000 | 4850<br>6790<br>360 |
| ۹ | 21 / 3 | له طلباتو ښخه د پلورنې مستردۍ ته | | 100 | 100 |
| ۱۰ | 3 / 22 | د جایزې له حاصل ښخه پوروړوته | | 400 | 400 |
| ۱۱ | 3 / 23 | له طلباتو ښخه د جایزې لګښتونو ته | | 250 | 250 |
| ۱۲ | 3 / 25 | له طلباتو ښخه د پلورنې مستردۍ ته | | 200 | 200 |
| ۱۳ | 3 / 29 | بانکي پور له بانکي شتمنۍ ښخه | | 8000 | 8000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ليجر دفترونو کې د معاملو شننه او پيوستون په لاندي ډول دي:

| D | مال پېرودنه | C |
|---|---|---|
| AB 10000<br>1080 له کسې ځخه پوروړوته 3/1<br>10000د بانک له کسې او له حاصل ځخه تنزيل 3/11 | | 3/9 پوروړو ته 1500<br>دپلورل شوي مال پېرودنه 9900<br>د ختم بيلانس 20000 |
| 31400 | | 31400 |

| D | د مال پېرودنه | C |
|---|---|---|
| 9900 د پلورل شوي مال د پېرودنې قيمت<br>2300 دپلورنې مستردي<br>11760 ګټې اوزيان ته دپلورنې عوايد | | 3/6 په طلباتو او د بانک په کسې 11960 |

| D | پوروړی | C |
|---|---|---|
| 1500 - د مال له اخيستنې ځخه 3/9<br>40 د جايزې له حاصل ځخه 3/22<br>32600 S د ختم بيلانس | | AB- 30000<br>3/1 مال اخيستنه 4500 |

| D | طلبات | C |
|---|---|---|
| AB 20000<br>368 د مال له پلورنې ځخه3/6 | | 3/8 د پلورنې له مستردۍ ځخه 2000<br>3/21 دپلورنې مستردي ته 100<br>3/22 د ليږد راليږد لګښتونه 250<br>3/23 د پلورنې مسترد ي 200<br>د ختم بيلانس S - 21130 |
| 23680 | | 23680 |
| 34500 | | 34500 |
| | 23960 = 23960 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| D | ماشين آلات | C |
|---|---|---|
| AB- 30000 | | د ختم بيلانس 30000 |
| 30000 | | 30000 |

| D | كسي | C |
|---|---|---|
| AB -15000 | | 3/1 مال اخيستني ته 6300 |
| 3/6 د مال له پلورني څخه 552 | | 3/11 مال اخيستني ته 5880 |
| 3/20 دمال پلورني څخه 4850- | | 3/12 د ليږد راليږد لګښتونه 600 |
| | | د ختم بيلانس 12590 |
| 2537 | | 2537 |

| D | د پلورنې مستردي | C |
|---|---|---|
| 2000 له طلباتو څخه 3/8 | | د مال پلورنې ته 2300 S |
| 100 له طلباتو څخه 3/21 | | |
| 200 له طلباتو څخه 3/25 | | |
| 2300 | | 2300 |

| D | بانک | C |
|---|---|---|
| AB 8000 | | 3/11 مال اخيستنه 3920 |
| 2760 دمال له پلورني څخه 3/6 | | 3/29 بانکی پورته 8000 |
| 679 دمال له پلورنی څخه 3/20 | | د ختم بيلانس 5630 |
| 17550 | | 17550 |

| D | د ليږد راليږد لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 600-6 له کسي څخه 3/12 | | په ګټه او زيان -600 s |
| 600 | | 600 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| D | د جایزې لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 250-10 له طلباتو څخه 0/23 | | په ګټه او زیان 250-S |
| 250 | | 250 |

| D | د تنزیل حاصل | C |
|---|---|---|
| په ګټه اوزیان 200-s | | 3/11 مال پلورنې ته 200-5 |
| 200 | | 200 |

| D | د جایزې حاصل | C |
|---|---|---|
| په ګټه او زیان S- 400 | | 400-9 |
| 400 | | 400 |

| D | تعمیرات | C |
|---|---|---|
| AB – 40000 | | د ختم بیلانس 40000-S |
| 40000 | | 40000 |

| D | د تنزیل لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 360 د مال پلورنه | | په ګټه اوتاوان S-360 |
| 360 | | 360 |

| D | طلبات | C |
|---|---|---|
| 50000 | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ازمایښتي شکل سره آزمایښتي بیلانس ( Trail Balance)

| د کل دفتر د حسابونو نوم | LF | C | D |
|---|---|---|---|
| ځمکه | | | 40000 |
| تعمیرات | | | 40000 |
| ماشین آلات | | | 30000 |
| تجهیزات | | | 20000 |
| مال | | | 20000 |
| طلبات | | | 21130 |
| بانک | | | 5630 |
| کسه | | | 12590 |
| دپلورني حاصلات | | 11760 | |
| د تنزیل حاصل | | 200 | |
| د جایزي حاصل | | 400 | |
| د تنزیل لګښتونه | | | 360 |
| د جایزي لګښتونه | | | 250 |
| بانکی پور | | 12000 | |
| پوروړي | | 32600 | |
| پانګه | | 1333000 | |
| مجموعی ستني | | 18960 =18960 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تصدي د بيلانس شيت او د شخصي پانګې د ګټې اوتاوان د حساب ترتيب په لاندي ډول دي:

| D | د ګټې او زيان حساب | C |
|---|---|---|
| 360 د تنزيل لګښتونه | | 11760 دپلورني حاصلات |
| 250 د جايزې لګښتونه | | 200 د تنزيل حاصل |
| 11750 ګټه | | د جايزي حاصل 400 |
| | 12360 = 12360 | |

| D | شخصي پانګه | C |
|---|---|---|
| S,144750 | | AB 133000 پانګه |
| | | 11750 ګټه |
| | 144750 = 144750 | |

| د شاکر د سوداګريزوبيلانس شرکت بيلانس شيت نېټه ۲۹ / ۳/ ۱۳۸۷ | |
|---|---|
| ACTIVE | PASSIVE |
| 40000 خمكه | |
| 40000 تعمير | 144750 شخصی پانګه |
| 30000 ماشين آلات | |
| 20000 تجهيزات | 12000 بانکی پور |
| 20000 مال | |
| 21130 طلبات | 32600 پوروړي |
| 5630 بانک | |
| 12590 کسه | |
| EA 189350 = EP189350 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دویم څپرکي لنډیز

اړینه ده چې د مالونو د مختلفو حسابونو په هکله لازم معلومات زده کړئ:

۱- د مال ګډ (مختلط) حساب

۲- د مال پېرودنې حساب

۳- د مال پلورنې حساب

۴- د مالونو د چمتوکولو قیمت او لګښت

۵- د مالونو مستردي

۶- د مالونو تخفیف

۷- د مالونو (امتعې) جایزې

۸- د مالونو تنزیل.

**۱ـ د مال ګډ (مختلط )حساب:** دهغه مال حساب چې په هغه کې د شتمنۍ موجودي او پلورلو پایلې په ګډ( مختلط) صورت شتوو ولري.

**۲ ـ د مال پېرودنې حساب:** د بیلانس د حسابونو له جملې څخه یو حساب دی، چې د دوو فرعي حسابونو لرونکی ( د پېرودنې مستردي او د مالونو د تهیه کولو قیمت )وي.

**۳ـ** د نتیجوي حسابونو له جملې څخه د مالونو دپلورنې حساب دی، چې د تصدي د مالونو د پلورنوپایله تثبیتوي.

**۴ ـ** د یوي تصدۍ د مالونو د تهیه کولو قیمت، د پلورنې د قیمت او د مالونو د تهیه کولو له قیمت سره مساوی، یعنې که د یومال د پېرودنې بیه ۱۹۰۰۰۰ افغانۍ وي او لګښت یې (دهغه د تیارۍ لګښتونه) ۱۰۰۰۰ افغانۍ او د هغه د تهیې بیه له ۲۰۰۰۰۰ افغانیو سره مساوي ده اویا د تهیې بیه = دتهیې لګښتونه + دپېرودنې بیه.

**۵ ـ** په تصدیو کې کیدای شي دوه ډوله مستردي یعني د مال پېرودنې مستردي او د مال پلورنې مستردي شتون ولري ، چی کره لامل یې د پیرودونکي د قناعت نه حاصلول دي.

یا دپېرودنې مستردي د مال پېرودنې پورې اړه لري او د پلورنې مستردي د مال پلورنې پورې اړه لري چې د پلورلو او پیرودلو د کموالي لامل ګرځي.

**۶ ـ د مالونو تخفیف او تنزیل:** د جنسونو په قیمت کې له کموالي څخه عبارت دی چې دپلورنکي له لوري پیرودونکي ته د بیلابیلو لاملونو او هدفونو له امله په پام کې نیول کیږي، یعنې په تخفیف کې پیرودل په زیاتې کچې سره د پلورونکي د نظر مطابق وي او په تنزیل کې فوري او نغدي ورکړه په پام کې نیول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دویم څپرکي پوښتنې

۱ـ د مال ګډ (مخلوط) او سوچه حساب څه ډول حساب دی، په دې هکله معلومات ورکړئ؟

۲ ـ د مالونو د مستردۍ مهم دلیل څه دی او څرنګه په کومو حسابونو کې درج کیږي؟

۳ ـ مالونه په کومه بیه په حسابي دفترونو کې درجیږي، په دې اړه معلومات ورکړئ؟

۴ ـ د سوداګریز تخفیف او تنزیل ترمنځ توپیر څه دی، روښانه یې کړئ؟

۵ ـ د مالونو کوم وخت او ولې په پام کې نیول کیږي؟

لاندې پوښتنې محاسبه کړئ:

د مال بیه ۶۰۰۰۰۰

نغدي ۳۰ ٪

په پور ۷۰٪

په تنزیل ۸ ٪

۱ ـ د پیرودنو په صورت کې تنزیل ارزیابي کړئ؟

۲ ـ د پلورنو په صورت کې تنزیل محاسبه کړئ؟

۳ ـ ۱۰٪ د مال له جملې څخه په پور پلورل شوي مستردیږي؟

۴ ـ یادط شوې معاملې د ژورنال او لیجر په دفترونوکې درج کړئ؟

۵ ـ د پورتنۍ بیلګې په نظر کې نیولو سره د مالونو د پیرودنې اوپلورنې د ۱۰٪ تخفیف په نظر کې نیولو سره معاملې په حسابي دفترونوکې درج کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریيم څپرکی

## د فرسایش ډولونه

## Deprecidation

**ټولیزه موخه:**

شتمنیو ته ارزښت ورکول او په بیلانس شیټ کې د هغو فرسایش په پام کې نیول.

**د زدکړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین وتوانیږي چې:

- د ثابتو شتنمیو فرسایشات د هغوی د لګښتونو د تخصیص په توګه و پیژني.
- د ثابتو شتنمیو، د فرسایشاتو علل وپیژني.
- د فرسایشاتو د ارزونې میتودونه وپیژني.
- په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د فرسایشاتو د شیټ په طریقه باندې وپوهیږي.

### د فرسایشاتو ډولونه (Deprecidation)

**الف: د فرسایشاتو تعریف او مفهوم:**

لګښتونوته د تخصیص شوي میتود فرسایشات (د مصارفو ویشل).

د محاسبې له اړخه فرسایشات د ارزښت ورکولو په معنا نه، بلکې د لګښتونو ویشل دي.

د مارکیټ د ارزښت د کموالي له امله شتمني نه فرسایش کیږي، بلکې د لګښتونو د ویشلو پربنسټ په سیستماتیک ډول ارزښت کموي، نوځکه کولای شو فرسایشات په لاندې ډول تعریف کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرسایشات د ثابتې شتمنۍ د لګښتونو د پروسې له توزیع څخه عبارت دي چې په منطقي ډول د دې شتمنۍ په اقتصادي عمر توزیع کیږي.

له هغه ځایه چې د شــتمنۍ ارزښــت د وخت په تیریدو سره کمیږي او د محاســبې له لارې وخت په وخت نه ارزول کیږي، ځکه چې ارزونه یوســخت کار دي، له همدې امله د شــتمنۍ لګښتونه د ارزښت د کمښت په توګه د هغه په اقتصادي عمر ویشل کیږي.

کله چې ثابتې شــتمنۍ زړې شي او خپل ارزښــت کم کړي، په هغه صورت کې د فرســایش اصطلاح د ارزښــت د کمښــت د اندازه کولو لپاره اســتعمالیږي ، مګر دطبیعي سرچینو لپاره لکه ځنګل، کانونه، تیل، د ډبرې سکاره اوداسې نور چې کله مصرفیږی، نو تخلیه ورته ویل کیږي.

د غیر عادي شتمنیو د اقتصادي عمر د تیریدو لپاره لکه سند، سرقفلي ، د چاپ حق او ورته نورو ته د فرسایشات اصطلاح کارول کیږي.

**ب: د فرسایشاتو عوامل:**

د فرسایش په پروسه کې لاندې عوامل شامل دي:

۱ـ د فرسایش بنسټ: یعنې فرسایش له څه شي څخه ارزول کیږي؟

۲ ـ د شتمنۍ اقتصادي عمر

۳ ـ د فرسایش میتودونه

۴- د شتمنیو لپاره د فرسایش اساس

**۱- د شتمنیو لپاره د فرسایش بنسټ:**

د فرسایش بنسټ د دوو عاملو تابع دی:

**الف: ابتدايي لګښتونه یا د شتمنۍ پېرودنه:**

**ب: پاتې شــوی ارزښــت:** عبارت له هغه تخمیني ارزښــت څخه دی، چې د تولید له پروسې څخه د شتمنۍ د ایستلو پر وخت رامنځته کیږي.

د مثال په ډول: که یوه شتمني چې بیه یې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ وي او دهغې پاتې شوی ارزښت ۱۰۰۰۰ افغانۍ وي نو د هغه د فرسایش بنسټ ۹۰۰۰۰ افغانۍ دی.

پاتې شوی ارزښت ـ د تهیې مصارف = د فرسایش بنسټ

۹۰۰۰۰ =۱۰۰۰۰۰ـ ۱۰۰۰۰

د پاتې شــوي ارزښــت وړاندینه له یوې تصدۍ څخه تربلې تصدۍ پورې فرق کوي، حتا تردې پورې چې په ډېرو تصدیوکې دا ارزښــت له پامه غورځول کیږي، سربیره پردې چې ځینې شــتمنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل وروستي اقتصادي عمر کې د ډېر قیمت درلودونکي وي.

**۲ ـ د اقتصادي عمر ټاکل:** د شتمني اقتصادي عمر ( د ګټې اخیستنې مودې ) له عمر څخه یعنی د هغه تخمیني عمر څخه متفاوت وي، ځینې وخت ماشین الات سربیره پردې چې د هغوی اقتصادي عمر پای ته رسیدلي وي، خوکیدای شي د تخنیک له مخې د ګټې وړ وي او د هغوی تولیدي ظرفیت د ټاکلي تولید لپاره مناسب وي. خو بیاهم د ګټې اخیستنې وړ نه ګرځي. ځکه چې د هغوی تولیدي لګښتونه په وروستیو کلونوکې امکان لري چې ډېر لوړ وي.

په عام ډول، شــتمني درې لاملونوته په کتو سره فرســایش کیږي. چې د شــتمنیو پر اقتصادي عمر باندې د تخنیکي ګټې اخیستنې پر وخت اغیزه کوي.

**الف: فزیکي عوامل:** (د دستګاه د تخنیکي ګټې اخیستنې د وخت پای ته رسېدل)

**ب: اقتصادي عوامل:** (د غیر مترقبه عواملو له وجې د شتمنیو د ارزښت کموالی)

**ج: طبیعي عوامل:** د غیر مترقته عوامل له امله د شتمنیو د ارزښت کموالی د تخنیکي عواملو زړېدل، شړېدل دي. چې دستګاه یاماشین آلات په تدریجي ډول له منځه وړي چې د ماشین الاتو د اقتصادي عمر لپاره بهرني محدودیتونه منځته راوړي.

اقتصادي عوامل په دریو برخو ویشل کیږي:

الف: د دستګاګانو نه بسنه (یا عدم کفایت).

ب: د نوې دستګاه په واسطه د پخوانۍ دستګاه بدلون.

ج: د ماشین او دستګاه د ارزښت را ټیټیدل.

د دســتګاه عدم کفایت هغه حالت دي، چې ماشــین آلات له فعالیت نه ولویږي او یا د تولید دغــه اندازه تصدۍ ته کافي نه وي. مثلا د ډیر تولید لپاره دیوه داســې لوی تعمیر ضرورت چې د ډېرو دستګاو او ماشین آلاتو وړتیا ولري.

**تعویض:** د یوې دستګاه له بدلولو څخه عبارت دی، چې نوې دستګاه یې پرځای کارول کیږي.

مثــلأ دیو زوړ ماډل کمپیوټــر بدلول د یوه نوي اومډرن کمپیوټر په واســطه یا د ۷۶۸ بوینګ الوتکې بدلول د ۷۷۷ الوتکې په واسطه.

د دســتګاوو او ماشین آلاتو د ارزښت ټیټولو حالت داسې یو حالت دي، چې ماشینونه په کافي اندازې سره زاړه شوي وي او د استفادې وړ نه وي. چې له هغو څخه د ګټې اخیستنې په صورت کې د تصدي تولیدي لګښتونه لوړ ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**طبيعي عوامل:** دا فرسایش د غیر مترقبه پېښو او یا هم د طبیعی عواملو له امله منځ ته راځي چې وړاندوینه یې کوم ساده کار نه دی.

مثلاً د شتمنیو یوه برخه یا ټوله شتمني د زلزلې، سیلاب او یا هم د نورو پېښو له امله منځه ځي.

### ۳ ـ د فرسایش د ارزولو میتودونه

د فرسایش د ارزولو میتودونه یا طریقې یا د شتمنیو په عمر کې د لګښتونو د ویشلو طریقه، د فرسایشاتو د پروسې یو بل لامل دی.

د فرسایش په دې طریقه کې باید په سیستماتیک ډول د فرسایش ارزولو مختلفې طریقې شتون ولري، چې په لاندې توګه ویشل شوي دي:

۱ـ د فعالیت پربنسټ د فرسایش طریقه.

۲ـ د خطي فرسایش طریقه.

۳ـ د فرسایش نزولي طریقه.

دا میتود هم په دوو لاندې برخو ویشل کیږي:

الف: د ټولو کلونو طریقه (د ریاضي نزولي استهلاک).

ب: د نزولي بیلانس طریقه (د هندسي نزولي استهلاک).

### ۴ـ د صعودي فرسایش طریقه:

**۱ـ د فعالیت پربنسټ فرسایش:** دا طریقه د متحولو لګښتونو د طریقې په نامه یادیږي، په دې طریقه کې فرسایش د دستګاه د فعالیت تابع وي، نه وخت. دستګاه د ګټې اخیستنې موده د تولید شکل (تولیدی واحدونه) او یا د تولیدي عواملو شکل. مثلاً د دستګاه د کار د ساعتونو شمېر محاسبه کیږي، خو د هغوی مناسبه طریقه په نظر کې نیول تولیدي واحدونه دي، چې د فرسایشاتو ارزونه په کې په پام کې نیول کیږي ، خو ځینې وختونه چې تولیدات د اندازه کولو وړ نه وي، د دستګاه د کار ساعتونه د عواملو په توګه د دستګاه د فرسایش ارزولو لپاره تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کیږي.

د مطالبو د روښانتیا لپاره لاندې بېلګې په نظرکې نیسو:

فرض کړئ د کان کیندولو لپاره یوه پایه د جرثقیل ماشین اخیستل کیږي، د دې ماشین د اخیستنې اړوند معلومات او ارقام په لاندې ډول ورکړل شوي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جرثقیل بیه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ

د ګټې اخیستنې د وړاندوینې وخت ۵ کاله

د پاتې شوي ارزښت موده ۵۰۰۰۰ افغانۍ

په ساعت باندې د تولید موده ۳۰۰۰۰ ساعته

د پورتــه ارقامــو په پام کې نیولو سره فرســایش د کار د فعالیت په توګه په کار اچوو او بیایې محاسبه کوو.

د کار د ساعتونو تعداد + پاتې شوی ارزښت ـ د جرثقیل بیه = د لومړي کال فرسایش.

$$\text{د لومړي کال فرسایش} = \frac{\text{پاتې شوی ارزښت} - \text{د جرثقیل قیمت}}{\text{د کار ساعات په شمېر}} \times \text{د کار د ساعتونو ټول شمېر}$$

$$\text{د لومړي کال فرسایش} = \frac{(500000 - 50000)\,4000}{30000} = 60000 \quad \text{د لومړي کال فرسایشات.}$$

د دې طریقې نیمګرتیاوې دا دي، کله چې استهلاک د وخت تابع وي، خو د دستګاه د فعالیت تابــع نــه وي، نو په دې صورت کې دغه میتود مفهوم نلري. مثلاً د تعمیر په اســتهلاک کې وخت ډېر رول لري، نه له هغه څخه د ګټې اخیستنې نسبت.

**۲ـ د فرســایش خطی طریقه (د وخت تابع):** په دې میتودونو کې د یوې دســتګاه فرسایش د وخت تابع وي، نه د دستګاه د فعالیت تابع. یعنې په دې میتود کې د دستګاه فرسایش په نظر کې نیول کیږي او د هغه د آسانتیا له امله په ډېرو کارونو کې د ګټې وړ ګرځي او ډېری وخت تصدي قناعت لرونکې پایلې له همدې میتود څخه په لاس راوړي.

کله چې د وخت د تابع دستګاه د ګټې اخیستنې موده په نظر کې نیول کیږي. د یادې شوې دســتګاه د قیمت ټیټوالی په مختلفو دورو کې ممکن ثابت وي. د مخکیني کال د جرثقیل خطي فرسایش په لاندې ډول محاسبه کیږي.

د دې مطلب د لا ډېر روښــانتیا لپاره یعنې د خطي اســتهلاک میتود له لاندې معلوماتو څخه په ګټې اخیســتنې سره د یوې دســتګاه د اقتصادي عمر فرسایشات په لاندې ډول په یو جدول کې په پام کې نیسو:

- د دستګاه د تهیې بیه ۲۰۰۰۰۰
- تخمین شوې اقتصادي عمر ۵ کاله
- د استهلاک نرخ ۲۰ ٪

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شمېره | د تهيې قيمت | اقتصادي عمر | سلنه | د استهلاک پيسې | فورمول | پاتې شوی نرخ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | 200000 | 5 کاله | 20% | 40000 | $\frac{200000*20}{100}=40000$ | 160000 |
| ۲ | 200000 | 5 کاله | 20% | 40000 | $\frac{200000*20}{100}=40000$ | 120000 |
| ۳ | 200000 | 5 کاله | 20% | 40000 | $\frac{200000*20}{100}=40000$ | 80000 |
| ۴ | 200000 | 5 کاله | 20% | 40000 | $\frac{200000*20}{100}=40000$ | 40000 |
| ۵ | 200000 | 5 کاله | 20٪ | 40000 | $\frac{200000*20}{100}=40000$ | 0 |
| ۶ | | | | | | |

يـوه نيوکـه چې پر دې ميتود بانـدې کيږي هغه دا ده چې په دې ميتـود کې دوه غير عملي فرضيې په پام کې نيول کيږي.

۱ ـ د دستگاه د اقتصادي بيې ټيټوالي په ټولو دورو کي ثابت دی.

۲ـ د ترميم او هم د ساتنې او ځارنې لگښتونه بايد په ټولو دورو کې مساوي او برابر وي.

د ياد شـوي جدول له اعدادو او ارقامو څخه په گټې اخيسـتنې سره د کلني استهلاک د پيسو گراف او پاتې شوی قيمت، کولای شو په لاندې ډول ترميم کړو:

### د فرسايش د نزولي ارزونې طريقه

**نزولي اسـتهلاک:** څرنگه چې له نوم څخه يې ښـکاري، کال په کال د اسـتهلاک په پيسو کې کموالی راځي ، په لومړنيو کلونو کې د لوړ فرسـايش يا د لگښتونو د زيات ويش مهم دليل دا دی چې د دستگاه لگښت د دورې په پيل کې لوړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نزولي فرسایش میتود په لاندې دوو طریقو ارزول کیږي:

الف: د ریاضي نزولي استهلاک.

ب: د نزولي استهلاک (هندسي) طریقه.

**الف: د ریاضي نزولي اسـتهلاک (د کلني ارقامو مجموع):** د ارزولو دغه طریقه د فرسـایش د لګښتونو په ټیټیدو سره ارزول کیږي، دغه کموالی د شتمنۍ د فرسایش له ځانګې څخه راڅوکیږي.

ټول کلونه د دې ځانګې د مخرج په توګه په پام کې نیول کیږي.

پـه مخکینـۍ بېلګه کې ( ۱+۲+۳+۴+۵= ۱۵ ) او د کلونو د شـمېر په ترتیب سره د کسر په صورت کې ځای نیسي او د کسر صورت، کال په کال ټیټیږي، خو د کسر مخرج ثابت پاتیږي.

$(\frac{1}{15},\frac{2}{15},\frac{3}{15},\frac{4}{15},\frac{5}{15})$ د کال په پای کې پاتې شوی رقم باید د شتمنۍ له پاتې شوي ارزښت سره مساوي شي.

د لومړي کال اسـتهلاک مسـاوي کیږي د استهلاک له ټولو پیسو سره، د (تهیی بیه) ضرب $\frac{5}{15}$، په دویم کال د استهلاک ټولې پیسې (د تهیې بیه) ضرب $\frac{4}{15}$ چې په همدې ترتیب ادامه پیدا کوي.

**مثال:** د یوې پایې ماشین د تهیې قیمت له ۱۲۰۰۰۰ عبارت دی او دغه ماشین باید د ۵ کلونو په موده کې د پاتې شـویو ۳۰۰۰۰ په ارزښـت اسـتهلاک شي، نو (۱+۲+۳+۴+۵=۱۵ ) او ټولې پیسـې د اسـتهلاک د ارزولو لپـاره عبارت دي لـه (۹۰۰۰۰ = ۳۰۰۰۰ - ۱۲۰۰۰۰)، چې د لاندې فرمول مطابق ترسره کیږي او د دې ماشـین د پاتې شونې داغمې ارزښت ۳۰۰۰ افغاني په نظر کې نیول شوی.

$$\frac{1*90000}{15}=6000$$

د تهیې قیمت = ۱۲۰۰۰ افغانۍ

د ګټې موده = ۵ کاله

د داغمې پاتې بیه = ۳۰۰۰ افغانی

د استهلاک وړ پیسې = ۹۰۰۰ = ۳۰۰۰ – ۱۲۰۰۰

د دویم کال پاتې پیسې = ۶۰۰۰ =۳۰۰۰ – ۹۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

| پاتې شوې پیسې | د استهلاک پیسې | فورمول ته په کتو سره د ارزونې طریقه | د کلونو شمېر |
|---|---|---|---|
| 60000 | 3000 | $\frac{5*90000}{15}=30000$ | لومړی کال |
| 60000 | 24000 | $\frac{6\times 90000}{15}=4\times 6000$ | دویم کال |
| 36000 | 18000 | $\frac{3\times 90000}{15}=6000\times 3$ | درېیم کال |
| 18000 | 12000 | $\frac{2\times 90000}{15}=2\times 6000$ | څلورم کال |
| 6000 | 6000 | $\frac{1\times 90000}{15}=1\times 6000$ | پنځم کال |
| | 90000 | 15کاله | ټول |

**ب: هنــدسي نزولي فرسـایش:** په دې صورت کې په ثابتې سـلنې سره پـه لومړي کال کې د اسـتهلاک د تهیې قیمت له مخې ارزول کیږي، په وروسـتنیو کلونو کې د ثابتو شـتمنیو له دفتري قیمتونو سره ارزول کیږي او په دې وسیله د کلني استهلاک پیسې نزول کوي.

**مثال:** یوه پایه ماشـین د ۱۲۰۰۰۰ افغانیو په ارزښـت پیرودل کیږي اوکلنۍ ګټه یې ۳٪ په پام کې نیول شـویده او اقتصادي عمر یې پنځه کاله تخمین شـوی، چې ارزښت یې د نزولي هندسي فرسایش میتودونو پر بنسټ په لاندې ډول ښودل شوی:

| کلونه | هغه پیسې چې له هغه څخه استهلاک کیږي. | داستهلاک فیصدي | داستهلاک پیسې | دفتري بیه د کال په پای کې |
|---|---|---|---|---|
| لومړی کال | 120000 | 3٪ | 36000 | 84000 |
| دویم کال | 84000 | 3% | 25200 | 58800 |
| درېیم کال | 58800 | 3% | 17640 | 41160 |
| څلورم کال | 41160 | 3% | 12348 | 28812 |
| پنځم کال | 28812 | 3% | 8643 | 20169 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

که محاســب وغواړي ثابتې شتمنۍ د نزولي هندسي استهلاک پر بنسټ استهلاک کړي؛ نو باید دوه برابره فیصدي یا تر هغې هم زیاته چې په خطي اســتهلاک کې کار ترې اخیســتل کیږي په کار واچوي.

مثلاً یوه پایه ماشــین په پنځه کلونو کې اســتهلاک کیږي؛ نو د خطي اســتهلاک په صورت کې باید ۲۰٪ ماشــین اســتهلاک شي، ترڅو ماشین د پنځوکلونو په عمر په بشپړه توګه استهلاک شي. په داســې حال کې چې نزولي هندسي اســتهلاک له ۳۰ تر ۴۵ کلونو پورې د ماشــین بیه د استهلاک د پیسو په توګه ټاکل کیږي.

**ج: د صعودي فرسایش د ارزولو میتود:** صعودي فرسایش د نزولي فرسایش په څېر په حسابي (ریاضي) او هندسي بڼه ارزول کیږي او له دې میتود څخه په ګټې اخیستنې سره د کلني استهلاک برخه لوړیږي. ځکه چې دا ډول اســتهلاک په ندرت سره پکار وړل کیږي. بنآ د معلوماتو لپاره یې وضاحت ورکوو.

د همدې طریقې توپیر له نزولي طریقې سره دا دی چې د لومړي کال د فرســایش پیسې کمې او د وروستي کال له پیسو څخه ډېرې وي.

د دې طریقې زیاتوالی په دې کې دی چې د لومړي کال تمام شوي لګښتونه کم وي او تصدي کولای شي، د قیمتونه په سیاســت سره د مارکیټ نزولي قیمت تســخیر کړي. محدودیت او تاوان یې په دې کې دی چې د کال په پای کې وسایل زړیږي او جوړولو ته اړتیا لري، چې دا موضوع د تولیداتو تمام شوي لګښتونه په وروستیو کلونو کې فوق العاده لوړوي او که چیرې مارکیټ مشبوع یا نا مساعد وي، نو په دې صورت کې د پلورنو ستونزې منځ ته راوړي.

د لاندې بېلګې په نظر کې نیولو سره د دســتګاه فرســایش د صعودي فرسایش له میتود څخه په ګټې اخیستنې سره محاسبه کوو.

د دستګاه د تهیې قیمت = ۱۹۲۰۰۰ افغانۍ

د ګټې اخیستنې موده = شپږ کاله

د ټولو کلونو د تعداد بڼه = ۱+ + ۲ + ۳ + ۴ + ۵ + ۶ = ۲۱

د لومړي کال فرسایش = $\frac{192000 * 1}{21} = 9142.86$

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د استهلاک پیسې | فورمول | د تهیې قیمت | کلونه |
|---|---|---|---|
| 9142,857 | 1*914,857 | 192000 | لومړی کال |
| 18285,714 | 2*9142,857 | 192000 | دویم کال |
| 27428,571 | 3*9142,857 | 192000 | دریم کال |
| 36571,428 | 4*9142,857 | 192000 | څلورم کال |
| 45714285 | 5*9142,857 | 192000 | پنځم کال |
| 54857,142 | 6*9142,857 | 192000 | شپږم کال |

**د فرسایش د ثبت بڼې:** د فرسایشاتو شیټ په محاسبه کې په دوه ډوله رامنځته کیږي.

۱ ـ د فرسایشاتو د ثبت مستقیم میتود.

۲ ـ د فرسایشاتو د ثبت غیر مستقیم میتود.

**۱ـ د فرسایشاتو د ثبت مستقیم میتود:** وروسته له دې چې د کلني استهلاک وجه د فرسایش فورمول ته په کتوسره ارزیابي شي ، یادې شوې پیسې د استهلاک د لګښتونو په توګه ثبت او د ثابتو شتمنیو ( داستهلاک ، تجهیزاتو ماشین آلاتو، نقلیه وسایلو او نور) له حساب څخه کریډت کیږي او د استهلاک د لګښتونو تفاوت د حسابي دورې په پای کې دګټې او تاوان حساب ته لیږدول کیږي .

مثــلاً که چیرې د یوې پایې ماشــین قیمت ۴۰۰۰۰ افغانۍ او د اســتهلاک پیســې یې ۱۰٪ یا ۴۰۰۰۰ افغانۍ وي، د هغه د ثبت طرز اړوندو حسابونوکې په لاندې ډول دی.

| D | د مخارجو استهلاک | C |
|---|---|---|
| 400000 له استهلاک ماشین | | S, 40000 ګټه او تاوان |
| 40000 = 40000 | | |

| D | ماشین | C |
|---|---|---|
| AB 400000 | | S,400000 |
| 40000 = 40000 | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| گټه او تاوان | |
| 40000 د ماشین د استهلاک مخارج | |

| D | د ختم بیلانس | C |
|---|---|---|
| د ختم بیلانس S.40000 | | 40000 |
| 40000 | = | 40000 |

**۲- د فرسایش غیر مستقیم میتود:** د دې میتود پرنسیپ د استهلاک پیسې د شتمنۍ د تهیې له قیمت څخه نه کمیږي، بلکې یو حساب ته د استهلاک مصحح په نامه کریډټ کیږي او د استهلاکي لګښتونو د حساب تفاوت د سیف بیلانس په طرف د حسابي دورې په پای کې په ګټه او تاوان کې درجیږي. د همدې طریقې پربنســټ شتمني د تهیې پرقیمت، پرته له کوم بدلون څخه په بیلانس کی ښودل کیږي.

د مطلب لا ډېر وضاحت لپاره نوموړې بېلګه د فرسـایش د غیر مسـتقیم میتود په اسـاس په اړوندو حسابونو کې درجوو.

| D | د استهلاک لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 400000 له استهلاک ماشین | | S,40000 ګټه اوتاوان |
| 40000 | = | 40000 |

| D | ماشین | C |
|---|---|---|
| AB 400000 | | S,400000 |
| 40000 | = | 40000 |

| | |
|---|---|
| ګټه او تاوان | |
| 40000 د ماشین د استهلاک مخارج | |

| D | د ختم بیلانس | C |
|---|---|---|
| S.40000 بیلانس ختم | | 40000 |
| 40000 | = | 40000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د طلباتو فرسایش (مشکوک طلبات، هغه طلبات چې غیر قابل حصول دي)

د ثابتو شتمنیو له یو استهلاک څخه پرته د استهلاک یو بل ډول هم شتون لري چې د طلباتو د استهلاک په نامه یادیږي، د دې ډول استهلاک په واسطه دا ثابتیږي، چې د تصدي طلباتو له مجموعې څخه چې د پیرودونکو د طلباتو په دفتر کې ثبت دي، یوه برخه یې په لاس نه راځي. د دې اصل په اساس دکال په پای کې موجودي کول ، نه یوازې دا چې تصدي د خپلو مالونو زېرمې د شمیرلو ، وزن کولو او یاهم د اندازه کولو په واسطه ټاکي، بلکې اندازه او د طلباتو مقدار هم تر برسۍ لاندې نسي.

مثلاً که ټول طلبات ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ وي، نو د طلباتو په ټولو پیسو کې شکمن طلبات، د حصول او غیر حصول طلبات شتون لري.

مشکوک طلبات هغه مهال په نظر کې نیول کیږي چې پوروړی د خپل پور په ادا کولو کې له ستونزو سره مخ شي یا د سوداګریزې محکمې له لوري تصدي ته خبر ورکړل شي ، چې پوروړي وګړي یاتصدي په افلاس اخته شي، نو وروسته د محاسبې د مقرراتو پربنسټ نوموړې پیسې د عادي طلباتو له حساب څخه بهر او په مشکوکو طلباتو کې درجیږي. حسابي جملې یې په لاندې ډول دي.

### له عادي طلباتوڅخه مشکوکو طلباتو ته:

مشکوک طلبات عبارت له هغو طلباتو څخه دي چې تصدي یې په حصول کې شک او تردید ولري.

مثلاً د ۱۵۰۰۰۰ عادي طلباتو له جملې څخه د طلباتو پر یوه برخه باندې چې ۵۰۰۰۰ افغانۍ دي تصدي شک او تردید لري، چې باید د مشکوکو طلباتو حساب ته ولېږدول شي او مشکوک طلبات د بیلانس د اکتیف سمت د حسابونو له جملې څخه دي ، داډول معاملې په لاندې ډول اړوندو دفاترو کې درجیږي.

د ۵۰۰۰۰ روپیو له طلباتو څخه د مشکوکو طلباتو حسابي جملو ته:

| D | مشکوک طلبات | C |
|---|---|---|
| 50000<br>د ختم طلبات | | S, 50000<br>د ختم بیلانس |
| 50000 | | 50000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| D | طلبات | C |
|---|---|---|
| AB/ 150000 | | 50000 مشکوکو طلباتو ته<br>د ختم بیلانس 100000 |
| 150000 | | 150000 |

په وروستي قدم کې تصدي دا تخمین کوي چې له دې مشکوک مبلغ څخه به په کومه اندازه ورته ورکړل شي، اوپه کومه اندازه یې د محصول وړ نه وي؟

یعنې له حصول پرته طلبات باید ثبت شي. بناً هغه معلومات چې تصدي یې لري، د مشکوکو طلباتــو لــه مجموعې څخه د ۳۰۰۰۰ افغانیو په اندازه د حصول وړ دي او پاتې ۲۰۰۰۰ افغانۍ د حصول وړ نه دي، چې دا پیسې باید په غیر مستقیم ډول له سره محاسبه او استهلاک شي.

په همدې موخه د طلباتو د مصحح په نوم یوحساب چې حسابي جملې او حسابي د فترونه یې په لاندې ډول ترتیب کیږي.

**حسابي:** د طلباتو استهلاک ته د طلبات له مصحح څخه د ۲۰۰۰۰ افغانیو په مبلغ

| D | **د طلبات مصحح** | C |
|---|---|---|
| S , 20000 | | 20000 |
| 20000 | | 20000 |

| D | **مشکوک طلبات** | C |
|---|---|---|
| 50000 | | S-50000 |
| 50000 | | 50000 |

| D | **د طلباتو استهلاک** | C |
|---|---|---|
| 20000<br>د طلباتو له مصحح څخه | | S,20000<br>په ګټه او تاوان کې |
| 20000= 20000 | | |

| D | **د ختم بیلانس** | C |
|---|---|---|
| 50000 د طلباتو مشکوک | | د طلباتو مصحح 20000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| D | ګټه او تاوان | C |
|---|---|---|
| 20000<br>د طلباتو استهلاک | | |

ځرنګه چې په حســابونو کې لیدل کیږي، مشکوک طلبات د ختم بیلانس اکټیف سمت کې او مصحح طلبات د ختم بیلانس په پســیف ســمت کې او د طلباتو استهلاک د ګټې او تاوان د ډبټ په حساب کې درجیږي.

**تمرین:** د لاندې پرانیســتونکي بیلانس په پام کــې نیولو سره د ژورنال او لیجر په دفترونو کې معلومات درجیږي، د بیلانس ختم د حساب ګټه اوتاوان ترتیب کړئ؟

| | پرانیستونکی بیلانس | | |
|---|---|---|---|
| - P | شرکت --- نېټه 12 / 29 | | A |
| - | شخصي پانګه 115000 | - | ثابته شتمني |
| - | د غیر پانګه | - | 1-60000 جوړه شوې ځمکه |
| - | پورورې 6900 | - | 2- 15000 تجهیزات |
| | | - | سیاره شتمني |
| | | - | 1- 32000 امتعه |
| | | - | 2- 9700 طلبات |
| | | - | 3- 3300 بانک |
| | | - | 4- 1900 کسه |
| | 121900 | | 121900 |

**هغه معاملې چې د حسابي دورې په لړ کې منځ ته راځي:**

۱ـ د حوت په لومړۍ نېټه تصدي په ۱۰۰۰ نغدو پیسو اوپه ۲۰۰۰ پور مال پلوري، چې ټولې ۳۰۰۰ افغانۍ کیږي.

د نغدي ورکړې په صورت کې ۲٪ کموالی په پام کې نیول شوی.

۲ ـ د حوت په پنځمه نېټه تصدي په ۱۲۰۰ افغانیو وســایل پلوري چې ۵٪ کموالی په کې په پام کې نیول کیږي.

۳- په لسمه نېټه پلورونکی د ۱۵۰۰ افغانیو په ارزښت یوه برخه امتعه مستردوي.

۴- په پنځلسمه نېټه د تصدۍ له طلباتو څخه ۳۰۰۰ افغانۍ شکمنې تثبیت شوې دي.

۵- په ۱۲ او ۲۵ نېټه تصدۍ د خپلو شــخصي اړتیاوو د له منځه وړلو لپاره د ۲۰۰۰ افغانیو په ارزښت مال اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اختتامیه معاملې**

الف: دتعمیر شوې ځمکې استهلاک ۲٪ او له دفتري قیمت څخه غیر مستقیم ۱۲۰۰ افغانۍ.

ب: تجهیزات ۱۰٪ او که له دفتري قیمت څخه غیر مستقیم ۱۶۲۰ افغانۍ.

ج: له نورمال طلباتو څخه د ۱۲۰۰۰ افغانیو په ارزښت غیر قابل حصول شوي. چې استهلاک کیږي. د مشکوک طلب څخه یې ۱۰٪ غیر قابل حصول شوي او نورې مستقیماً استهلاک کیږي.

| شمېره | نېټه | تفصیلات | life | debit | Credit |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | 12/1 | - د کسې لپاره<br>- د تنزیل د مخارجو لپاره<br>- د مال له پلورنې څخه | | 980<br>2000<br>20 | 3000 |
| ۲ | 12/5 | - له کسې څخه تجهیزاتو ته<br>- د تنزیل حاصل | | 1200<br>1140 | 60 |
| ۳ | 12/10 | - له طلباتو څخه د پلورنې مستردۍ ته | | 1500 | 1500 |
| ۴ | 12/15 | - د مشکوکو طلباتو لپاره<br>- له نورمالو طلباتو څخه | | 3000 | 3000 |
| ۵ | 12/25 | - د شخصي برداشت د حساب لپاره د مال له پلور څخه | | 2000 | 2000 |
| الف | معاملی د ختم کال | - د تعمیر استهلاک لپاره- د استهلاک له مصحح نه | | 1200 | 1200 |
| ب | | - د تجهیزاتو استهلاک لپاره د استهلاک له مصحح څخه | | 1620 | 1620 |
| ج | | - د طلباتو استهلاک لپاره<br>- له طلباتو څخه | | 1200 | 1200 |
| د | | - د طلباتو له استهلاک له مصحح څخه د طلباتو استهلاک ته | | 300 | 300 |

د موجودۍ د عملیې په مرسته د امعې وروستۍ موجودي ۱۴۰۰۰ افغانۍ تثبیت شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| D | د امتعې پېرودنه | C |
|---|---|---|
| AB / 32000 | | پلورل شوي مال پر ارزښت باندې په اخيستل<br>18000 شوي قيمت<br>S) 14000) د ختم بيلانس |
| 32000 | | 32000 |

| D | د امتعې پلورل | C |
|---|---|---|
| 1500 له طلباتو څخه 12/10<br>1800 پلورل شوي مال د اخيستل<br>شوي قيمت پر ارزښت | | 12/1 د طلباتو د کسې لپاره او د تنزيل مخارج 3000<br>12/25 شخصي حساب 2000<br>ګټه او تاوان 14500 |
| 19500 | | 19500 |

| D | کسه | C |
|---|---|---|
| AB 1900<br>1980 د مال له پلورڅخه 12/1 | | 12/5 د تجهيزاتو لپاره 2-1140<br>د ختم بيلانس 1740 s, |
| 2880 | | 2880 |

| D | د تنزيل حاصل | C |
|---|---|---|
| S,60 | | ۲-۶۰<br>د تجهيزاتولپاره |
| 60 | | 60 |

| D | شخصي حساب | C |
|---|---|---|
| S, 2000 | | S,2000 پانګې ته |
| 2000 | | 2000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درېيم څپرکي لنډيز

**۱- د فرسايشـــاتو د لګښـــتونو ځانګړي کول:** د ثابتې شتمنۍ د لګښـــتونو د ويشلو له پروسې څخه عبارت دی چې په منطقي او تدريجي ډول سره د دغو شتمنيو پر اقتصادي عمر باندې ويشل کيږي.

**۲ ـ د فرسايشاتو لاملونه:**

الف - هغه لاملونه چې د فرسايشاتو په پروسه کې شامل دي.

**۱ ـ د فرســايش بنســټ:** يعنې بايد مشــخص شي چې فرســايش د شــتمنيو د تهيې د قيمت پربنسټ اروزل کيږي او ياهم د پاتې شوي ارزښت له وضع کيدو وروسته.

**۲**- په تخميني توګه د شــتمنيو اقتصادي عمر تثبيتيږي او دغه اقتصادي عمر له تخنيکي عمر (توليدي وړتيا) سره فرق لري او له ماشينونو څخه د ګټې اخيستنې د مودې په اقتصادي عمر کې لاندې لاملونه مهم رول لري:

الف: فزيکي لاملونه.

ب: اقتصادي لاملونه.

ج: طبيعي لاملونه.

**۳ ـ د فرسايشاتو د ارزولو ميتودونه:**

الف: د فعاليت پربنسټ د فرسايش طريقه:

ب: د خطي فرسايش طريقه:

ج: د فرسايش نزولي طر يقه:

۱ ـ د ټولو کلونو طريقه (د رياضي نزولي استهلاک).

۲ ـ د نزولي بيلانس طريقه (د هندسي نزولي استهلاک).

۳ ـ د فرسايشاتو د ثبت طريقې:

الف په مستقيم ډول.

ب په غير مستقيم ډول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د درېیم څپرکي پوښتنې

الف ـ لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ؟

۱ ـ فرسایشات تعریف او په یوه تصدي کي د فرسایشاتو د ارزولو موخه څه ده، روښانه یې کړئ؟

۲ ـ د فرسایشاتو اقتصادي عوامل کوم دي، روښانه یې کړئ؟

۳ ـ د دستګاه اقتصادي عمر او د تخنیکي ګټې موده (تولیدي ظرفیت) څه فرق لري؟

۴ ـ هغه اقتصادي عوامل چې ثابتې شتمنۍ د فرسایش او استهلاک پر لور خوځوي کوم دي، په دې اړه معلومات ورکړئ؟

۶ ـ هغه طبیعي عوامل چې د فرسایشاتو پروسه تر اغیزې لاندې راولي کوم دي، نومونه یې واخلئ؟

ب: لاندې پوښتنې محاسبه کړئ.

۱ـ د تعمیر شویو ځمکو د تهیې قیمت ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ دی.

۲ ـ د ماشین آلاتو دفتري قیمت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ دی.

۳ ـ د تجهیزاتو دفتري قیمت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ دی.

الف: د جوړو شوو ځمکو استهلاک ۱۰٪ په غیر مستقیم ډول سره ارزیابي کړئ او په اړوندو دفترونو کې یې ثبت کړئ؟

ب: د ماشین آلاتو استهلاک له دفتري قیمت څخه ۲۰٪ په غیر مستقیم ډول سره محاسبه او په اړوندو دفترونو کې یې درج کړئ؟

ج: د تجهیزاتو استهلاک ۵٪ له دفتري قیمت څخه په غیرمستقیم ډول سره محاسبه او په اړوندو دفترونو کې یې درج کړئ؟

۳ ـ د یوې دستګاه د تهیې قیمت ۶۰۰۰۰۰ افغانۍ تخمین شوي، عمر یې ۱۰ کاله او د استهلاک نرخ ۱۰٪ ، د دستګاه کلنی فرسایش له خطي میتود څخه په ګټې سره ارزیابي کړئ؟

ـ د دستګاه کلنی فرسایش د ریاضي د نزولي استهلاک له میتود څخه په ګټې اخیستنې سره محاسبه کړي؟

ـ د دستګاه کلنی فرسایش د هندسي د نزولي استهلاک له میتود څخه په ګټې اخیستنې سره ارزیابي کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## تعديلي يا تصفيوي معاملې
## Adjusting Entries

**ټوليزه موخه:**

د تعديلي يا تصفيوي معاملو پېژندنه او د شتمنيو د ارزښت معلومول، د شتمنيو له انډول او تعديل وروسته د حسابي دوره.

**د زدکړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به محصلين له لاندنيو مطالبو سره آشنا شي:

- د تعديلي يا تصفيوي معاملو ډولونه.
- د حسابي دورې په پای کې د معاملو د تعديل اړتيا.
- په يوې تصدۍ کې د حسابي پراونو طرزالعمل يا کړنلاره.
- د محاسبوي مرحلو د کنټرول د وسيلې په توګه د ورک شيټ (WORK SHEET) ترتيب، چې په توحيدي ډول سرته ورسيږي.

**۱. د تعديلي يا تصفيوي معاملاتو مفهوم:** د دې لپاره چې لاسته راغلي زماني عوايد په اړوند حساب کې درج شي او رامنځته شوي د وخت لګښتونه محاسبه او درج شي، د تعديلي يا تصفيوي معاملاتو څخه د ګټې اخيستنې اړتيا د حسابي دورې په پای کې منځ ته راځي.

لنډه دا چې ځينې تعديلات دا ايجابوي تر څو له يوې خوا د عوايدو په برخه کې ډاډ حاصل شي او له بل لوري متوازن پرنسيپونه پلي شي.

په ټاکلي وخت کې په بيلانس کې د راپور د تعديلي معاملاتو اجرا، د شتمنيو سم او مناسب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثبــت، د شــخصي سرمايې بدهي او همدارنګه په اړونده حســاب کې د ګټې او زيان  د مناســب تشخيص زمينه برابروي.

سربېره پردې چې ازمايښــتي بيلانس يو د بل پروړاندې د محاســبوي ارقامو لومړۍ مرحله ده، نو امکان لري چې بشپړ اقلام و نه لري. د مثال په توګه:

ځينې معاملې بايد په ورځني ډول په ازمايښتي ژورنال کې ثبت شي. ځکه چې په سمه توګه د ثابتو شــتمنيو د استهلاک ثبتول د وخت په تېرېدو سره منځته راځي، يعنې د حسابي دورې په پای کې له تعديلي معاملاتو څخه د تصدۍ د مالي حسابونو په رامنځته کولو کې ګټه اخيستل کيږي.

د يادونې وړ ده چې هره معامله بايد تحليل او وڅېړل شي ترڅو وليدل شي چې د  حســابونو لپاره چمتو ده او که نه؟

د تعديــلي يا تصفيوي معاملاتو تر سره کول ډېری وخــت يوه پيچلې اومغلقه وظيفه ده، چې يو ځانګړی مهارت ته اړتيا لري.

د تصدۍ د تعديلي ياتصفيوی ارقامو د راټولونې لپاره زيرمو او وسايلو ته اړتيا ده ، همدارنګه ښه به داوي چې تصدي د بيمې د حمايوي پاليسۍ يو منظم او منسجم پروګرام ، د کرايې هوکړه ليک او تړونونه ولري.

**۱. ۲ـ د تعديلي يا تصفيوي معاملاتو ډولونه Typ of Adjusting Entries:** تعديلي يا تصفيوی معاملې په لاندې دوه عمده برخو ويشل کيږي:

الــف: مخکې ورکړې (پيــش پرداخت ها) او يا تحقق موندلې معاملــې AccrualsDeferrals prepayments

ب:  عوايد او تحقق موندونکي لګښتونه  Accrual Revenue and Expenses

اوس د دې معاملاتو دګروپ په هکله په جلا ډول  سره اړينې څرګندونې وړاندې کيږي.

الف:  مخکې ورکړې او يا تحقق موندونکې معاملې Deferrals prepayments Accruals

همدارنګه دا معاملې هم په دوو لاندې برخو ويشل کيږي:

A:  د مخکــې ورکړې لګښــتونه  (انتقالي اکتيف) (prepaid expenses): هغه لګښــتونه چې په نغدي ډول ادا کيږي او مخکې له دې چې ورڅخه ګټه واخيســتل شي او په مصرف ورســيږي د (انتقالي اکتيف) شــتمنۍ پــه توګه ثبتيږي او د مخکې ورکړې (پيش پرداخت) د لګښــت په نامه محاسبه کيږي.

کله چې مخکې ورکړه رامنځته کيږي، د شتمنۍ حساب ډبټ کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې ورکړه یا (پیش پرداخت) په عمومي توګه د لوازمو او وسـایلو او د کرایې او اشـتهاراتو په برخه کې رامنځته کیږي او سربیره پردې کله چې تعمیر یاتجهیزات اخیسـتل کیږي؛ نو مخکې ورکړه رامنځته کیږي.

د مخکې ورکړې لګښـتونه د وخت په تېرېدو سره لـه منځه ځي او یا تصفیه کیږي، له کرایې څخه په ګټې اخیسـتنې سره (لکه لوازم او اسـباب) د جنس د ثبت لپاره د ورځني ثبت مصارف لازم ندي، بلکې د مالي حسابونو جوړولو تر وخته پورې ځنډیږي.

تعدیلي معاملې په هر ټاکلي وخت کې رامنځته کیږي، ترڅو په کار واچول شي او په روانه دوره کې لګښت وښیي او بلې خوا ته د هغې نه کارول شوې ځانګه د شتمنۍ په حساب کې وښیي.

له تعدیل وړاندې شتمنۍ ډېره لیدل کیږي او لګښتونه یې کم دي.

بناءً معامله د مخکې ورکړې (پیش پرداخت) لګښتونو له تعدیل وړاندې د لګښتونو د حساب په ډبټ او همداراز د شـتمنۍ د حسـاب په ستنو کې ثبیتیږي او له تعدیل وروسته د لیږدوونکې اکتیف شتمنۍ په حساب کې ډبټ او له لګښت (مخارج) څخه کریډت کیږي همداراز د مخارجو د حساب تفاوت د ګټې او تاوان حساب ته لیږدیږي.

تعدیلي معاملې په هر ټاکلي وخت کې رامنځته کیږي، ترڅو په کار واچول شي.

مثال: تصدي د راتلونکي کال کرایه په نغدي او وړاندینې (پیشـکي) توګه ادا کوي، د ۱۲۰۰۰ افغانیو حسابي صورت او اړوند دفترونه په لاندې ډول دي:

حسابي جملې

له کسې څخه د کرایې د لګښتونو لپاره ۱۲۰۰۰ افغانۍ

| D | کسه | C |
|---|---|---|
| AB-40000 | | 1-12000<br>د کرایې لګښتونه |

| D | کرایې لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 12000 له کسې څخه | | 12000-2 |

د حسـابونو د تړلو په وخت کې د کرایې لګښتونه باید ګټې او زیان ته لیږدول شوي وای، خو څرنګـه چې په مثال کې ولیدل شـول کرایه د راتلونکي کال پـورې اړه لري؛ نو ځکه هغه باید د دې کال د ګټې او تاوان حسـاب ته ونه لیږدوو. همدا پیسـې د کرایې د لګښتونو له حساب څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډېټ کیږي او د انتقالي اکټیف (شتمنۍ په جلا حساب کې ډبټ کیږي.

| D | د انتقالي اکټیف مخکنۍ دورې لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 2-12000 | | |

د دورې په پای کې د لیږدوونکي اکټیف حساب فرق د بیلانس شیټ ستنو ته لیږودل کیږي.

په نوي کال کې چې دکرایې نېټه پای ته ورسیږي، په دې وخت کې لیږدوونکی اکټیف حساب کریدیټ او دکرایې لګښتونه ډبټ کیږي.

پدې صورت کې دکریډېټ د انتقال اکټیف حساب او د کرایې لګښتونه ډبټ کیږي او د کرایې د لګښــتونو د حســاب تفاوت د ګټې او تاوان حســاب ته لیږد مومي ، ځکه چې د همدې دورې اړوند دي. چې په لاندې ډول یې په حسابونو کې درجوو.

| D | د لګښتونو کرایه | C |
|---|---|---|
| 3,12000<br>له انتقالي اکټیف څخه | | S,12000<br>په ګټه اوزیان |
| 12000 | | 12000 |

| D | د انتقالی اکټیف مخکیني لګښتونه | C |
|---|---|---|
| AB -12000 | | دکرایې لګښتونه<br>12000-3 |

| D | ګټه او زیان | C |
|---|---|---|
| s-12000 د کسي لګښتونه | | |

## د مخکې موندنې عواید (انتقالي پسیف)

له هغو عوایدو څخه عبارت دي، چې په نغدي توګه لاســته راځي خو د روانې حســابي دورې پورې اړه نه لري بلکې مخکې موندل شوي دي. بناءً (انتقالي پسیف) د پورونو بنه لري او په لاندې ډول معامله کیږي.

د ربحې حاصل د یو قلم عاید په توګه د ګټې او زیان حســاب ته لیږدول کیږي خو په پورتني مثال کې ربح د راتلونکي کال پورې اړوند ده، دغه پیسې د ربحې د حاصل په حساب کې کریډېټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي او په حســاب کې د لیږدوونکي پســیف په نوم کریډیټ کیږي او کولای شــو چې په لاندې توګه یې معامله کړو.

**حسابي مجله:** د سود د حاصل لپاره له انتقالی پیسف څخه ۶۰۰۰

| D | د سود حاصل | C |
|---|---|---|
| 2-6000 اتصالي پسیف | | 1-6000 |
| 0 | | 0 |

د انتقالي پســیف تفاوت د دورې په پای کې د پسیف بیلانس شیټ خواته لیږدول کیږي او په نوي کال کې لومړۍ موجودي، لیږدوونکي پسیف ته لیږدول کیږي.

کله چې د انتقالي پســیف د ســود د سر رســید نېټه ډېټ او د سود د حاصل حساب کریډېټ کیږي، د ســود د حاصل تفاوت د همدې دورې د ګټې او زیان حســاب ته انتقالیږي ،ځکه چې د همدې دورې اړوند دي، چی حسابي جمله او د معاملې طرز یې داسې دي:

حسابي جمله

انتقالي پسیف ته دسود له حاصل څخه ۶۰۰۰ افغاني

| D | د ربح حاصل | C |
|---|---|---|
| S,6000<br>په ګټه اوزیان | | 3-6000<br>انتقالي پیسف |
| 6000 | | 6000 |

| D | د انتقالی پسیف مخکې موندي عواید | C |
|---|---|---|
| 3-6000<br>د ربح له حاصل څخه | | AB-6000 |

| D | ګټه اوزیان | C |
|---|---|---|
| | | د ربح حاصل 3-6000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مخکې ورکړې (پیش پرداخت) تعدیلې معادلې په لاندې جدول کې په پوره توګه بیانیږي:

**تعدیلي معادلې**

**نا تحصیل شوي عواید**

| D | **ګټه او زیان** | C |
|---|---|---|
| تعدیلي معاملات (+) | | |

**انتقالي پسیف**

| D | **شتمني** | C |
|---|---|---|
| له تعدیل پرته بیلانس | | تعدیلي معاملات (-) |

| D | **عواید** | C |
|---|---|---|
| | | تعدیلي معاملات (+) |

| D | **پورونه** | C |
|---|---|---|
| تعدیلي معاملات (-) | | نه تعدیل شوی بیلانس |

**II تحقــق موندونکي عوایــد او مصــارف (Accrued revenue and expenses) او یا ټول طلبات او ټول پورونه:** دویمه کټګوري د عوایدو تعدیلي معاملي او تحقق موندونکي لګښتونه دي، چې په دې اړه هم دوه ډوله حسابونو د تفکیک وړ دي.

**الــف: تحقیق موندونکي عواید (نور طلبات) accural revenue:** هر کله چې تصدي په یوه دوره کې خپل عواید تر لاسه نکړي؛ نو په محاسبه کې د تحقق موندونکي عوایدو یا د سایر طلبات په نامه درجیږي. لکه د کرایې عواید ، سود اود اسې نور.

ممکــن چــې تحقق موندونکي عواید د وخت د تیریدو له امله زیاتوالی ومومي او یا ممکن د خدماتو د تر سره کولو له امله منځ ته راشي، چې تراوســه پورې نه په لاس راغلي او نه ټول شــوي دي، نوځکه دغه معاملات چې ورځني معاملات ندي، په حساباتوکې نه ثبتیږي.

تعدیلي معاملې د طلباتو د ښکاره کولو مستلزمې دي، چې په بیلانس شیټ کې شتون لري او دغه طلبات د عوایدو د هغې ځانګې ښکارندوی دي چې په حاضره دوره کې نه دي ترسره شوي. تعدیلي معاملې د تحقق موندونکو عوایدو دشــتمنۍ د حساب او دکریډټ زیاتولوپاره د عوایدو په حساب کې تر سره کیږي.

**مثــلاً:** د ۱۳۸۸ کال د میزان په میاشــت کې د اعلانونــو نماینده ګي ۲۰۰۰۰ افغانۍ د اعلانونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدماتــو د تــرسره کولو پــه مقابل کي خپلې کړې دي، اما تراوســه پوري يې پــه نغدي ډول له پيرودونکو څخه نه دي ترلاسه کړې او د ميزان تر۳۰ نيټې يې ترلاسه کوي، خو په حسابونو کې يې د عوايدو په توګه نه درجيږي او معامله يې په لاندې ډول ده.

حسابي جملې

د ټولو طلباتو لپاره د خدماتو له عوايدو څخه ۲۰۰۰۰ افغانۍ

د ليجر دفترونه:

| D | خدماتي عوايد | C |
|---|---|---|
| 20000 په ګټه او زيان | | 1-20000<br>طلباتو ته |

| D | ټول طلبات | C |
|---|---|---|
| 1-20000<br>د خدماتو له ګټې څخه | | 20000<br>د ختم بيلانس |

د ټولو طلباتو د حساب تفاوت د اکټيف بيلانس خواته ليږدول کيږي، ټول طلبات دا ښيي چې نماينده ګي له پيرودونکو څخه په کومه اندازه پور لري.

او پــه نــوي کال (نوې دوره) کې چې کله نماينده ګي د خپلو اعلانونه عوايد په لاس راوړي؛ نو په دې صورت کې حسابي جملې او د ليجر دفترونه کولای شو په لاندې ډول ترتيب کړو.

حسابي جملې

۱- د کسې لپاره له ټولو طلباتو څخه ۲۰۰۰۰ افغانۍ، د ليجر دفترونه يې په لاندي ډول دي.

| D | ټول طلبات | C |
|---|---|---|
| 1-20000 | | 2-20000<br>د کسې لپاره |

| D | کسه | C |
|---|---|---|
| 2-20000<br>له ټولو طلباتو | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**B: تحقق موندونکي لګښــتونه (نور پــوروړي) (ACCURED Expense):** هر کله چې يوه تصدي له خپلو لګښتونو څخه يوه برخه په يوه دوره کې ادا نکړي؛ نو په دې صورت کې د تحقق موندونکــو لګښــتونو او يا د ټولو پوروړو په اړه خبرې کيږي. لکــه د ربح مصارف او د کارګرانو د اجورې او معاش مصارف. تحقق موندونکي مصارف لکه تحقق موندونکي عوايد منځ ته راځي. په حقيقت کې تحقق موندونکي لګښــتونه د يوې کمپنۍ په حســاب کې د يوې بلې کمپنۍ تحقق موندونکي عوايد وي.

**مثلاً:** د يوې کمپنۍ د اعلانونو د نمايندګۍ تحقق موندونکي عوايد، د ۲۰۰۰ افغانيو په لګښت تحقق موندلی او د پيرودونکي په حساب کې چې خدمات يې نه وي ترلاسه کړي، موجود وي.

**دويم مثال:** کله چې يوه تصدي د مالياتو لګښــتونه د ۲۰۰۰ افغانيو په ارزښــت ادا نکړي او د مالياتو محاســبه په نغدي ډول ادا شــوې نه وي، خو بيا هم دغه لګښتونه بايد د همدې دورې د ګټــې او زيان حســاب ته وليږدول شي، ځکه چې د همــدې دورې اړوند دي. همدارنګه د هغو لګښــتونو د پيژندنې لپاره چې د اوســنۍ دورې په لړ کې منځ ته راغــلي مهم دي. د دې معاملې حسابي جملې په لاندې ډول دي:

۱ ـ د مالياتو د لګښتونو لپاره له ټولو پوروړو څخه د تحقق موندونکو لګښتونو ۲۰۰۰ افغانۍ د دې معاملې د ليجر دفترونه په لاندې ډول ترتيبيږي:

| D | د ټولو د اينينو پسيف تحقق موندونکي لګښتونه | C |
|---|---|---|
| | | 1-2000<br>د مالياتو د لګښتونو لپاره |

| D | د مالياتو لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 1-2000<br>تحقق موندونکي لګښتونه | | |

د دغــې تعديــلي معاملې له درج کولو وروســته د پوروړو په نورو حســابونو کې د مالياتو د لګښتونو حساب ډېر شوی کيږي.

د دې تعديلي معاملې له درجولو وروســته د ټولو پوروړ په حســاب کې د مالياتو د مخارجو حساب زيات شوی کيږي.

کله چې تصدي ماليات په نغدي ډول ادا کړي؛ نو په دې صورت کې د دفترونو حســابي جمله

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ترتيبيږي:

**حسابي جمله:** تحقق موندونکي لګښتونه:

**۱ـ ټولو پوروړوته له کسې څخه ۲۰۰۰ افغانۍ**

**تحقق موندونکي لګښتونه**

| D | C |
|---|---|
| 2-2000 له کسې څخه | AB-2000 |
| 0 | 0 |

**کسه**

| D | C |
|---|---|
| AB-10000 | 2-2000<br>د تحقق موندونکو لګښتونو لپاره |
| 0 | 0 |

د عوايــدو لپــاره تعديلي معاملې او تحقق موندونکي لګښــتونه په لاندې جدول کې ښــودل شوي دي.

**تعديلي يا تصفيوي معاملات**

**تحقق موندونکي عوايد euneveR deurccA** — **ټول طلبات**

| D | پورونه | C | D | عوايد | C |
|---|---|---|---|---|---|
| تعديلی معامله ( + ) | | | | | تعديلي معامله ( + ) |

**تحقق موندونکي لګښتونه Accured Revenue** — **ټول پوروړي**

| D | لګښتونه | C | D | پوروړي | C |
|---|---|---|---|---|---|
| تعديلي لګښتونه | | | | | تعديلي معامله ( + ) |

۲- **د معاملاتو د تعديل اړتيا:** لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه، د بدهي او شتمنيو سم او مناسب ثبت، د تعديلي معاملو واقعي راپور او په ټاکلي وخت کې په بيلانس شيټ کې د سرمايې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثبت او همدارنګه د تصدۍ د نتیجې د مناسب تشخیص او تثبیت سربېره ګټې او تاوان په حساب کې (ګټه او تاوان) شـوني کوي، نوبناً دمعاملاتو د تعدیل اړتیا په هره تصدۍ کې د دورې په پای کې یو ضروري او حتمي کار دی، چې باید عملي اوترسره شي.

هغه معاملات چې دکال په جریان کې تعدیل ته اړتیا لري عبارت  دي له:

## وسایل او اثاثیه (supplies)

پــه یــوه تثبیت یا Bussiness کې مختلف لوازم او وســایل کارول کیږي. د بېلګې په توګه یوه اعلانوونکې تصدي ممکن د وســایلو او اشتهاراتي لوازمو لکه د ګراف کاغذونه، ویډیویي فلمونه او د لویو پوســټرونو او داسې نور ووسایلو درلودونکې وي. کله چې وسایل او لوازم تهیه کیږي؛ نو د شــتمنۍ د یوه قلم په توګه ثبتیږي او د فعالیت د تر سره کولو پر مهال یوه برخه په بشــپړه توګه مصرفیږي؛ نو د وسایلو د حساب او د وسایلو د لګښتونو  ترمنځ باید یو مشخص توپیر شتون ولري او لګښتونه، وسایل او لوازم په یوه دوره کې وښودل شي.

مثلاً:  یوه اشــتهاراتي کمپني د سرطان په  ۵ نېټه د ۲۵۰۰۰ افغانیو په ارزښــت اشتهاراتي وسایل اخلي  او  د سرطان په ۳۱ نېټه  د  ۱۰۰۰۰ افغانیو  په ارزښــت اوس هم  وســایل شــتون لري. نو د اثاثیې واقعي لګښتونه  ۱۵۰۰۰ افغانۍ دي،  یعنې ۲۵۰۰۰ـ ۱۰۰۰۰ = ۱۵۰۰۰

حسابي جملې:

د اثاثیې د وسایلو لپاره له کسې څخه ۲۵۰۰۰ افغانۍ.

د وسایلو له لګښتونو څخه  ۱۵۰۰۰ افغانۍ

د لیجر دفترونه یې  په لاندې ډول دي:

| D | د وسایلو لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 2-15000 | | S,15000 |

| D | اشتهاراتي وسایل | C |
|---|---|---|
| 1-25000<br>له  کسې څخه | | د وسایلو لګښتونوته<br>2-15000<br>S,10000<br>موجودی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| D | کسه | C |
|---|---|---|
| AB 40000 | | 1-25000<br>د اختياراتي مسايلو لپاره |

لکه څرنګه چې معامله له تعديل وروسته  ليدل کيږي ، د وسايلو موجودي ۱۰۰۰۰ افغانۍ او د لګښتونو وسايل  ۱۵۰۰۰ افغانۍ دي، په هغه صورت کې چې تعديل نه رامنځته کيږي ، د سرطان د مياشتې لګښتونه کم ليدل کيدل اوددې دورې خالص عوايد د  ۱۵۰۰۰  افغانيو په ارزښت زيات ليدل کيدل او همدارانګه د شـخصي شتمنۍ او  پانګې حساب هم د ۱۵۰۰۰ افغانيو په ارزښت  د سرطان په  ۳۱ نېټه په بيلانس شيټ کې لوړ معلوميدل.

## بيمه Insurance

ډېرې کمپنۍ بېلابېلې بيمې لکه د اورســوزونې بيمه، د ســوداګريز مال د غلا بيمه، د ترافيکي پېښو بيمه او داسې نورې لري.

د بيمې د محافظت مصارف د حق البيمې د مخکې ورکړې په واسطه تشخيص کيږي.

د حــق البيمې موده معمــولاً يوکال يا ډيره وي، هر کله چې يوه کمپنۍ حق البيمه ورکوي، د شــتمني د (بيمې مخکې ورکړې) په حيث هغه ثبتوي او د دورې په پای کې د حســاباتو د تړلو پر مهال اړينه ده، تر څو د بيمې د لګښــتونو د تشــخيص لپاره د بيمې د لګښتونو حساب ډبټ شي، او د بيمې د مخکې ورکړې حساب کريډټ شي.

مثلاً: د سرطان په څلورمه نېټه ۶۰۰۰ افغانۍ د اور لګېدنې حق البيمه ورکوي، د يو کال لپاره د خســارې جبران د سرطان د مياشــتې له لومړۍ نېټې څخه پيليږي او د بيمي مياشتني لګښتونه ۵۰۰ افغانۍ دي چې  د روان کال د ۹ مياشتو لګښتونه  ۴۵۰۰ افغانۍ کيږي.

حسابي جملې  او د دې معاملې د ليجر دفترونه په لاندې ډول دي.

### حسابي جملې:

۱ ـ له کسې څخه د مخکې ورکړې د لګښتونو لپاره  ۶۰۰۰ افغانۍ.

۲ ـ د مخکې ورکړې لګښتونو څخه د بيمې د لګښتونو لپاره  ۴۵۰۰ افغانۍ ( ۹ × ۵۰۰ = ۴۵۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیجر دفترونه:

| D | کسه | C |
|---|---|---|
| AB 40000 | | 1-6000<br>S,34000 |
| 40000 | | 40000 |

| D | د بیمې راتلونکي لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 1-6000 | | 2-4500<br>د ختم بیلانس S,1500 |
| 6000 | | |

| D | د بیمې لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 2-4500 | | S,4500 په ګټه او زیان |
| 4500 | | 4500 |

کله چې تعدیل رامنځته نه شي، د دورې په پای کې ۴۵۰۰ افغانۍ لګښــت کسر او صافه ګټه ۴۵۰۰ افغانۍ ډېره ښــودل کیږي او همداراز په بیلانس کې شــخصي پانګه او شــتمني د ۴۵۰۰ په ارزښت زیاته ښودل کیږي.

ب: د تحقیق موندونکو عواید او مصارفو د معاملو تعدیل ته اړتیا (ټول پوروړي او ټول طلبات)

**۱ـ تحقق موندونکی ســود (Accured Interest)**؛ په یوه تصدۍ کې تحقق موندونکی سود، لــه تصدۍ څخه د باندې اشــخاصو د ګټې یا پانګې اچونــې څخه عبارت دی. چې وخت یې پوره شــوی، خــو تادیه شــوی نه دی. د دې معاملــې د ثبت او تعدیل طرز د لاندې بیلګې په واســطه څرګندیږي:

نماینده ګي د یوه پور ســند چې نســبتاً اوږد مهاله وي، د ۵۰۰۰۰ افغانیو په ارزښــت امضاء کوي، چې د ۱۲٪ د سود نرخ دی. د سود پیسې چې له دې مبلغ څخه حاصلیږي په دریو لاملونو پورې تړلي دي:

۱ ـ د پیسو اسمي ارزښت چې ورکړل شوي.

۲ـ د سود نرخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ د قرض موده

بناً میاشتنی سود په دې مثال کې ۵۰۰ افغانۍ دی، چې په لاندې ډول ارزول کیږي:

| د سود پیسې 500 | = | د تعویض شوې پانګې موده | * | د کلني سود نرخ 12 | * | د اسمي پیسو ارزښت 5000 |
|---|---|---|---|---|---|---|

AF * 12% * 1/12 = 500 AF 50000

او یا $500 = \frac{50000*12*30}{100*360}$ یوه میاشتنۍ ربح

میاشتني سود ۵۰۰ افغانۍ، د دریو میاشتو سود (۵۰۰ × ۳ = ۱۵۰۰) ۱۵۰۰ افغانۍ دی، د یوې میاشـتې په موده کې د وروسـتۍ دورې د تحقق موندونکو لګښـتونو تعدیلي معامله په لاندې ډول ده:

حسابي جملې: د مخکې ورکړې (پیش پرداخت) وړ سود څخه د سود د لګښتونو لپاره (ټول پوروړي ) ۵۰۰ افغانۍ.

د سود د لګښتونو له ټولو پوروړیو څخه ۵۰۰ افغانۍ

| D | د ورکړې وړ سود (ټول پوروړي) | C |
|---|---|---|
| 4/ 31<br>500 | | |

| D | د سود لګښتونه | C |
|---|---|---|
| | | 4 / 31<br>500 له سودڅخه د ورکړې وړ |

د سـود حسـاب، د پورحساب د مخکې ورکړې یو حسـاب دی او د پور د حساب په بدل کې ورڅخه ګټه اخیسـتل کیږی، تر څو په یو طرف کې د سـود یوه اندازه را وښیي او په بل طرف کې پور تشخیص کړي. په دې صورت کې چې تعدیلي معاملې رامنځته شوي نه وي، پورونه او د سود لګښتونه کم ښودل کیږي او له شخصي پانګې او سوچه ګټې څخه ډېر ښودل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تحقق موندونکي معاشات Accured Salaried

د مامورینو د معاشاتو ځینې ډولونه د خدماتو له ترسره کیدو وروسته ادا کیږي.

**د مثـال په ډول:** د اعلانونو (اشـتهارات) پـه نماینده ګۍ کې د کارګرو مـزدوري او معاش د سرطـان د میاشـتې په ۲۸ نېټـه ورکول کیږي او که په جنتری کې ولیـدل شي چې ۳ کاري ورځې د سرطـان په میاشـت کې د مزدورۍ او معاش باقي پاتــې دي او دغه درې ورځې معاش د تحقق موندونکو لګښـتونو په توګه پیژندل کیږي، کـه ورځنی معاش ۲۰۰ افغانۍ وي، د ۶۰۰ افغانیو په ارزښت د کارګرو درې ورځنی معاش په لاندې ډول تعدیلیږي:

**حسـابي صورت:** د مزدورۍ د لګښـتونو لپاره له مخکې ورکړې مزد څخه ټول پوروړي د ۶۰۰ افغانیو په ارزښت.

| D | د ورکړې وړ سود | C |
|---|---|---|
| | | 4 / 31<br>600 |

| D | د سود لګښتونه | C |
|---|---|---|
| 31/4<br>600 | | |

## د محاسبوي پړاوونو کړنلارې

که په دې کې تعدیلي معاملې نه وي رامنځته شـوي، د مزد او معاش د لګښـتونو حسـاب او پورونه په لاندې ۸ پړواونو کې خلاصه کیږي.

د ۶۰۰ افغانیو په ارزښـت کم ښـودل او د شخصي پانګې او سـوچه ګټې حساب ۶۰۰ افغانۍ زیات ښودل.

**۳ ـ مشـکوک طلبات:** د عوایدو او لګښـتونو سمه او مناسـبه پرتله د مشکوکو طلباتو د ثبت مسـئلې د لګښـتونو پـه توګه ده او همدارنګه د طلباتو سـمه ارزونه دا ایجابـوي، تر څو د غیر قابل طلباتو حصول مشـخص او وروسـته دا په اثبات رسـیږي چې د غیر قابل طلباتو فیصدي په کومه اندازه ده او له بله لوري اقتصادي حالت او دطلباتو موده هغه عناصر دي چې د مشکوکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

طلباتوپه تخمين کې رول لري.

د موضــوع دروښــانتيا لپاره فرض کړئ چې مشــکوک طلبات ۱۶۰۰۰ افغانــۍ دي او تعديلي معامله يې په لاندې ډول ده.

| D | د طلباتو استهلاک | C |
|---|---|---|
| 16000 د طلباتو تصحيح | | |

| D | مصحح طلبات | C |
|---|---|---|
| | 16000 د استهلاک طلباتو | |

## د محاسبوي مرحلو طرزالعمل

محاسبوي مرحلې په لاندې اتو مرحلو کې خلاصه کيږي:

**۱ ـ د معاملاتو ژورنال جوړونه:** په عمومي ژورنال کې د معاملاتو ثبت لکه څرنګه چې تاريخي شتمني ده، ثبتيږي.

**۲** ـ د ثبــت شــويو عددونو لېږدول، ډېــرول او کمول له عمومي ژورنــال څخه د هغه اړوندو حسابونو ته د حساباتو د تخفيف په خاطر.

**۳ ـ دآزمايښتي بيلانس تهيه کول:** د حسابونو د زياتولو او کمولو د ثبت تعادل.

**۴ ـ د حســابي دورې د ختمېدو د حســابونو صحيح جوړونه:** د تصحيحاتو د ثبت د موسودې قضيه په عمومي ژورنال کې او حسابونوته د هغه ليږدونه.

**۵ ـ د تصحيح يا تعديل شــوي آزمايښــتي بيلانس تهيه:** د دويم ځل لپاره تهيه کول د زياتونې د ثبتولو تعادل.

**۶ ـ د مالي ګټې او زيان د حساب د تهيې صورت:**

– د عوايدو د حساب صورت د يوې دورې د فعاليت پايلې ښيي.

– د پانګې د حســاب صورت د مالک د حق بدلونونه په شــتمنۍ کې د يوې دورې په جريان کې ښيي.


**۷ ـ د دورې د پای د حســابونو د ترنې او ثبت ليږدول:** د حســابونو ترنه د دې څرګندونه کوی چې د لګښــتونو او عوايدو د حســاب شــخصي برداشــت ثبت ته چمتو اود راتلونکې دورې وقايعوته حسابي کړي او همدارنګه د حسابونو ترل د سوچه ګټې او زيان ليږدول دمالک د پانګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حساب ته لاره اواروي.

**۸ ـ د وروســـتي ازمايښـــت د بيلانس تهيه کول:** په دي مرحله کي ډاډ ترلاســـه کيږي چې د وروستيو حسابونو پاتي شوني د حسابونو له ترړني څخه بيلانس ته ليږدول کيږي .

البته دغه مطلب د ورک شيټ په پاڼه کې يو ځای شوی، چې وروسته به په پشپړ ډول بيان شي. ..




د محاســـبوي کړنلارې پلي کول د يوشرکت د بيلانس له پای ته رســـيدنې څخه په ګټې اخيستنې سره او هغه معاملې چې د حسابي دورې په لړ کې رامنځته کيږي، په لاندې ډول يې په پام کې نيسو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احمد شاکر سوداګریز شرکت پای ته رسېدلی بیلانس په. ............. نېټه

| Passive | Acctive |
|---|---|
| شخصی پانګه 329000<br>تړول پورونه تحقق موندونکي لګښتونه 4000<br>لیږدوونکی پسیف: د لګښتونو مخکی<br>ورکړه 1000<br>داینین 10000 | ثابتې شتمنیې میر<br>100000 تجهیزات<br>ګرځنده شتمني :<br>20000 مال<br>7000 کسه<br>120000 بانکي شتمني<br>2000 د مخکې ورکړې لګښتونه<br>3000 تحقق موندونکي عواید (تړول طلبات) |
| 344000 = 344000 | |

هغه معاملې چې د دورې په لړ کې را منځ ته شوې دي په لاندې ډول دي:

– په تیرکال کې تصدي د بیمې لګښتونه د وړاندینې (پیشکي) په توګه ۲۰۰۰ افغانۍ تادیه کړې وې. چې په نوي کال کې یې نېټه سرته ورسیده.

– په تیر کال کې یو شخص د کرایې له درکه ۳۰۰۰ افغانۍ له تصدي څخه پوروړی وُه په نوي کال کې یي نوموړې پیسې د بانکي لیږدونې په واسطه ترلاسه کوې.

– یـوې تصدی پـه تېر کال کې د خپلې قرضـې ګټه چې له ۱۰۰۰ افغانیـو څخه ډېره وه په پېشکي ډول په لاس راوړه چې په نوي کال کې د هغې موعد پوره شویدی .

– تصدي په تیرکال کې د معاشونو له درکه ۴۰۰۰ زره افغانۍ پوروړې وه چې اوس دغه پیسې د بانکي لیږدونې له لارې ورکوي.

– په نغدي توګه ۱۵۰۰ افغانۍ نغدې مزد ورکول کیږي.

– تصدي ۳۰۰۰ افغانۍ په نغدي توګه کمیشن ترلاسه کوي.

– تصدي په ۱۲۰۰۰ افغانیو په نغدي توګه مال پلوري. .

– د ۱۰۰۰۰ افغانیو په قیمت د امتعې وروستۍ موجودي د موجود عمل په واسطه تثبیت کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پای (اختتامیه) معاملې

– د تهیې له قیمت څخه په غیر مستقیمه توګه ٪ ۱ د تعمیر استهلاک

– په غیر مستقیمه توګه د تهیې له قیمت څخه ٪ ۱ د تجهیزاتو استهلاک.

– هغه مزد چې په پنځمه معامله کې ورکړ شــوی د روان کال د حوت میاشتې پورې اړه لري، چې د راتلونکي کال د ثور ۳۱ نېټې پورې دوام مومي.

– هغه کمیشــن چې په ۶ معامله کې حاصل شــوی د روان کال د دلوې له میاشــتې څخه د راتلونکي کال د جوزا تر ۳۱ نېټې پورې دوام لري.

– یو څوک د کرایې له امله ۵۰۰۰ افغانۍ د تصدۍ پوروړی دی.

– یو څوک د مالیې د نه ورکولو له امله د تصدۍ ۵۰۰ افغانۍ پوروړی دی.

**A: د ژورنال د دفتر تهیه اوترتیب کول:**

| شمېره | نېټه | تفصیلات | l/f | ډبټ | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | 11/29 | د بیمې لګښت | | 2000 | |
| | | له مخکې ورکړې (پیش پرداخت) څخه | | | 2000 |
| | | د مخکې ورکړې نېټه پای ته ورسېده | | | |
| ۲ | 11/29 | بانکي شتمنۍ ته | | 3000 | |
| | | له تحقق موندونکو عوایدو څخه (سایر طلبات) | | | 3000 |
| | | د بانک له لارې د تېر کال کرایه ترلاسه شوه | | | |
| ۳ | 11/29 | د عوایدو وړاندې موندنې (پیش دریافت) ته (پسیف اتصالي) | | 1000 | |
| | | د ربح له حاصل څخه | | | 1000 |
| | | د تصدۍ د ربحې د موندنې نېټه پای ته ورسېده | | | |
| ۴ | 12/5 | تحقق موندونکو لګښتونوته (ټول داینین) | | 4000 | |
| | | له بانک څخه | | | 4000 |
| | | د بانک له لارې د تېر کال د معاشونو ورکول | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | 12/20 | د مزد لګښت ته | | 1500 | |
| | | له کسې ځخه | | | 1500 |
| | | په نغدي توګه مزد ورکړ شو | | | |
| ۶ | 12/25 | کسې ته | | 3000 | |
| | | د ارزونې له حاصل ځخه | | | 3000 |
| | | د کپن حاصل نقد لاسته راغی | | | |
| ۷ | 12/28 | کسې ته | | 12000 | |
| | | د امتعې له پلورنې ځخه | | | 12000 |
| | | په نغدو باندې امتعه وپلورل شوه | | | |

**B: د ليجر دفترونو ته د معاملاتو ليږدول او تجزيه:**

| C | کسه | D |
|---|---|---|
| د لګښت مزد S-15000<br>د پای بيلانس S,20500 | | AB-7000<br>6-3000<br>د کميشن له حاصل ځخه 7-12000<br>د امتعې له پلورنې ځخه |
| 22000 | | 22000 |

| C | بانکي شتمنۍ | D |
|---|---|---|
| نور پوروړي<br>4000-4<br>11000-s<br>د پای بيلانس | | AB 12000<br>2-3000 نور طلبات (غوښتنې) |
| 15000 | | 15000 |

| C | تحقق موندونکي عوايد (نور طلبات) | D |
|---|---|---|
| بانکي شتمنۍ 2-3000<br>0-s | | AB3000 |
| 3000 | | 3000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| D | د اکټیف +لګښتونو مخکې ورکړه | C |
|---|---|---|
| AB-2000 | | د بیمې لګښت ته 2000-1<br>0-s |
| 2000 | | 2000 |

| D | د عوایدو د مخکې ورکړې (پیش پرداخت) انتقالي پسیف | C |
|---|---|---|
| 3- 1000 د ربحې حاصل | | AB-1000<br>S,0 |
| 1000 | | 1000 |

| D | **د امتعې اخیستل** | C |
|---|---|---|
| AB-20000 | | 10000<br>د پلورل شوې امتعې قیمت<br>10000 – S د پای بیلانس |
| 20000 | | 20000 |

| D | **تحقق موندو نکي لګښتونه** | C |
|---|---|---|
| 4-4000<br>له بانک څخه | | AB4000<br>S,0 |
| 4000 | | 4000 |

| D | د امتعې پلورل | C |
|---|---|---|
| 10000<br>د امتعې د اخیستنې قیمت<br>S-8000 د پلورنې حاصل | | 12000 7-<br>کسې ته |
| 12000 | | 12000 |

ربح

| D | تحاصل | C |
|---|---|---|
| S,1000 ګټه او تاوان | | 3-1000<br>انتقالي پسیف |
| 1000 | | 1000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بيمې لګښت**

| D | C |
|---|---|
| 1-2000<br>انتقالي اکټيف | S,2000 |
| 2000 | 2000 |

**د مزد لګښت**

| D | C |
|---|---|
| 5-1500<br>له کسې څخه | ګټه او زيان S-1500 |
| 1500 | 1500 |

**د کميشن حاصل**

| D | C |
|---|---|
| S-3000 ګټه او زيان | 6-3000<br>له کسې څخه |
| 3000 | 3000 |

**تجهيزات**

| D | C |
|---|---|
| AB -100000 | S-100000 د پای بيلانس |
| 100000 | 100000 |

**تعمير**

| D | C |
|---|---|
| AB-200000 | S,200000 |
| 200000 | 200000 |

## ازمايښتي بيلانس (Trail Balance)

ازمايښتي بيلانس د حسابونو لېست او هغه بيلانسونه دي؛ چې په يوه حسابي دوره کې ترتيب کيږي. د ازمايښــتي بيلانس مهم هدف دا دی چې ليجر ته د ژورنال له ليږد وروســته د حســابونو رياضيکي ډېټ او کريډېټ ښــيي همداراز دغه بيلانس هغه غلطۍ او تېر وتنې چې په ژورنال کې ثبت شــوي او ليجر ته ليږدول کيږي، روښــانه کوي او سربېره پردې د مــالي راپور د جوړولو لپاره ګټور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرکت دغو ټکو ته په کتو سره تهیه شوی ازمایښتي بیلانس په لاندې ډول وړاندې کوي:

**د نا تصحیح شوي ازمایښتي بیلانس تهیه او ترتیب.**

| د حسابونو نوم<br>د بیلانس حسابونه | L/Fصفحه لیجر | کریډټي پیسې | ډېټي پیسې |
|---|---|---|---|
| تعمیر | | | 200000 |
| تجهیزات | | | 100000 |
| امتعه | | | 20000 |
| کسه | | | 20500 |
| بانکي شتمني | | | 11000 |
| پانګه | | 329000 | |
| پوروړي | | 10000 | |
| د عوایدو او لګښتونو حسابونه | | | |
| د امتعې پلورل | | 12000 | |
| د ریحې حاصل | | 1000 | |
| د کمیشن حاصل | | 3000 | |
| د بیمې مخارج | | | 2000 |
| د مزد مخارج | | | 1500 |
| **مجموعه** | | 345000 | 345000 |

**D: د معاملاتو تعدیل او پای ته رسونه:**

د تعمیر استهلاک ٪ ۱ په غیر مستقیم ډول د ثبت د میتود د تهیه کولو له میتود څخه.

د تعمیر قیمت ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ

٪ ۱ د استهلاک فیصدي

$$\frac{200000.1}{100} = 2000AF$$ = د تعمیر د استهلاک سلنه

د استهلاک پیسې په لاندې توګه اړوندو حسابونو کې درج کیږي:

**حسابي صورت:** د استهلاک له مصحح څخه د استهلاک مخارجوته ۲۰۰۰ افغانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

| C | د تعمیر د استهلاک مصحح | D |
|---|---|---|
| 29/12<br>2000 د تعمیر د<br>استهلاک مخارج | | S-2000<br>د پای بیلانس |
| 2000 | | 2000 |

| C | د تعمیر د استهلاک مخارج | D |
|---|---|---|
| S-2000<br>په گټه او زیان کې | | 21/12<br>2000 د تعمیر تصحیح |
| 2000 | | 2000 |

B: د تجهیزاتو استهلاک ٪۱ د تهیې له قیمت څخه د ارزونې میتود په غیر مستقیم ډول سره.

د تجهیزاتو د تهیي قیمت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ.

د استهلاک فیصدي ٪۱

$$\frac{100000.1}{100} = 1000\,AF$$ د تجهیزاوتو د استهلاک فیصدي

اړوندو حسابونو کې د استهلاک پیسې په لاندې ډول درج کیږي:

- په حسابي صورت کې د ژورنال دفتر: د تجهیزاتو له استهلاک څخه د مخارجو استهلاک ته ۱۰۰۰ افغانۍ.

**د لیجر دفترونه:**

| C | د تجهیزاتو د مصحح استهلاک | D |
|---|---|---|
| د تعمیر استهلاک 1000 | | S-1000 |
| 1000 | | 1000 |

| C | د تعمیر مخارج استهلاک | D |
|---|---|---|
| S-1000 | | 1000مصحح تعمیر |
| 1000 | | 1000 |

**C:** هغه مزد چې په پنځمه معامله S کې ۱۵۰۰ افغانۍ پرداخت شوی ؤ د روان کال د حوت دمیاشتې څخه د راتلونکي کال د غويي د میاشتې تر ۳۱ پورې دوام لري.

دغه معامله په لاندې ډول تعدیل او په اړوندو دفترونو کې درج کیږي:

| تفصیلات | C | D |
|---|---|---|
| د لگښت مخکې ورکړې (پیش پرداخت)<br>ته (انتقالي اکتیف)<br>د مزد له مخارجو | 1000 | 1000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د اکتیف لګښت مخکې ورکړه (پیش پرداخت C | D |
|---|---|
| S,1000 | 29/12<br>C-1000<br>د مزد له مخارج څخه |
| 1000 | 1000 |

| C د مزد مخارج | D |
|---|---|
| C-1000 له اتصالی<br>اکتیف څخه ګټې او<br>تاوان ته S-500 | 29/12<br>S-15000 |
| 1500 | 1500 |

**D:** هغه کمیشـــن چې په شـــپېړمه معامله کې ۳۰۰۰ افغانی حاصل شوی ؤ د جاري کال د د ســـلواغې اوکب په میاشـــتو پورې اړه لري او د راتلونکي کال د غبرګولي میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې دوام کوي، چې دغه معامله په لاندې ډول ده:

**په حسابي حالت کې:** د مخکې ورکړې عواید ( اتصالي پسیف ) د کمیشن حاصل ته ۱۸۰۰ افغانۍ.

| C د حاصل کمیشن | D |
|---|---|
| 6-3000<br>له کسې نه | D-1800 د حاصل<br>کمیشن څخه<br>S-Fi 1200 په ګټه<br>او زیان کې |
| 3000 | 3000 |

| د عوایدو مخکې ورکړه انتقالي پسیف C | D |
|---|---|
| D- 1800<br>د حاصل کمیشن ته | S-1800<br>د پای بیلانس |
| 1800 | 1800 |

**E:** یوڅـــوک د کرایـــې له امله ۵۰۰ افغانۍ د تصدۍ پـــوروړي دی، چې دغه معامله په لاندې ډول په اړوندو حسابونو کې درج کیږي:

**په حســـابي حالت کې:** تحقق موندونکو عوایدو ته (نورې غوښـــتنې) د کرایې له حاصل څخه ۵۰۰۰ افغانۍ.

| تفصیلات | C | D |
|---|---|---|
| تحقق موندونکو عوایدو ته<br>د کرایې له حاصل څخه نورو<br>غوښتنوته | 5000 | 5000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| C | د کرایې له حاصل څخه | D |
|---|---|---|
| E-5000 | 29/12<br>S-5000<br>په ګټه او زیان | |
| 5000 | 5000 | |

| C | د نورو غوښتنو تحقق موندونکي عواید | D |
|---|---|---|
| 29/12<br>S-5000 د ختم بیلانس | E-5000<br>د کرایې له حاصل څخه | |
| 5000 | 5000 | |

**F:** تصدي د مالیاتو د نه ورکولو له امله ۵۰۰ افغانۍ پوروړی ده، دغه معامله په لاندې ډول تعدیل شوې او په اړوندو حسابونه کې درج کیږي.

**حسابي حالت:** د مالیې مخارجوته له تحقق موندونکو لګښتونو څخه ( نورو پورونو ته )

| C | د نورو پوروړو تحقق موندونکي لګښتونه | D |
|---|---|---|
| 29/12<br>F-500<br>د مالیې لګښتونه | S-500<br>د ختم بیلانس | |
| 500 | 500 | |

| C | د مالیې لګښتونه | D |
|---|---|---|
| S-500<br>په ګټه او زیان | F-500<br>29/12<br>نورو پوروړو ته | |
| 500 | 500 | |

دغه معاملې چې وروســته ازمایښتي بیلانس او وورک شیت ته وړل کیږي، په لاندې شکل په حسابونو کې درج کیږي:

**D:** په یووالي (توحیدي) ډول له تعدیل وروسته ژورنال ته د معاملاتو اندراج (تصحیح)

| د حسابونو نوم | ډبټ | کریډټ |
|---|---|---|
| A د تعمیر د استهلاک مخارجوته د تعمیر<br>د استهلاک مصحح | 2000 | 2000 |
| B د تجهیزاتو د استهلاک مخارج<br>د تجهیزاتو د استهلاک تصحیح | 1000 | 1000 |
| C-د لګښتونو مخکې ورکړه ( اکتیف انتقالي)<br>د مزد مخارج | 1000 | 1000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| 1800 | 1800 | D: د کمیشن حاصل ته<br>د عوایدو له مخکې ورکړې څخه (پسیف انتقال ) |
| 5000 | 5000 | E: تحقق موندونکي عواید (نورې غوښتنې)<br>د کرایې له حاصل څخه |
| 500 | 500 | F: د مالیې له مخارجو څخه<br>د تحقق موندونکو عوایدو څخه (نور پورونو) |

دغه تعدیل شـوې معاملې د ورک شیټ د تعدیلاتو ستونونو ته لیږدول کیږي ، هغه حسابونه چې د تعدیلي معاملاتو له امله اغیزمن شـوي، مخکیني ازمایښـتي بیلانس کې شتون نه لري او د ازمایښـتي بیلانس سـتونونه په کې درج کیږي او وروسـته له هغه څخه د تعدیلاتو ستونونه درج کیږي او متوازن حالت غوره کوي.

## E: تعدیل شوي آزمیښتي بیلانس (Adjusting Trail Balance)

وروسته له هغه چې ټولې تعدیل شوې معاملې په ژورنال او لیجرکې ثبت شي، یوبل آزمایښتي بیلانس ترتیبیږي ،چې هغه د تعدیل شـوي آزمایښـتي بیلانس په نامه یادیږي. دغه آزمایښـتي بیلانس د ټولو حسابونو د ارقامو بیلانسونو په ګډون هغه بیلانسونه چې د دورې په لړ کې تعدیل شـوي، ښـیي. د دې آزمایښتي بیلانس د ترتیب موخه دا ده، چې د ټولو هغو مالي معاملاتو اغیزې وښیي چې په مالي دوره کې منځ ته راغلي او یا څرګندې شوې وي.

د شرکت آزمایښتي بیلانس په لاندې بڼه ترتیبیږي:

دغه آزمایښتي بیلانس د شرکت له لوري په۲۹\۱۲ تاریخ تصحیح کړل شوی.

| D | C | Life | د حسابونو نوم |
|---|---|---|---|
| 200000 | | | تعمیر |
| 100000 | | | تجهیزات |
| 10000 | | | امتعه |
| 20500 | | | کسه |
| 11000 | | | بانکي شتمني |
| 1000 | | | د انتقالي اکتیف دمصارفو مخکې ورکړه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| تحقق موندونکي عواید او ټولې غوښتنې (طلبات) | | | 5000 |
| پانګه | | 329000 | |
| د انتقالي پسیف د عوایدو مخکي ورکړه | | 1800 | |
| د ټولو پوروړو  تحقق موندونکي لګښتونه | | 500 | |
| پوروړي | | 10000 | |
| د تجهیزاتو او تعمیر د استهلاک مصحح | | 3000 | |
| د عوایدو او لګښتونو حسابونه | | | |
| دپلورني حاصل | | 2000 | |
| د سود حاصل | | 1000 | |
| دکرایې حاصل | | 5000 | |
| د کمیشن حاصل | | 1200 | |
| د بیمې مخارج | | | 2000 |
| د مالیې مخارج | | | 500 |
| د مزد مخارج | | | 500 |
| د تجهیزاتو او تعمیر د استهلاک مخارج | | | 3000 |

### ۱. د حساباتو تړل (closing)

هغه پروسه چې په عمومي ډول د موقتي حسابونو (Tomporang) لپاره د مالي دورې په پای کې پکار اچول کیږي، د حســابونو د پروسې د تړنې تر عنوان لاندې یادیږي. دغه پروسه حسابونه د راتلونکې دورې لپاره آماده کوي.

په دې پروسه کې د ټولو عوایدو اومصارفو د حسابونو بیلانس (د ګټې او تاوان اقلام) یوه جلا انتقالي حساب ته چې د سوچه پایلې د حساب په نامه یادیږي، لیږدول کیږي.

دغــه حســاب د مــالي دورې پــه پای کې ترتیبیــږي. په دې حســاب کــې د دورې عواید او لګښــتونه یــو د بل په مقابــل کې راوړل کیږي او هغه ســوچه پایله چــې د دورې ګټه اوزیان شــيي، استخراجیږي. وروسته بیا د شخصي پانګې حساب ته چې په انفرادي او تضامني شکل په تصدیوکې شتون لري او یا د نه ویشل شوې ګټې حساب ته په سهامي شرکتونو کې لیږدول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شرکت د عوایدو او لګښـتونو حسـابونه چې مخکې ترتیب شـوي دي کیدای شي په لاندې ډول د ګټې اوتاوان حساب ته انتقال او د تصدي سوچه پایله استخراج شي.

| C | د ګټې او زیان حساب | D |
|---|---|---|
| د کرایې حاصل 5000 | | 2000 د تعمیراتو د استهلاک مخارج |
| د کمیشن حاصل 1200 | | 1000 د تجهیزاتو د استهلاک مخارج |
| د سود حاصل 1000 | | 2000 د بیمې مخارج |
| د پلورنې حاصل 2000 | | 500 د مزد مخارج |
| | | 500 د مالیې مخارج |
| | | S-3200 سوچه ګټه |
| 9200 | | 9200 |

| C | شخصي پانګه | D |
|---|---|---|
| AB-32900 | | S-332200 |
| 3200 ګټه | | |
| 332200 | | 332200 |

| P | شرکت<br>د ۱۳۸۷ د حوت د ۲۹ بیلانس شیټ | | A |
|---|---|---|---|
| شخصي پانګه | 332200 | | ثابتې شتمنۍ: |
| د مصارفو د مخکې ورکړې انتقالي پسیف | 1800 | 200000 | تعمیر |
| د ټولو داینینو تحقق موندونکي مصارف | 500 | 100000 | تجهیزات |
| داینین | 10000 | | ګرځنده شتمني |
| د تعمیر د استهلاک مصحیح | 2000 | 11000 | بانک |
| د تجهیزاتو د استهلاک مصحیح | 1000 | 10000 | امتعه |
| | | 20500 | کسه |
| | | 5000 | تحقق موندونکي عواید (نورطلبات) |
| | | 1000 | د مخکې ورکړې مصارف (انتقالي اکټیف) |
| | 347500 | 347500 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وورک شيټ (WORK SHEET)

حســابي چارې د حسابي دورې په پای کې دا ايجابوي، ترڅو آزمايښتي بيلانس، پای موندونکې معاملې، مالي صورت حساب او د ګټې او زيان حساب تهيه او ترتيب شي.

له دې امله چې د يوې دورې د پای په معاملو کې ډېر جزيات مطرح وي، نو ځکه غلطي هم په ډېرې اسانۍ سره رامنځته کيږي ، يا هرکله چې دغه غلطۍ او تېروتنې په ژورنال اوپه حسابي دفاترو کې تصحيح نشي، نو وروسته د قناعت وړ پايله په لاس نشي راتلای.

ژورنال او ليجر دواړه د دايمي ثبت اســناد دي، چې ممکن هغه د لاس يا کمپيوټر په واســطه ترتيب شي، له طريقو څخه يوه طريقه چې په اسنادو کې د تېروتنو د ثبت مخنيوی کوي د وورک شيټ ترتيب کول دي.

د حسابي دورې په پای کې د ورک شيټ په لاسي محاسبوي سيستم کې يوه پاڼه ده، چې د لسو ســتونو درلودونکې ده، چې په لاندې شــکل کې ښودل شوې ده. د حسابي دورې پای د ټولو اړينو ارقامو د درج او تنظيم په موخه د کار د آســانتيا په خاطر طرحه شــوی دی. د ورک شــيټ ستنې په لاندې ډول دي:

- د نه تصحيح شوي آزمايښتي بيلانس لپاره ستنې.
- د معاملاتو د تعديل ستنې.
- د تصحيح شوي آزمايښتي بيلانس ستنې.
- د مالي حسابونو ستنې ( ګټه اوتاوان )
- د بيلانس شيټ ستنې.

ورک شــيټ د بيلانس شــيټ د ګټې او زيان د حســاب په بدل کې نه اســتعماليږي، بلکې د معلوماتو د ويشنې او راټولونې غير رسمي سند او لاره ده، چې د تصدي د مالي حسابونو د جوړولو لپاره ورڅخه ګټه اخيستل کيږي.

د تصدي لپاره د ارزونې د پاڼې جوړونې يو ډاډ، د سمې محاسبې په زمينه کې او يا د حسابونو تهيه له اضافي جزياتو سره وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم څپرکي لنډيز

۱- د تعديلي معاملاتو لپاره د اړتيا په هکله څرګندونې:

د تعديلي معاملاتو ټاکنه ځکه ضروري ده، چې د عوايدو او مخارجو سمه مقايسه د وخت د يوې دورې په لړکي ترسره شــوې، نو دهغې دورې پايله بايد په ســمې طريقې سره وارزول شي او له بل لوري د حسابي دورې بيلانس شيټ بايد دقيق او سم وي.

۲ ـ د محاسبوي پړاوونو کړنلاره:

مهم او اساسي محاسبوي پړاوونه د تعدلي معاملاتو په پام کې نيولو سره عبارت دي له:

۱ ـ د معاملاتو تشخيص او اندازه کول .

۲ ـ په ژورنال کې د معاملاتو ثبت .

۳ ـ ليجر ته د معاملاتو ليږل .

۴ـ له تعديل څخه وړاندې آزمايښتي بيلانس.

۵ ـ تعديلي معاملات.

۶ ـ له ترتيب او تعديل وروسته د آزمايښتی بيلانس.

۷ـ د مالي حسابونو تهيه کول.

۸ ـ د کال په پای کې د حسابونو تړل.

۳- د ارزونې يا د ورک شيټ پاڼې تهيه کول چې د ۱۰ ستونونو درلودونکي وي.

د لومړي بيلانس لپاره ( نه تعديل شــوي ، تعديلي معاملات ، دويم آزميښــتي بيلانس (تعديل شوي ) دګټې اوزيان حساب او بيلانس شيټ جلا ستني لري.

دتصدۍ له دې پاڼې څخه کيدای شي ټولې هغه معاملې چې د مالي حسابونو لپاره ضرور دي، تر لاسه شي.

دا پاڼه د محاسبې يوه غير رسمي لاره ده، چې دکار د آسانتيا لپاره ورڅخه ګټه اخيستل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څلورم څپرکي پوښتنې

**لومړنۍ پوښتنې:**

د جوزا په میاشت کې په یو طبي خدماتي شرکت کې لاندې معاملې ترسره شوي:

د جوزا په لومړۍ نېټه

دغه طبي شرکت خپل فعالیت د ۲۰۰۰۰ افغانیو په سرمایه پیلوي.

د جوزا په دویمه، د دفتر د تجهیزاتو اخیستل د ۱۷۲۸۰ افغانیو په ارزښت په پور.

د جوزا په څلورمه د کرایې ادا کول د فعالیت د ځای لپاره د ۶۸ افغانیو په ارزښت.

د غبرګولي په پنځمه د اثاثیې پیرودل د ۹۱۱۲ نغدو افغانیو په ارزښت.

د جوزا په اتمه د ناروغانو لپاره د ۱۹۶۰ نغدې افغانۍ تر لاسه کول.

د جوزا په لسمه د دفتر د لګښتونو ورکړه په نغدي ډول د ۴۳۰ افغانیو په ارزښت.

د جوزا په څوارلسمه د پیسو د بیل ادا کول د ناروغانو له لوري د طبي خدماتو لپاره د ۵۱۲۰ افغانیو په ارزښت.

د جوزا په اتلسمه د یوه استونکي د پور ورکونه د ۳۶۰۰ افغانیو په ارزښت.

د جوزا په نولسمه شخصي پرداخت یا ادا کول ۳۰۰۰ افغانۍ.

د جوزا په شلمه د هغو د لګښتونو اداکول په نغدي ډول.

معاشات د ۱۴۰۰ افغانیو په ارزښت.

د دفتر متفرقه لګښتونه ۳۳۰ افغانۍ

A: د ژورنال په دفتر کې معاملې ثبتې کړئ.

B: پورتنۍ معاملې په اړوندو لیجرونوکې ثبتې کړئ

C: آزمايښتي بیلانس ترتیب کړئ

**دویم تمرین:**

په لاندې ډول د شرکت ازمايښتي بیلانس وړاندې کیږي:

د احمد شرکت د حوت د یویشتمې آزمايښتي بیلانس

| د حسابونو نوم | D | C |
|---|---|---|
| کسه | 1500 | |
| غوښتنې (طلبات) | 13000 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| د مشکوکوغوښتنو (طلباتو) لپاره تخصیص | | 1100 |
| څمکه | 35000 | |
| تعمیر | 120000 | |
| د تجهیزاتو لپاره راتلونکي فرسایش | | 38400 |
| د مخکې ورکړې بیمي حق | 150000 | |
| د پانګې اچونې برخه | | 70000 |
| بهرني | 9000 | |
| عواید | | 400000 |
| د جنس له لارې عواید | | 82000 |
| د کرايې عواید | | 200000 |
| دعامه خدمتونو لګښتونه | 54000 | 8100 |
| د معاشاتومصارف | 80000 | 15400 |
| د ساتنې اوڅارنې لګښتونه | 24000 | |
| مجموع | 815000 | 815000 |

الف: د دې آزمايښتی بیلانس اقلام لیجرته ولیږئ؟

ب: د پورتني آزمایښتي بیلانس د ورکړل شویو معلوماتو په پام کې نیولو سره دکلنیو تصفیوي معاملاتو لاندیني معلومات ترتیب او په لیجر کی یی ثبت کړئ؟

۱ ـ له تعمیر څخه زموږ د ګټې موده پرته له پاتې ارزښت څخه ۲۵ کاله وړاندوینه (پیشبیني) شوې ده. د فرسایشاتو په ارزولو کې مستقیم خطي میتود په پام کې نیول شوی دی؟

۲ ـ کلني تجهیزات ۱٪ فرسایش کیږي؟

۳ ـ بیمه چی دکال په لړ کې یې می

عاد پوره شوی دی بالغ پر ۳۵۰۰ افغانیو دی؟

۴ ـ هغه عواید چې د کرايې له لارې لاسته راغلي دي د ۱۱ میاشتو اړوند دي او د حوت د میاشتې کرایه تر اوسه پورې لاس ته نه ده راغلې؟

۵ ـ داسې تخمین کیږي چې ۱۵٪ طلبات غیر قابل حصول دي؟

۶ ـ پاتې معاشونه ۳۶۰۰ افغاني پر شرکت باندې پر اوښتي دي، چې تراوسه پورې نه دي ورکړل شوي؟

۷ ـ شرکت خپلو غړو ته د ۸۹۰۰ افغانیو په ارزښت پیسې رسوي.

۸ ـ تصفیه شوی ازمایښتي بیلانس ترتیب کړئ؟

۹ ـ د ګټې او زیان حساب مالي حسابات او بیلانس شیټ ترتیب کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د ګټې او زیان حساب

**ټولیزه موخه:**

د تصدۍ د نتیجې د تثبیت د عمده وسیلې په توګه له ګټې او تاوان څخه د استفادې طرز او ترتیب.

**د زده کــړې موخـــې:** د دغه څپرکي په پای کې محصلیـــن وتوانیږي چې په دې فصل کې لاندې مهم مطالب زده کړي:

- د ګټې او زیان د حساب ګټه او محدودیتونه وپیژني.
- د ګټې او زیان د حساب د یو مرحله ییز او څو مرحله ییز ترتیب په طرز باندې وپوهیږي.
- د ګټې او زیان له حساب څخه په ګټې اخیستلو وپوهیږي.

### د ګټې او زیان حساب او د هغو اړوند معلومات

**د ګټې او زیان حســـاب:** د ګټې او زیان حســـاب چې اکثراً د حاصلاتو او مخارجو د پور په نامه یادیږي، هغه حساب دی چې په یوه معینه حسابي دوره کې د یوې تصدي د فعالیتونو بریالیتوب او نـــه بریالیتـــوب څرګندوي. د پانګې اچونې تصدي او ډېر بنســـټونه له دې حســـابه د ګټې له تشـــخیص، د پانګې اچونې له ارزښـــت اود هغوی مالي اسبابو له ارزښت څخه چې په پور اخیستل شـــوي، ګټه اخلي. دغه حساب د پانګې اچوونکو او پور ورکوونکو لپاره یوه مرستندویه وسیله ده او هغوی کولای شي، د دغه مبلغ پربنســـټ د راتلونکي نغدي جریان د ډاډ ګیرنې او نه ډاډګیرنې په اړه وړاندوینه (پیش بیني) وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ګټې او زیان د حساب ګټې:

دغه حســاب د هغو کســانو لپاره چې د يوې تصدۍ يا شرکت مالي راپورجوړوي، د راتلونکي نغدي جريان د وړاندوينې په اړه مرسته کوي.

**د مثــال په توګه:** پانګه اچوونکي او کريديــت ورکونکي له هغو معلوماتو څخه چې د ګټې اوزيان په حساب کې شتون لري ، په لاندې پړاوونو کې ګټه اخلي.

**۱ ـ د تصدي د تيرو فعاليتونو ارزونه:** دګټې اوزيان په حســاب کې د عوايدو او لګښــتونو د مطالعې په واسطه ويلای شو چې په تيرمهال کې يوې تصد ۍ يا يوې کمپنۍ څرنګه فعاليت ترسره کړی او همدارنګه کولای شو چې د هغوی فعاليتونه د هغوي له سيالانوسره پرتله کړو.

**۲ ـ د تصــدي د راتلونکــو کړنــو د وړاندوينې بنســټ:** د تصدۍ د تيرمهــال د کړنو په اړه د معلوماتو ترلاســه کول کيدای شي د تصدۍ د راتلونکو فعاليتونو د سرته رســولو لپاره يوه غوره لار وي. خو په تير وخت کې سل فيصده د تصدۍ بريالیتوب په دې معنی نه دی، چې تصدي به په راتلونکي کې هم بریالیتوب ترلاســه کوي. هغه وخت کيدای شي دغه وړاندوينه د ډاډ وړ نه وي او د راتلونکي دورې عوايد، حاصلات او نغدی جريان په ښه اوسم ډول سره وړاندوينه شي، چې د تيرې او راتلونکې دورې په اړه يوه نږدې اړيکه د اجراأتو ترمنځ شتون ولري.

**۳- د تصــدۍ د نغدي جريان په اړه د ډاډ د نه شــتون او ګواښــونو د اندازه کولو لپاره مرســتندويه وســيله:** د ګټې او زيان د حســاب د مختلفو اجزاوو لکه عوايد، لګښــتونه، ګټې او زيان په اړه د معلوماتو ترلاســه کول، لــه يوه لوري د هغوي اړيکې له يوه بل سره پياوړې کوي او له بل لوري په راتلونکي کې د نغدي جريان يوه ټاکلي حجم ته د نه رســيدلو د خطر (ريســک) ارزونه کوي.

**د مثال په ډول:** د تحليل او تجربې په واسطه د عايداتي سرچينو په هکله د يوې تصدۍ اجراأت ،چې موقتاً د تصدۍ په واک کي قرار لري، ډېر ګټور دي. ځکه چې خپله اجراأت معمولاً د عوايدو د تحليل لپاره يو مهم دليل تلقي کيږي.

نــو ځکــه د مداومو اجراأتو پايلــې اکثراً د راتلونکو اجراأتو د پيشــبينۍ لپاره نســبت موقتي اجراأتوتــه، د ډېــر اهميــت وړ دي. لنډه دا هغه معلومات چې د ګټې او ضرر په حســاب کې د عوايدو لګښتونه د ګټې او زيان په اړه يې يادونه کيږي. د تصدي د مخکې اجراأتو د ارزونې لپاره بی اهميته نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ګټې اوضرر د حسابونو محدودیتونه

په دې خاطر چې ســوچه ګټه یو ډول وي او ګڼ شــمیر فرضیاتو ته انعکاس ورکړي؛ نو ځکه د ګټې او زیان له حســاب څخه ګټه اخیســتونکی باید له دغو محدودیتونو څخه ګټه واخلي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱ ـ هغه اقلام چې د اندازې وړ نه دي، په دې حساب کې په پام کې نه نیول کیږي.

د ګټې او زیان شــکل چې فعلاً ترګټې اخیســتنې  لاندې راځي، له هغو اقلاموڅخه دی، چې د لاسته راوړنو په تعین او تشخیص کې رول لري ، ممانعت کوي.  سربیره پردې چې دغه اقلام د یوې تصدۍ پر اجراأتو باندې د پام  وړ اغیزه اچوي.

**د مثال په توګه:**  هغه ګټې او زیانونه چې د درک وړ ندي ، مثلاً د یوې تصدۍ ارزښت د ګټې او زیان په حســاب کې نه ثبتیږي.  خو په ځانګړي توګه  کله چې د هغه  ارزښــت په بدلون کې ډاډ شــتون ونه لري ، سربیره پر دې ډېریو کمپنیو لکه ( Microsoft , cisso system ) دېروالی د پیرونکو د خدمتونو د مارک له نښــان څخه د تولیداتو ښــه جنسیت تجربه کړي دی. چې فعلاً یو عمومي روش د داسې ارزښتونو د تشخیص لپاره انکشاف ندی کړی اونه منځ ته راغلی.

۲ ـ د هغې ګټې اندازه چې د مختلفو محاسبوي میتودونو په واسطه پکار وړل کیږي ، اغیزمنه کیږي.

**د مثال په توګه:** یو کمپنۍ د خپلو ثابتو شــتمنیو د فرســایش لپاره د فرسایش له نزولي طریقې څخه ګټه اخلي، خو یوه بله کمپنۍ د فرســایش له خطي فر ســایش څخه ګټه اخلي ، فرض کړئ نور ټول فکتورونه ثابت یا مســاوي دي، د لومړۍ کمپنۍ ګټه لږه یا وی سربیره پردې چې کمپنۍ مشابهه وي.

۳ ـ  لاسته راتلل د اندازه کولو یا د نفسي قضاوتونو په ګټه کي هم رول لري.

**د مثال په توګه:**  یوه کمپنۍ د خپلې شتمنۍ اقتصادي عمر ۲۰ کاله اټکلوي، پداسې حال کې چې نورې کمپنۍ د داسې شتمنیو لپاره اقتصادي عمر ۱۵ کاله په نظر کې نیسي.  یا په بل عبارت، یوه کمپنۍ د خپل غیر قابل حصول مستردي او پورونو لپاره د یوښه پیغام فکرک وي، چې هغه د لګښتونو د کمښت او په ګټه او زیان کې د عوایدو د زیاتوالي لامل ګرځي .

په لنډه توګه ویلي شــو هغه ټول محدودیتونه ، لګښــتونه،  لاســته راوړني او زیانونه چې منځ ته راځي او دغه معاملات دګټې او زیان په حســاب کی خلاصه کیږي، د ګټې او اندازه کولو دغه میتودونه د معاملاتي طریقې په نامه یادیږي.

ځکه چې هدف ګټه ده چې زیاتره په فعالیت متکي وي  او د یوې دورې په لړکې څرګندیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګټــه کیدای شي په نورو شــکلونو کې صنف بنــدي شي.  مثلاً د پیرودونکو په واســطه د تولیداتو اشکال، وظایف، عملیات، له عملیات نه پرته، مداوم او غیر مداوم، منظم او غیر منظم او نور.

د ګټې او زیان په حساب پورې تړلې اقلام چې تشکیل یې عمده عنصرونه تر سره کوي، رسمي تعریفات یې په لاندې ډول دي.

**عواید Revenue:** د یوې تصدۍ د شــتمنیو زیاتوالی، یا داجناسو د تولیداتو انتقال له مخې  د یوې دورې په جریان کې د پورونو ادا کول، مخکې ترسره شــوي خدموتونه ،یا نور هغه فعالیتونه چې د عمده عملیاتو د تشکیلولو لامل شي د عوایدو په نوم یادیږي.

**لګښــتونهExpenses: د** سیالو وســیلو وتل (خروج) او یا د شتمنیو استعمال او د هغو پورونو منځ ته راتلل، چې د تولیداتو او اجناســو د انتقال له مخې پیرودونکو ته ورکول کیږي، د لګښتونو پــه نــوم یادیږي. همدارنګه  هغه خدمتونه چې تصدي مخکې تر لاســه کړي او د پورونو په توګه شتون ولري او یا د ځینو نورو لګښتونو منل چې د فعالیتونو د ترسره کولو له لارې د تصدي د نورو کارونو د پرمخ وړلو لپاره ترسره کیږي، هم د تصدۍ د لګښتونو په ډله کې شامل دي.

**حاصــلات gains:** پــه پانګه کې زیاتوالی، چې د  تصــدۍ د فرعي معاملاتو په ترڅ کې چې د تولید د پروسې اړوند وي د حاصلاتو په نوم یادیږي.

هغه ګټه چې ونډه والو ته ورکول کیږی او د منل شوو لګښتونو له امله  منځ ته راځي په دې حاصلاتو کې شامله نه ده (بیطرفه مخارج).

**مخارج ( Losses:** هغه کم والی چې په ســوچه پانګه کې د  تصدي د فرعي معاملاتو له امله منځ ته راځي، مخارج ورته ویل کیږي. یعنې هغه زیانونه چې د تصدۍ د پروسې اړوند نه وي او د معاملاتو له امله منځته راغلي وي.

**د بېطرفه عوایدو مخارج ډېر شکلونه لري چې په لاندې ډول دي:**

د پلورنې عواید، فیس ، د ســود عواید، توزیع شــوي ګټه ، د کرایې عواید. همدارنګه لګښتونه هم بېلابیل ډولونه لري لکه د هغو اجناســو لګښــت چې پلورل کیږي، سود، فرسایشات،  د مزد او معاش او کارکوونکو کرایه د تصدي او مالیاتو پرسونل.

مخــارج او حاصلات هم بېلابېل ډولونه لري. مثلاً د پلورنې لــه لارې  عواید، پانګه اچونه،  د  ثابتو شتمنیو پلورل، د پورونو د اداکولو  له لارې مخارج، د زړښت او غلاکیدو له امله د شتمنیو له منځه تلل.

د ډېرو متشــبیثینو او تصمیم نیوونکو لپاره یوه ځانګه له دې اقلامو څخه چې د ګټې او زیان په حساب کې یې انعکاس موندلې، د ټولو حسابونو په پرتله مهمه او ګټوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لکــه:** پانګه اچونکي او پور  ورکوونکي علاقه لرى، تر څو د همدي اقلامو پربنســټ د تصدي د راتلونکــي په هکله د دقت او د ډاډ د نه شــتون وړاندوینه وکــړي؛ نو ځکه خو د ګټې او زیان د حســاب پــه هکله د مفصلــو معلوماتو درلودل  له تصمیم نیوونکي سره مرســته کوي، تر څو د راتلونکي نغدی جریان او همدارنګه د تصدي را تلونکي عواید په ښه او دقیق ډول سره ارزیابي او وړاندینه (پیش بینی) یې وکړي.

**۱-  د ګټې او زیان یو پړاویز حساب:** د عوایدو په اړه د راپور ورکول، لګښتونه او د یوې تصدۍ حاصلات او مخارج په پراخه توګه د  حســاب له  ګټې او زیان څخه ګټه اخلي، په دې شــکل کې د ګټې او زیان حســاب کې یواځې دوه ګروپه عناصر شــتون لري چې له عوایدو او مخارجو څخه عبارت دي.

لګښــتونه د عوایــدو له مجموعې څخه منفي کیــږي او د تصدۍ ګټه او تاوان په لا س راځي، د یــوه مرحلــه ییز معنی دا ده، چې په یــو ځل منفي کولو سره د تصدۍ په پایله کې ګټه او زیان لاسته راځي.

همدارنګــه د خالصــې ګټې پر عایداتو باندې مالیات د لګښــتونو د وروســتي قلم په توګه په حساب کې راوړل کیږي.

د  ۱ ـ ۲  په دغه شکل  کې، د ګټې او زیان له حساب  څخه ډېره ګټه اخیستل کیږي. که  څه هم په وروستیو څو مرحله ییزو مثالونوکې د ګټې او تاوان حساب ته ډېر پام کیږی، خو بیا د یوې مرحله ییزې ګټې او زیان حساب د آسانوالي له امله چې یواځې عواید او لګښتونه بیانوي ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.

**۱-  ۲-د ګټې او زیان څو پړاویز حســاب:** ځینې خلک ادعا لري، چې د عوایدو او لګښــتونو د نورو اجراآتو د ارقامو شاملول د ګټې او ضرر حساب نور هم ګټور  او روښانه کوي، چې دغه اضافي ویشنه عبارت ده له:

**الف:  د یوې کمپنۍ د عملیاتي او غیر عملیاتي فعالیتونو جلاکول:** د مثال په توګه: تصدي ډېرى وخت دخپلو علمي فعالیتونو څخه ګټه اخلي او وروســته یوه بله څانګه د عوایدو او حاصلاتو په نامه او په همدې ډول دګټې او ضرر په حساب کې د تولید له پروسې څخه د باندې د مخارجو او لګښــتونو یادونه کوي، چې دغه جلا  کتګوري د عوایدو او لګښــتونو د سود له عوایدو، د متفرقه اقلامو د پلورنې  له لارې حاصلات او خسارات له توزیع شوې ګټې او داسې نورو څخه عبارت ده.

**ب:  د دندو له مخې د لګښتونو ډلبندي:** د مال التجاره لګښتونه، د تولید شویو اجناسولګښتونه، د پلورنې لګښــتونه، اداري لګښــتونه او داســې نور.  دغه صنف بندي د اوسنۍ  دورې د مقایسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره او په همدې ډول د لګښتونو د مقایسه کولو او نورو څانګو لپاره ډېر اهمیت لري.

| د شرکت نوم<br>د ګټې او زیان حساب<br>2002کال – د دسمبر 31 | |
|---|---|
| **عواید:** | |
| سوچه پلورنه | 2972413 |
| د توزیع شوې ګټې له لارې عواید | 98500 |
| د کرایې له لوري عواید | 72910 |
| ټول عواید | 3143823 |
| **لګښتونه:** | |
| د تولیدشوو اجناسولګښتونه | 1982541 |
| د پلورنې لګښتونه | 453028 |
| د سود لګښتونه | 126060 |
| اداري لګښتونه | 350771 |
| دمالیاتو لګښتونه پرعایداتو | 66934 |
| ټول لګښتونه | 2979334 |
| سوچه ګټه | 164489 |

په همدې اساس ویلی شو چې د عوایدو او لګښتونو د لا ډېرې ډلبندۍ لپاره د څو مرحله ییزې ګټې او زیان له حسابه ګټه اخیستل کیږي. دغه حساب یا راپور عملیاتي او غیر عملیاتي معاملې په جلا ډول ښیي او همداراز د عوایدو اړوند لګښتونه تر مقایسې لاندې نیسي او له بلې خوا د ګټې او ضرر د حساب دغه شکل د ګټې مشخصي برخې چې د محاسبې لپاره هغه نسبتونه چې د فعالیتونو د ارزونې لپاره او د تصدۍ د اجراآتو لپاره پکار وړل کیږي، برجسته کوي. د ۲ـ۲ شکل

**د مثال په ډول:** د ۲ـ۲ په شکل کې څرګنده شوې چې د دورې سوچه ګټو ته د رسېدلو لپاره درې پړاوونه ضروري دي:

**لومړی پړاو:** د پلورنې د خالصو عوایدو له لاسته راوړنې څخه عبارت ده.

**دویم:** د ناخالصې ګټې لاسته راوړل.

**درېیم:** د دورې د سوچه ګټې ارزول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلورنې د خالصو عوایدو ارزول ډېر اهمیت لري، ځکه چې د تصدۍ منظم او عادي عواید د جـلا اقلامــو په بڼه په پام کې نیول کیږی او نامنظم او فرعي عواید په یوه بل ځای کې په ګټه او زیان کې محاسبه کیږي، چې په دې حالت کې د عوایدو میلان چې د تصدۍ د روانو فعالیتونو له لارې لاس ته راځي، چې په آسانه بڼه د درک او فهم وړ دي.

همدا ډول د ناخالصې ګټې ارزول د راتلونکو اجراآتو د ارزونې او د راتلونکو لاسته راوړنو لپاره ګټور دي، د هغه په واســطه کیدای شي ثابته شي چې یوه تصدي پخپل لاس کې د شــته منابعو په استعمال کې څومره بریالۍ ده.

بلاخــره د تصدۍ د عملیــاتي یا فعالیاتي ګټې ارزول د منظمو او غیر منظمو یا فرعي فعالیتونو تر منځ توپیر برجسته کوي.

همدارنګــه د عملیاتي ارزونــې د اغیزمنتیا لپــاره د مختلفو کمپنیو ترمنځ یــو محک یا معیار رامنځته کوي.

د ګټې او زیان څو مرحله ییز حساب په ۲ـ۲ شکل کې په لاندې ډول څرګند شوی دی.

۲-۲ شکل

**د شرکت نوم**

**د ګټې او زیان حساب**

**د دسامبر 31 کال 2002**

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پلورنې عواید | | | |
| پلورنې | | | 3053081 |
| د پلورنې تنزیل | | 24241 | |
| دپلورل شویو مالونو مسترد کول | | 56427 | 80668 |
| د پلورنې خالص عواید | | | 2972413 |
| د پلورل شویو اجناسو لګښتونه | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د 2002 کال د جنوري میاشتې د لومړۍ نېټې موجودې زېرمې | | 461219 | |
| د کال په جریان کې پیرودل | 1989693 | | |
| د لیرونکي تنزیل | 19270 | | |
| سوچه پیرودنه | 1970423 | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| د مالونو د لېږد رالېږد لګښتونه | 40612 | 2011035 | |
| د سوداګرۍ ټول مال چې د پلورنې وړدی | | 2472254 | |
| د سوداګریزو مالونو زېرمې د 2002 د ډسمبر په وروستیو کې | | 489713 | |
| د پلورل شویو اجناسو لګښتونه | | | 1982541 |
| د پلورنې نا خالصه ګټه | | | 989872 |
| د عملیاتي تولید لګښتونه | | | |
| د پلورنې د څانګې لګښتونه | | | |
| د پلورنې د څانګې د معاشاتو د لګښتونو او پلورنې کمیشن | 202644 | | |
| د پلورنو د دفتر معاشونه | 59200 | | |
| سفریه او تفریحي لګښتونه | 48940 | | |
| داشتهاراتو( اعلانونو) لګښتونه | 38315 | | |
| د مالونو لیږدول د ترانسپورتیشن لګښتونه | 41209 | | |
| د لیږد رالیږد او د تهیې لګښتونه | 24712 | | |
| د قرطاسیې لګښتونه | | | |
| د تجهیزاتو د فرسایش اوپلورنې وسایل | 9005 | | |
| دتیلفون او انټرنیټ لګښتونه | 12215 | | |
| اداري لګښتونه | | | |
| د دفترونو معاشات | 186000 | | |
| د اداري کارکوونکو معاشونه | 61200 | | |
| د قانوني او مسلکي خدمتونو لګښت | 23721 | | |
| متفرقه لګښتونه | 23275 | | |
| د بیمې لګښتونه | 18059 | | |
| د تعمیر فرسایش | 16000 | | |
| د دفتري تجهیزاتو فرسایش | 2875 | | |
| د قرطاسیې لګښتونه او د دفتر لوازم | 2612 | 350771 | 803799 |
| د تصدي (شرکت) د فعالیتونو له لارې لاسته راوړنه | | | 186073 |
| ټول عواید اولاس ته راوړنې | | | |
| د اسهامو د پیرودنې له لارې عواید | | 98500 | |
| د اجارې عواید | | 72910 | 171410 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ټول لګښتونه او زیانونه | | | 357483 |
| د قیمتی پاڼو سود او متوسط المدت پور | | | 126060 |
| په لاسته راوړنه (درامد) باندې د مالیاتو تروضع کېدو مخکې لاسته راوړنه | | | 231423 |
| په لاسته راوړنه باندې مالیات | | | 66934 |
| د دورې سوچه لاسته راوړنه | | | 164489 |
| ګټه د فی ونډې (سهم) لپاره | | | $ 1.74 |

## د ګټې او زیان څومرحله ییز حساب

د ګټې او ضرر دغه شکل نسبتاً ساده او آسانه دی او له دغه شکل څخه په عمل کې ډېره ګټه اخیستل کیږي او د مالي راپور د تهیې له امله په دې شکل کې، عنصرونه په دوه ډوله عوایدو او لګښتونو ویشل کیږي.

**۱.د ګټې او زیان څو مرحله ییز حساب:** د ګټې او زیان حساب په دې شکل کې، عواید او لګښتونه صنف بندي کیږي او د عملیاتي او غیر عملیاتي معاملاتو راپور په جلا ډول ښودل کیږي او همدا ډول د عوایدو اړوند مصارف تر مقایسې لاندې نیسي.

## د ګټې او ضرر د حساب برخې

کله چې څو مرحله ییزه ګټه او زیان تر ګټې لاندې نیول کیږي؛ نو باید د هغه ټولې څانګې د هغه د فرعي څانګو په ګډون په پام کې و نیول شي.

## عملیاتي څانګه

د عوایدو او لګښتونو هغه راپورونه چې د تصدۍ د منظمو فعالیتونو له امله منځته راځي د لاندې اجرااتو درلودونکي دي:

**۱ ـ د پلورنو یا عوایدو څانګه:** فرعي څانګه ده چې پلورنې، د پلورنې تنزیل، مستردي (او داسې نور معلومات چې د پلورنو اړوند دي) شامل دي. د دې څانګې موخه د پلورنې سوچه عوایدو ته رسېدل دي.

**۲ ـ د تولید شوو جنسونو د لګښت څانګه:** دا هم یوه فرعي څانګه ده چې د پلورل شویو اجناسو لګښت ښیي او د عوایدو د پیدا کېدو لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳ ـ د پلـــور د لګښـــت ځانګــه:** دا هم یوه فرعي ځانګه ده چې د لګښـــت ټــول اقلام په کې شاملیږي ، چې تصدي د پلورنو په خاطر هغه ترسره کوي.

**۴ ـ د اداري لګښت ځانګه (عمومي):** دغه ځانګه ټول اداري لګښتونه ښیي.

**۲.غیر عملیاتي ځانګه:** دغه ځانګه هغه عواید ښــیي چې د تصدۍ د اضافي یا فرعي فعالیتونو په نتیجه کې را منځ شوې وي. په دې ځانګه کې هغه فوق العاده عواید او لګښتونه چې په یوه تصــدي کــې په غیر معمولي یا غیر عادي ډول را منځ ته کیږي، شــاملیږي او په دوو فرعي ځانګو ویشل کیږي.

A- **غیـــر منظـــم عواید او حاصلات:** پــه دې ځانګه کې ټول هغه عوایـــد او حاصلات چې د تصدۍ د اضافي فعالیتونو له لارې لاسته راځي، ثبتیږي.

B- **غیر منظم لګښــتونه او زیانونه:** په دې ځانګه کې هغه ټول لګښــتونه او زیانونه چې د تصدۍ د غیر منظمو یا اضافي فعالیتونو له لارې رامنځته کیږي، شامل دي.

**۳.پر عایداتو باندې مالیات:** په دې ځانګه کې د مالیې لګښــتونه چې د دولت لخوا له عاید څخه اخیستل کیږي، ښودل کیږی.

**۴.د دوام پرته د عملیاتو ځانګه:** هغه لاسته راوړنې یا زیانونه چې د سوداګرۍ د یوې ځانګې د بدلون له امله رامنځته کیږي، په دې ځانګه کې شامل دي.

**۵. د اضــافي یا فوق العاده اقلامو ځانګــه:** غیرمعمول زیانونه یا حاصلات او ځانګړي مواد په دې ځانګه کې شامل دي .

**۶.هغه اضافه اغیزې چې د محاسبوي پرنسیپ د بدلون له امله رامنځ ته کیږي.**

**۷.د فی ونډې (سهم) لپاره لاسته راوړنه (د فی سهم عاید)**

د ۱ ـ ۲ـ ۳ـ ۷ ځانګې د ۲ ـ ۲ په شــکل کې د ګټې او زیان په حســاب کې ښــودل شوي دي. سره له دې چې د ګټې او زیان د عملیاتي ځانګې محتویات په هر وخت کې سره ورته وي، خو د خامو موادو تهیه کوونکې کمپنۍ دې ته اړې نه دي، چې د ګټې او ضرر د حســاب له دغه ډول څخــه کار واخلي. د ګټې او ضرر د حســاب دغه ډول یوازې د تولیــدي او تجارتي کمپنیو لپاره د ګټې اخیستنې وړ دی.

معملــولاً مالي راپور چې د دربیم ګړي وګړو لپاره وړاندې کیږي د تصدۍ دننه د مالي راپور په پرتله مختصر او لنډوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ګټې او ضرر خلاصه شوی (مختصر) حساب

په ځینو پړاوونو کې د ګټې او زیان د یو مرحله ییز حساب په واسطه د یوې تصدۍ د لګښتونو بشپړ بیانول امکان نه لري.

دغه ســتونزه کېدای شي د ګټې او ضرر په حساب کې په مجموعي ډول سره د هرې څانګې د لګښت په وړاندي کولو سره حل شي، چې په دې صورت کې د ګټې او ضرر حساب په ډېره مختصره توګه وړاندي کيږي. همداراز د هغوکســانو لپاره د ګټې اخیســتنې وړ ګرځي، چې د ټولو عملياتي اقلامو او شمیرو د معلوماتو د ترلاسه کولو علاقه ولري.

هغوی کولای شي مجموعي لګښت ته پام وکړي چې په حقیقت کې د هرې څانګې د لګښت استازیتوب کوي، د ګټې او د ضرر د حساب دغه ډول په ۳ ـ ۲ شکل کې ښودل شوی دی. سره له دې چې دغه ډول ډېر لنډ دی، خو بیاهم د ګټې او ضرر د حساب له ټولو اقلامو څخه استازیتوب کولای شي.

۳- ۲شکل

د ۲۰۰۲ کال د د سامبر د ۳۱ نېټې د ګټې او ضرر حساب

| | | |
|---|---|---|
| سوچه پلورنې ........................................................ | | 2972413 |
| د پلورل شويو اجناسو لګښت ........................................................ | | 1982541 |
| ناخالصه ګټه ........................................................ | | 989872 |
| د پلور لګښت ........................................................ | | 453028 |
| اداري لګښت ........................................................ | 350771 | 803799 |
| د عملیاتو عواید........................................................ | | 186073 |
| اضافي عواید او حاصلات ........................................................ | | 171410 |
| مجموعه ........................................................ | | 357483 |
| اضافي لګښتونه او زیانونه ........................................................ | | 126060 |
| د مالیاتو له وضع کیدو څخه مخکې لاسته راوړنه ........................................................ | | 231423 |
| پر لاسته راغلو (درامد) باندې مالیات........................................................ | | 66934 |
| سوچه کلنۍ لاسته راوړنه ........................................................ | | 164489 |
| د هرې برخې ګټه ........................................................ | | 1 .74 $ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي لنډیز

د ګټې او ضرر حســاب یو نتیجوي حســاب دی، چې د یوې تصدۍ د فعالیتونو د کامیابۍ او ناکامۍ په یوه ټاکلې حسابي دوره کې څرګند او روښانه وي او د ګټو او محدودیتونو لرونکی وي.

د ګټې او ضرر د حساب ګټې دا دي، چې د تصدۍ له مالکانو یا منیجرانو سره مرسته کوي. ترڅو د تصدي تېر فعالیتونه ارزیابي کړي او د تصدۍ د راتلونکو توپیرونو د اجرااتو اساس وړاندې کړي.

**د حســاب محدودیتونــه عبارت دي لــه:** هغه اقلام چې د اندازه کولــو قابلیت نه لري خو د تصدۍ په اجرااتو باندې د پام وړ اغیزه لري، په دې حساب کې په پام کې نیول کیږي.

د ګټې او زیان د حساب په اړه د ګټې او زیان د حساب د اصطلاحاتو زده کول اړین دي.

عواید

لګښتونه

حاصلات

مخارج

د ګټې اوزیان حساب، کولای شو په لاندې دوه ډولونو ترتیب کړو:

**۲ ـ د ګټې او زیان یومرحله ییز حساب:**

د ګټې او ضرر دغه ډول نســبتاً ســاده او آســانه دی او په عمل کې ورځخه ډېره ګټه اخیستل کیــږي، د مــالي راپور د چمتو کولو لپاره په دغه ډول کې عنصرونه او د لګښــت د عوایدو ګروپ ویشل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي پوښتنې

**لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ !**

۱- د ګټې او زیان حساب د کومو حسابونو له جملې څخه دی او کوم مطالب څرګندوي؟

۲- پانګــه اچوونکــي او کریډټ ورکوونکي د ګټې او زیان له حســاب څخه په کومو مرحلو کې ګټه اخلي؟

۳- ایا په تېر وخت کې د یوې تصدي موقعیت د تصدۍ راتلونکي لپاره تضمین کولای شي؟

۴- د ګټې او ضرر د حساب د اهمیت په هکله مطالب څرګند او روښانه کړئ؟

۵- آیــا کېدای شي د یوې تصدي ټول ارزښــتونه (د تصدي ګټې او ضررونه) د ګټې او ضرر په حساب کې درج شي؟

۶- ایا کولای شو د تصدۍ ټول ارزښتونه (ګټې او زیانونه) د ګټې په حساب کې درج کړو؟

۷- آیا ځاني او نفسي قضاوتونه او همداراز محاسبوي میتودونه کولای شي، چې د ګټې او زیان حساب تر اغیز لاندې راولي؟

۸- معاملاتي طریقه د ګټې او زیان په حساب کې کوم مطلب وړاندې کوي؟

۹- د ګټې او ضرر د حساب د کره انځورونو نومونه واخلئ؟

۱۰- د عوایدو او لګښتونو د اشکالو نومونه واخلئ؟

۱۱- د ګټې او زیان د یو مرحله ییز حساب طرز بیان کړئ؟

۱۲- د ګټې او ضرر د څو مرحله ییزو حساب د ترتیب طرز بیان کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

## بیلانس شیټ

## Balance sheet Statement of Cash Flows

**ټولیزه موخه:**

د تصدۍ د حسابي وسایلو په توګه د نغدي جریان حساب او همداراز د بیلانس شیټ د ترتیب طریقه.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین وتوانیږي چې:

- د تصدۍ د بیلانس شیټ جوړښت تعریف او په هغه رڼا واچوي.
- د بیلانس شیټ ګټې او محدودیتونه روښانه کړي.
- د تصدي دبیلانس شیټ تهیه او ترتیب.

### بیلانس شیټ او د نغدي جریان حساب

### Balance sheet Statement of Cash Flows

بیلانس شـیټ چې ځینې وختونه د تصدۍ د مالي وضعې د حسـاب پـه نامه یادیږي، په یوه معینه دوره کې د شرکت د ونډه لرونکو شتمنۍ او پورونه په بشپړه توګه وړاندې کوي.

بیلانس شیټ په تصدۍ کې د شتمنۍ نغدي پیسې، د تمویل منابع، د پوروړو په مقابل کې د تصدۍ ژمنې او د شخصي پانګې په اړه بشپړ معلومات بیانوي. بناءً ویلای شو چې بیلانس شیټ د راتلونکي نغدي جریان په اړه د وړاندوینې یوه مهمه وسیله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بیلانس شیټ ګټې او محدودیتونه

**الــف: د بیلانس شــیټ ګټې:** لکه څرنګــه مو چې مخکې یادونه وکړه چې بیلانس شــیټ د شتمنۍ د پورونو او د ونډه لرونکو د سهم په اړه بشپړ معلومات وړاندې کوی، نو بناًء ویلای شو چې بیلانس شــیټ دیوې تصدۍ د شتمنۍ د جوړونې ارزونه او د تصدۍ د پایلو د محاسبې لپاره یو ښه بنسټ وړاندې کوي.

همداراز کولای شو د بیلانس شیټ په واسطه هغه ګواښونه چې تصدي ورسره مخ ده، وڅیړو او د راتلونکي نغدي جریان په هکله معلومات ترلاسه کړو، نوځکه ویلای شو چې بیلانس شیټ د سیالیت  د تحلیل او د مالي وضعیت لپاره یوه ګټوره وسیله ده.

Liquidity  یــا د پــولي کیدنې وړتیا پــه هغه وخت پورې اړه لري، چې په هغه کې شــتمني نغــدي بڼــه غوره کړي یا پــه نغدی ډول بدله شي او یا په هغه کــې د تصدۍ پورونه د دویم ځل لپاره  ورسول شي.

پور ورکوونکی  liquidity د لنډې مودې سره علاقه لري. یا په دې معنا چې په پیسو د بدلیدو وړ ارقــام ، لنــډې مودې ته لومړیتوب ورکوي لکه: نغدې پیســې یا د هغو معادل (چک، وکســل، اسهام او نور)  په دې خاطر چې دغه اقلام د تصدۍ د پور ورکولو توان ښیي.

همــداراز ســهم لرونکي هــم د تصدۍ لــه دې وړتیا سره خپلــه لیوالتیا ښــیي، ځکه دوی د Liquidity په واســطه د ګټې د ویشــلو وړ برخه پیش بیني کړې او همدارنګه د اســهامو د نوي پیرودلو تصمیم نیولی شي.

پــه عام ډول سره ویلای شــو (هغه تصدي چې د پــولي کېدلو وړتیا یې ډېره وي، د ناکامۍ له خطر سره کمه مخ کیږي.

سیالیت (solvency) د یوې تصدۍ قدرت او توان د هغو پورونو بیا ورکونه چې نېټه یې هم پوره وي، ښــیي. د مثال په ډول که یوه تصدي د اوږد مهاله پورونو ډېره اندازه د خپلې پانګې او شــتمنۍ په پرتله ولري؛ نو د هغې تصدۍ په پرتله چې د دې پورونو اندازه په هغې کې کمه وي د کــم ســیالیت درلودونکې ده. هغــه کمپنۍ او تصدي چې د ډېرو پورونــو درلودونکي وي د نه سیالیت له خطر سره ډېره مخامخ وي، ځکه چې ډېره شتمني د ثابتو پورونو د ورکولو لپاره کاروي او اړتیا ورته لري.

تازه اونوی پور (د پیســو وړتیا ) او ســیالیت د تصدۍ د مالي وضیعت په انعطاف باندې هم منفي اغیزه کوي.

د تصدۍ د مالي وضیعت انعطاف ( Financial Flexibility ) د تصدي د عایدیدو وړتیا د غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

متوقعه ضرورتونو او فرصتونو په مقابل کی ښــيي **لکه:** يوه تصدي زياته پوروړې ده او همداراز نغدې پيســې او داســې سرچينې چې وکولای شي هغه پورونه چې نېټه يې پوره ده او ادايې کړي، محــدودې وي او يا هيڅ شــتون ونلــري، نو په دې حالت کې تصدي مــالي انعطاف پذيري نلري او پاتــې کېــل يې هم په خطــر کې دي. برعکس هغــه تصدي چې د ډېر مــالي انعطاف پذيرۍ درلودونکــې وي، نــو په نامســاعد حالت کې يې د پاتې کيدو چانس ډېــر دی او هم کولای شي د پانګې اچونې له متوقعه ضرورتونو پرته د امکاناتو او فرصتونوڅخه ســود مند شي؛ نو ځکه ويلای شو چې د ډېر مالي انعطاف منونکې تصدي، د ناکامۍ له خطر سره ډېره کمه مخ کيږي.

**B: د بيلانس شيټ محدوديتونه:** د بيلانس شيټ د ګټې اوزيان حساب په څېل منځ کې سره نــږدې دی او يــو له بل سره اړيکه لري، اکثراً هغه محدوديتونه چې د ګټې او زيان حســاب لري، بيلانس شيټ يې هم لري، چې ډېر مهم يې عبارت دي له:

۱ ـ په بيلانس شيټ کي ډېره شتمني او پورونه په لومړني لګښت کې ثبتيږي چې په پايله کې سره له دې چې د بيلانس شيټ معلومات له ځانګړي او خالص اعتبارڅخه برخمن دي، خو بياهم يوه انتقادي موضوع منځ ته راوړي او هغه داچې د بيلانس د اقلامو فعلي ارزښت په بيلانس شيټ کی نه ښودل کيږي.

**د مثال په توګه:** تصدي يوه شــتمني ده چې ممکن له پلورلو څخه وروســته يې ارزښت لوړ شي، چی دغه زياتوالی په بيلانس شيټ کې نه ښودل کيږي، تردې چې شتمني وپلورل شي.

۲ ـ د ځاني پرېکړې او تخمين اټکل د بيلانس په اقلامو کې ډېر وي.

**د مثال په توګه:** يوه تصدي اټکل کوي چې څومره طلبات يا غوښتنې يې د راټولونې يا حصول وړ دي. ياد تعمير او ماشين آلاتو د ګټې اخيستنې موده او يا د پلورل شويو مالونو او د لاسي نورو شيانو د مستردۍ اټکل.

۳ ـ د اقلامو او شتمنيو ډېري ارزښتونه په بيلانس شيټ کې نه ثبتيږي ، په داسې حال کې چې په تجارت کې د هغوی رول او نقش ډېرښکاره دی.

**لکه:** تصدي دکاريګرو او کارکوونکو مهارتونه خصوصاً په کمپيوټر کې چې په اوسني عصر کې ورڅخه زياته ګټه اخيســتل کيږي، په دې خاطر چې د دا ډول اقلامو د اندازه کولو، معنوي (ياغير مادي) ارزښتونه ستونزمن دي. بناً په بيلانس شيټ کې نه ښودل کيږي.

لکه د ډېرو پيرودونکو درلودل د څيړنې اهميت او د يوې تصدۍ شهرت او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بیلانس شیټ د اقلامو ویشل

د بیلانس اقلام له دې امله ویشل کیږي، چې ورته اقلام په یوه ځانګه او یا یوه ګروپ کې ځای ونیسي، تر څو په جلا توګه د هغوی د راټولولو امکان رامنځته شي.

(FASB) یا د مالي محاسبې استندرد بورډ تل په دې ټینګار کړی چې د بیلانس اقلام په ګروپي بڼه د مجموعي ډول د وړاندې کولو په پرتله ډېر اوبشپړ معلومات وړاندي کوي.

د ویشـلو په واسـطه اقـلام په جلا توګه وړاندې کیـږي، چې دا کار د پیسـو د ارزونې او په راتلونکـي مالي جریان کې د دقت او ډاډګیرنــې زمینه برابروي، همداراز د تصدۍ مالي وضیعت د انعطاف وړتیا په دقیق ډول سره تشخیص کیږي.

په طبقو باندې د مالي راپور ویشــل له تحلیل کوونکي سره مرســته کوي، ترڅو هغه اقلام چې مشــابه او یا یو شــان ځانګړتیاوې ولري، وویشي او همداراز هغه اقلام چې مشابه ځانګړتیاوې نه لري په جلا توګه یې په ګروپونو وویشي.

۱ ـ هغه شــتمني چې د مختلفو ځانګړتیاوو درلودونکې وي او یا مختلفې دندې د تصدۍ په فعالیتونوکې ترسره کړي، په جلا اقلامو کې تنظیمیږي.

لکه: د تجارت د مال زېرمې، ځمکې، له حسابونو څخه تجهیزات، ملکیتونه.

۲ ـ هغه شتمني اوپورونه چې د تصدۍ د انعطاف او وړتیا مالي وضیعت بیانوي او د یو ډول مفهوم درولودونکي وي او یا په جلاتوګه وړاندې شي.

مثــال: هغه شــتمني چــې د تصدۍ په فعالیتونــو کې ورڅخه ګټه اخیســتل کیږي، له هغې شتمنۍ څخه چې د پانګونې لپاره ساتل شوې، جلا کیږي.

هغه شتمني چې د پولي کېدو یا نقدي کیدو متفاوتې ځانګړتیاوې لري، په بیلانس شیټ کې د جلا اقلامو په توګه ثبت کیږي، دمثال په توګه:

Cash یا جلا قلم چې د جلا قلم زېرمې دي.

د بیلانس شیټ درې عمومي اقلام عبارت دي له  شتمنۍ، پور او پانګې څخه.

چې په لاندې ډول تعریف کیږي:

**A:  شتمني:**

د راتلونکې دورې ممکنې اقتصادي ګټې چې د یوه مشــخص ارګان یاټولنې په واســطه د تېرو معاملاتو په اثر لاسته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**B: پورونه:**

د درې ګونــو اشــخاصو په وړاندې د يوې تصدۍ هوکړه ليک چــې د تېرې دورې له معاملاتو څخه منځته راځي.

**C: پانګه:**

د يوې تصدۍ د شــتمنيو پاتې ګټه چې له شــتمنيو څخه د پورونو له وضع کېدو وروســته په لاس راځي، دغه اقلام وروسته په نورو فرعي ګرپونو ويشل کيږي.

د ۳ـ۱ شکل د يوه عمومي بيلانس شيټ بڼه وړاندې کوي.

د ۳ـ ۱شکل

بيلانس شيټ

| پورونه او شخصي پانګه | شتمني |
|---|---|
| جاري يا روان پورونه<br>اوږد مهاله پورونه<br>شخصي پانګه<br>د پانګې اسهام<br>سرمايوي رسونې<br>نه تو ضيح شوې ګټه | اوږد مهاله پانګه اچونه<br>د ځمکې ماشين آلات تجهيزات<br>غير مادي شتمنۍ<br>نورې شتمنۍ |

ممکن بيلانس شــيټ په نورو شــکلونو هم وړاندې شي. خو بيا هم له عمده شکل سره زيات فرق نه لري. که د تصدۍ بڼه، انفرادي تصدي يا تضامني شرکتونه وي؛ نو د پانګونې د برخې صنف بندي يې سره فرق لري.

## جاري يا سياره شتمني

په جاري شــتمنۍ کې کســه اونورې هغه شتمنۍ چې د يوکال په موده کې په کسه بدليږي يا پلورل کيږي او يا مصرفيږي، شــاملې دي. په منځني حال د اجناســو او د حاصل شــوو نغدو پيسو ترمنځ د فعاليت دوران چې د توليداتو د پلورنې له درکه چې د همدغو اجناســو اوموادو له امله په لاس راغلي دي.

همداراز د فعاليت دوران له پېسو څخه پيلېږي او په زيرمو ، توليداتو، طلباتو او بيرته په پيسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای ته رســېږي. کله چې په یوه کال کې څو دورې شــتون ولري، یوه کلنه دوره ورته ویل کېږي او که دوره له یوه کاله څخه ډېره وي، په دې صورت کي اوږد مهاله دوره ورته ویل کېږي.

جاري شتمني په بیلانس شیټ کې د پولي کیدلو (نقد نیګی) د خاصیت پر اجناسو باندې ثبتیږي.

## د جاري شتمنیو پنځه عمده قلمونه عبارت دي له

(۱) کسي، (۲) لنډ مهاله پانګه اچونه، (۳) طلبات، (۴) زېرمي ( اقلام، (۵) مخکنی ورکړه (پیش پرداخت). کسه د هغې د ظاهري ارزښت پربنسټ ثبتیږي.

لنډمهالې پانګې اچونې نه د مناسب ارزښت په واسطه قیمت ورکول کیږي او ثبتیږي. طلبات د هغو پیسو په واسطه چې د را ټولونې او یا هم د لاسته راوړنې وړ وي ښکاروندویي کوي.

زیرمــې په کم ارزښــت او یا هم د مارکیټ په قیمت ارزول کیــږي او د مخکې ورکړې (پیش پرداخت) اقلام د هغه لګښت په واسطه ارزښت ګزاري کیږي. که پورتني اقلام په یوه دوره یا یوه کال کې د تغیر وړ نه وي د جاري شتمنۍ ډله کې نه محاسبه کیږي.

**د مثال په توګه:** که کسه د نورو موخو لپاره ذخیره شي یا د تصدي په جاري فعالیتونو او یاهم د تصدي د پورونو په اداکولو کې له هغه څخه ګټه وانه خیستل شي د سیارې یا ګرځنده شتمنۍ له څانګې څخه خارجیږي.

په عمومي ډول سره ویلای شــو، هغه شــتمني چې د یوکال په موده کې یا په یوه دوره کې په پیســو باندې د بدلون وړ نه وي او یاهم د تصدۍ د جاري پورونو په بدل کې ورکړل شي ، نود جاري شتمنیو په ډله کې شمیرل کیږي.

**اما ځینې اســتثناوې شــتون لري لکه:** په هغو اسهامو کې پانګه اچونه چې د عادي شتمنیو له جملــې څخــه دي، یاغیر جاري شــتمني چې د منجمنټ یا د اداري موخو پــورې اړه لري او یا که چیرې تصدي یوه اندازه اسهام او یا قیمتي پاڼې ولري او هغه د اوږدې مودې لپاره وساتي نو باید د سیارې جاري شتنمي له جملې څخه محاسبه نشي.

## کسه یا cash

په کسه کې سکې، بانک نوټونه، چک، نغدي فرسایش او هغه پیسې چې په بانک کې ایښودل شــوې وي او په هر وخت کې پرته له کوم قید څخه د لاس رسي وړ وي، شــاملې دي. معمولاً ټول هغه شــیان چې په بانک کې د امانتونو په توګه وســاتل شي، د کســې له جملې څخه عبارت دي. مثلاً چک او نور ورته امانات چې په هر وخت کې د اخیستنې وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډ مهاله پانګه اچونه

ممکن ځینې کمپنۍ یا تصدۍ په هغو اضافي پیسـو چې د تولیداتو په پروسه کې ورڅخه ګټه اخل ، پانګه اچونه وکړي او کولای شي د نورو کمپنیو اسهام واخلي. دغه پانګه اچونه په لنډه موده کې په نغدو پیسو د بدلون وړ ده، دویم دا چې تصدي کله هم نغدو پیسوته اړتیا ولري دغه اسهام پلورلی شی؛ نو له دې امله د لنډمهالې پانګې اچونې په نوم یادیږي.

**په دې ډول پانګه اچونه کې دوه شرطونه شتون لري:** لومړی دا چې دغه ډول پانګه اچونه د اسـهامو په اخیسـتلو سره په هر وخت کې د پلورنې وړ وي او یا په نغدو پیسو د پلورنې وړ وي، دویم دا چې کله تصدي نغدو پیسو ته اړتیا ولري له دغو اسهامو څخه ګټه اخیستلای شي.

## طلبات

ډېرې تصدۍ خپل تولید شـوي اجناس په پور پلوري، تر څو چې خپل ډېر اجناس وپلوري. د دې ډول پلورنو پایله د طلباتو (غوښتنو) په توګه په محاسبه کې ثبتیږي.

د پـولي ادعاګانـو د طلباتـو د ډولونو اصطـلاح، د نورو ټولو په مقابل کـې، خلک، تصدي او شرکتونه په برکې نیسي. طلبات د ګرځنده یا دوراني شتمنیو یو عمده مبلغ جوړوي.

## زېرمې (ذخایر)

د زېرمو د غوره اندازه کولو لپاره او یا زېرمه شـویو اقلامو ته د ارزښـت ورکولو لپاره د نزولي ارزښت له میتود څخه او یا د (FIFO, LIFO) له میتودونو څخه ګټه اخیستل کیږي.

## مخکنې ورکړل شوي (پیش پرداخت) لګښتونه

دغه لګښـتونه د ګرځنده شـتمنیو له جملې څخه شـمیرل کیږي او عبارت له هغو لګښتونو څخه دي چې مخکې ترسره شوي او پایله یې د یو مالي کال او یا دوره کې ترلاسه کیږي ، ځکه چې دغه لګښـتونه د ګرځنده شـتمنیوله جملې څخه دي. که چیرې ورکړل شوي نه وای، په راتلونکي کال کې د نغدي ورکړې (پیش پرداخت) لامل ګرځي.

**د مثال په توګه:** د بیمې لپاره او یا هم د کرایې او نورو لپاره مخکې ورکړه (پیش پرداخت)

**اوږد مهاله پانګه اچونه:** دغه ډول پانګه اچونه د لاندې شکلونو درلودونکې ده. په اسهامو کې پانګه اچونه د اوږدمهاله قرضې یا پور سـند. په مادي ثابته شـتمنۍ کې پانګه اچونه لکه ځمکه، تعمیر او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پا نکه اچونه په مختلفو اړخونو کې لکه د اســتهلاکي اړخونو قاعدې یا هغه پولي اړخونه چې د دســتګاوو د پرمختګ لپاره په مصرف رســیږي، درلودونکې ده. دغه ډول پانګه اچونه د اوږدې مودي لپاره رامنځته کیږي او د لنډ مهاله پورونو د حصول هیله نشته او له ګرځنده شتمنیو څخه وروسته په بیلانس شیټ کې ثبتیږي.

## ملکیت (ماشین آلات، تجهیزات (ځمکه ثابته شتمني)

دغه شتمني د ګټې اخیستنې اوږده موده لري او د ثابتې شتمنۍ په نوم یادیږي. لکه ځمکه، تعمیرات، تجهیزات، معادن ځینې منزالونه، چې ټول دغه اقلام له ځمکې پرته د فرسایش وړ دي.

په بیلانس شیټ کې د دې شتمنیو فرسایش له پورتنیو اقلامو څخه تر هر قلم لاندې ښکاره کیږي.

## غیر مادي شتمني

دا هغه شــتمني ده چې فزیکي شــتون نلري لکه: پتنت د چاپ حق، شهرت، یوه سوداګریزه علامه او داسې نور.

ټولې دغه شتمنۍ د فرسایش وړ دي، چې د ګټې اخیستنې موده یې ۵ کاله ده.

غیر مادي شــتمنۍ مهمې اقتصادي سرچینې دي. خو ارزښــتونه یې پیچلي دي؛ نو له همدې امله د مالي راپور تحلیل کونکی باید هغې ته پام وکړي او په کمه ورته ونه ګوري.

## متفرقه شتمني

هغه اقلام چې په دې کټګورۍ کې شاملیږي، په عمل کې ډېر دي.

**ځینې له هغو اقلامو څخه عبارت دي له:** د اوږمهاله مخکې ورکړې ( پیش پرداخت) لګښتونه، د ځینو غیر مادي شتمنیو اوږ مهاله طلبات ،اقتصادي اړخ ( وجوه )، د پلورنې لپاره ملکیت او داسې نور.

## جاري پوورنه Current Liabilities :

دا ډول پورنه عبارت له هغو پیسو څخه دي چې په لنډه موده یعني په یوه دوره کې ادا شي.

**لکه:** هغه پورونه چې د اجناســو د حصول او خدمتونو په مقابل کې رســول کیږي مثلاً مالي جاري مزد، لنډ مهاله پور او داسې نور.

هغه پیســې چې د خدمتونو د سرته رســولو او د اجناســو د لیږلو په مقابل کي په وړاندینې (پیشکي) ډول سره ترلاسه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لکه:** د کرایې له لارې عواید، د اشتراک له ا ړخه عواید او داسې نور.

ټول هغه پورونه چې په روانه دوره کې د اداکولو وړ وي.  له اوږد مهاله پورونوڅخه یوه برخه چې په همدې دوره کې رســول کیږي او یا هغه پورونه چې د تجهیزاتو د پیرودلو له اړخه په پور باندې رامنځته کیږي او نور.

پــه بیلانس کې د دې ډول پورونو د ثبت طریقه داســې ده چــې په لومړي سرکې د ربح پور ، وروســته له ربحې پرته پور او بیا لنډمهاله پورونه په ترتیب سره ثبت کیږي. او په دویم  پړاو کې هغه لنډ مهاله پورونه چې د اداکولو وخت یې پوره شوی وی، ثبتیږي.

د جاري پورونو په پرتله د جاري شتمنیو زیاتوالی د فعالیت یا د فعالې پانګې په نامه یادیږي. دغه پانګه د یوې تصدۍ سوچه اونغدې  پیسې  ښیې.

همداراز د تصدۍ د مالي غوښتنې د اداکولو د قدرت ښکاره کوونکې ده.

- **اوږد مهاله پورنه  Long Term Liabilities:** اوږد مهاله پورونه عبارت له هغو پورونو څخه دي، چې په لنډ مهاله جاري دوره کې نه اداکیږي، خو په اوږد مهاله دوره کې د ادا کولو وړ دي.

**لکــه:** د قیمتي پاڼو د خپرولو له لارې پــور ، ربح درلودونکي اوږد مهاله پورونه، ځیني مالیاتي پیسې، اجاره، تقاعد او داسې نور.

اوږد مهاله پورونه چې په جاري دوره کې یې د ادا کولو موده سرته رســیږي، د جاري پورونو په بڼه محاســبه کیږي. البته دا هغه مهال وي، چې په اداکولو کې یې له جاري شــتمنۍ څخه ګټه اخیستل کیږي.

## اوږد مهاله شتمني د لاندې درې شکلونو درلودونکې ده

۱ ـ هغه تعهدات چې په ځانګړو حالتونو کې څرګندیږي، لکه: د قیمتي پاڼو نشرول، اوږدمهاله اجاره، ربح درلودونکي اوږد مهاله پور.

۲ ـ هغه تعهدات چې د تصدۍ له عادي فعالیتونو څخه منځ ته راځي لکه: د ځینې مالیاتو تقاعد.

۳ ـ هغه تعهدات چې د راتلونکو پیښو اړوند دي لکه کرېډیټي او داسې نور.

## شخصي پانګه

شــخصي پانګه چې په ســهامي شرکتونو کې د ســهم لرونکو د پانګې تر عنوان لاندې راځي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلانس شیټ له مهمو او پیچلیو څانګو څخه ده.

شخصي پانګه اکثراً په دریو څانګو ویشل کیږي:

**۱ ـ د پانګې سهم:** د نشرشوو اسهامو اسمي ارزښت.

**۲ ـ پر پانګې باندې اضافي اچونه(پرداخت):** هغه اضافه پیسې چې د دورې د اسهامو پر اسمي ارزښت باندې رامنځته کیږي.

**۳ ـ نه توزیع شوې ګټه: هغه ګټه چې تراوسه پورې ویشل شوې نه ده.**

د پانګې سهم د نشر شوو اسهامو د پیسو په واسطه د شرکت له لوري اندازه کیږي. په پانګه باندې اضافي اچونه (پرداخت) اکثراً د یوه مبلغ په واسطه ښودل کیږي، که څه هم اضافي پانګه او د موادو شــکل وي یا نور اجناس، خو بیا هم یو ټاکلی مبلغ لري. نه توزیع شــوې ګټه هغه پیسې دي، چې په ســهم لرونکو باندې نه توزیع کیږي، بلکې د ځینو اهدافو لپاره د شرکت یا تصدي له لوري ساتل کیږي.

شــخصي پانګه (د ســهم لرونکوپانګه) په ســهامي شرکتونو کې د انفــرادي تصدیو او تضامني شرکتونــو په پرتله فرق لري ، په تضامني شرکتونو کې دایمي پانګه او پانګه اخیســتنه په جلا ډول ښودل کیږي.

په انفرادي تصدیوکې یو ټاکلی مبلغ د شخصي پانګې په نامه شتون لري.

## د بیلانس شیټ شکل

د بیلانس له شکلونوڅخه یو یې چې ورځخه ډیره ګټه اخیستل کیږي، د حسابي شکل په نامه یادیږي. چې شــتمني یې کینې (چپ) خواته لیســت کیږي او پورونه او شــخصي پانګه یې ښۍ خواته لیست کیږي.

د بیلانس شیټ یو بل شکل د راپور ورکوونکي شکل په نامه یادیږي، چې په ۳ـ۳ شکل ښودل شوی دی.

د بیلانس شیټ نور شکلونه هم شتون لري خو ډېره ګټه ورڅخه نه اخیستل کیږي.

**د مثال په توګه:** د بیلانس په ځینو شکلونو کې جاري یا لنډ مهاله پورونه، له جاري یا ګرځنده شتمنۍ څخه وضع کیږي او پایله یې په بیلانس کې د ګټې اخیستنې یا کاري پانګې په نامه ښودل کیږي او یا ټول پورونه د شتمنۍ له مجموعې څخه تفریق کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شرکت نوم**

**بیلانس شیت**

**دسامبر 31 کال 2001**

**جاري شتمني:**

| کسه | | شتمني |
| --- | --- | --- |
| قیمتي پاڼې | | 42485 |
| لنډ مهاله طلبات (غوښتنې) | | 165824 |
| مشکوک طلبات | 1850 | 163979 |
| منځ مهاله طلبات | | 23000 |
| زېرمي | | 489713 |
| اثاثیه | | 9780 |
| مخکې ورکړل شوي (پیش پرداخت) لګښتونه | | 16252 |
| د جاري شتمنۍ مجموعه | | 773959 |
| اوږد مهاله پانګه اچونه | | 87500 |
| **ثابته شتمني** | | |
| ځمکه | | 125000 |
| تعمیرات | | 975800 |
| د تعمیر فرسایش | | 34120 |
| د ثابتې شتمنۍ مجموعه | | 759600 |
| غیر مادي شتمنۍ | | 100000 |
| **د تصدۍ شهرت** | | |
| مجموعي شتمني | | 1720554 $ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

### پورونه او شخصي پانګه (د شریکانو پانګه)

**جاري پورونه**

لنډمهاله پورونه........................................................................................50000

منځ مهاله پورونه......................................................................................197532

مخکې ورکړه (پیش پرداخت)........................................................................ 500

د مالي پور (د ادعا کولو مالیه)......................................................................62520

د ادعا کولو وړ مزد او معاش ........................................................................ 9500

دپیرودونکو امانتونه ......................................................................................420

د جاري پورونو مجموعه............................................................................ 320972

**اوږد مهاله پورونه**

د ۱۲ کلونو لپاره اوږد مهاله پور................................................................ 500000

مجموعي پورونه .......................................................................................820972

**د ګډون والو پانګه**

د اضافي پانګې ورکړه د اسهامو په بڼه د ۳۰۰۰۰ برخو په شمېر چې رویتي ارزښت یې ۱۰ افغانۍ دی.......................................................................................... 30000

۴۰۰۰۰ برخې چې رویتي ارزښت یې یوه افغانۍ دی ۴۰۰۰۰۰ د پانګې اضافي ورکړه د پیسو......................................................................................................... 37500

د تصدۍ نه توزیع شوې ګټه......................................................................... 90082

دپورونو مجموعي او د ګډون والو پانګه........................................................ 1720559

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي لنډيز

**I:  بيلانس شـــيټ:**  بيلانس شـــيټ عبارت له هغه حساب څخه دی چې په يوه تصدۍ کې د پانګـــې اچونې په اړه، د تمويل سرچيني او د پـــور ورکوونکو  په مقابل کې د تصدۍ تعهدات او د شخصي پانګې په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړې، چې د لاندې ګټو او محدوديتونو درلودونکي دي:

**الف:  د بيلانس شـــيټ ګټې:**  بيلانس شـــيټ د تصدۍ د پايلو د محاســـبې او هم د تصدۍ د پانګې، د ســـاختمان د ارزونې لپاره غوره بنســـټ بلل کيږي؛ نو ځکه خو بيلانس شـــيټ د انعطاف منتې د سياليت د تحليل او د تصدۍ د مالي وخت لپاره يوه ښه او غوره وسيله ده.

**ب:  د بيلانس شـــيټ محدوديتونه:**  لکه څرنګه چې  بيلانس شـــيټ د ګټې او زيان له حساب سره ډېرې نږدې اړيکې لري، اکثراً دا دواړو محدوديتونه يو بل ته سره ورته يعنې مشابه دي، چې مهم يې عبارت دي له:

**د شتمنيو ثبت:** په لومړي لګښت سره له دې چې په مارکيټ کې يې قيمت لوړ دی د مشکوکو طلباتو او غير قابل حصول طلباتو په هکله د انفسي عادتونو د پلورونکو د مســـتردۍ تخمين او د فرسايشاتو د سنجولو د مختلفو ميتودونو څخه استفاده او داسې نور چې د بيلانس شيټ حسابونه اغيزمن کوي.

**ويشنه (تقسيم بندي): د بيلانس شيټ د اقلامو ويشل:**

د راپور طبقه بندي (مالي حســـابات) له تحليل کوونکو سره مرسته کوي، تر څو هغه اقلام چې د ورته ځانګړتياوو درلودونکي وي، په يو ګروپ کې تقسيم او کوم چې مشابه يا ورته خصوصيات نلري، په بيل ګروپ تقسيم بندي شي.

په بيلانس شيټ کې، هغه اقلام چې ګروپي بڼه لري نسبتاً ډېر او بشپړ معلومات وړاندې کوي.

لکه:  د متفاوتو ځانګړتياوو درلودونکي دي.

له يو بل څخه په بېلېدونکې په  جلا  اقلامو کې تنظيمېږي.

لکه:  مالي زېرمې، د ځمکې اجاره، تعمير، د ټرانسپورټ وسايل.

د بيلانس شيټ تهيه او ترتيب په عام ډول سره په دوه ډوله رامنځته کيږي:

۱ ـ د بيلانس شـــيټ يو عمومي شـــکل چې د بيلانس په کيڼو ســـتونونو کې د شتمنۍ پيسي او پانګه درجيږي، چې شـــخصي پانګه له پورونوڅخه وروســـته ترتيبيږی او په نورو شـــکلونو کې هم شتون لري، خو ځانګړې ګټه ورڅخه نه اخيستل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د نغدي جريان حساب:**

عبارت له هغه حساب څخه دی چې د تصدي د نغدي ( نغدي لاسته راوړنه اوورکونه ) جريان په هکله مفصل معلومات د يوې دورې په لړ کې تهيه او وړاندي کوي.

که د ګټې او ضرر حساب، بيلانس شيټ او د پانګې حساب درې واړه د دغه نغدي جريان په اړه چې د تصدۍ د معاملاتو د اجرااتو په واســطه منځ، ته راځي معلومات وړاندې کوي. اما دغه معلومات کافي نه دي.

د نغدي جريان حساب خپلو موخو ته د رسيدو په خاطر لاندې راپورونه وړانديزکوي.

۱ ـ په يوه دوره کې د معاملاتو جريان نغدي تاکيد

۲ ـ د پانګې اچونې معاملات.

۳ ـ د تمويل معاملات.

۴ ـ په نغدي جريان کې تغيرات (د نغدي جريان زياتونه).

په عام ډول سره د تصدي نغدو وســايلو د خروج او دخول محتويات. نغدي جريان په حساب کې په لاندې درې برخو ويشل کيږي.

۱ ـ معاملاتي فعاليتونه: هغه فعاليتونه په کې شــامل دي، چې په پايله کي يي خالصه لاســته راوړنه منځته ته راځي.

۲ ـ د پانګې اچونې فعاليتونه: د ثابتو شتمنيو د پيرودنې او پلورنې فعاليت په بر کې نيسي.

**مالي فعاليتوونه**

د تصدۍ د پورونو او شخصي پانګې په هکله د تهيه طرز د نغدي منابعو داستعمال په ارتباط او هم د پورونو د ورکړې يا ادا کولو په اړه معلومات ورکوي .

د دغه حساب ګټه په دې کې ده چې تصدي کولای شي، چې خپل سياليت او انعطاف مننه د مختلفو شرايطو په مقابل کې ارزيابي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي پوښتنې

لاندې پوښتنوته ځواب ورکړئ !

۱ ـ د بیلانس شیټ د عمده اقلامو نومونه واخلئ او توضیح یی کړی؟

۲ ـ یو بیلانس شیټ څرنګه کولای شي چې د تصدۍ سیالیت او انعطاف لپاره یوه وسیله وي؟

۳ ـ غیر مادي شتمني ولې په بیلانس کې نه ښودل کیږي؟

۴ ـ د بیلانس شیټ اقلام د کوم معیار پر بنسټ او ولې طبقه بندي کیږي؟

۵ ـ د بیلانس شیټ ټول محدودیتونه توضیح کړئ؟

۶ ـ د بیلانس شیټ عمومي شکل چې د ډېرې استفادې وړ دی بیان یې کړئ؟

۷ ـ د نغدي جریان حساب ګټه اخیستنه ولې زیاته ده بیان یې کړئ؟

۸ ـ د نغدي جریان حساب موخه څرګنده او روښانه کړئ؟

۹ ـ د معاملاتي فعالیتونو د ډولونو او په تصدۍ کې یې د پایلې د اغیز په هکله معلومات ورکړئ؟

۱۰ ـ د پانګې اچونې فعالیتونه کوم فعالیتونه په برکې نیسي، په هکله یې یوه بېلګه وړاندې کړئ؟

۱۱ـ د تصدۍ د مالي فعالیتونو په اړه لازم توضیحات وړاندې کړئ؟

۱۲ ـ د دغه حساب مزایاوې او ګټې څرګندې او روښانه کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرچينې او اخځليکونه

۱ ـ مالي او اداري حسابداري (ليکونکي پروفيسور ډاګټر حسن)

د دريګل د آلمان د روربوخوم په پوهنتون کې د مالي او اداري حسابدارۍ لپاره د علمي کرسۍ آمر (د چاپ کال ۱۳۸۰ \ ۲۰۰۶ )

۲ ـ د شرکتونو حسابداري- ليکونکی سکينه هما غنميي فرد

۳ ـ د شرکتونو محاسبه- ليکونکی ډاکټر سخي اشرف زی

۴ ـ دولتي حسابداري- ليکونکی حقايقي د اقتصاد پوهنځي استاد کال ۱۳۸۶

۵ ـ د تصدي اقتصاد- ليکونکی ډاکټر محمد انور دوست

۶ ـ د حسابدارۍ او ادارې د انستيټوټ او اقتصاد د پوهنځي د نوټونو لکچر

۷ – همداشـــان له ټولو کتابونو مجلاتو، د ايرن او افغانســـتان چاپ او د بنده له علمي راټولو شويو څخه استفاده شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښــوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپســې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د اداري او حســابدارۍ ځانګې د ښــوونکو په ميړانې او همت سره د اداري او حســابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســتونکو، علاقمندانو، د اداري او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شــاګردانو او د تخنيکي او مســلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښــوونکو او د اداري او حســابدارۍ ځانګې د مســلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مســلکي، تخنيکــي او علمي مطالبــو او مفاهيمو د څرنګوالې په هکلــه خصوصاً د هغوی املايي او انشــايي اشــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې ورکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شــان له ګرانو شــاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســتفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ســتونزې، فقر او وروســته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت

د تعليمي نصاب د پراختيا رياست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**